# سپین

لیکونکی

نور محمد تره کی

د افغانستان د علومو اکاډمي

خپرونه

۱۳۵۷

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00031698 3

خلق

# سپین

PROPERTY OF ACKU
31698

لیکونکی
نور محمد تره کی

د افغانستان د علومو اکاډمي
خپرونه

۱۳۵۷

دچاپ شمیر: شل زره

دوهم چاپ



# ځولنډې خبرې

مونږ ولې تل په خپل مشر ملګري نور محمد تره کي باندې وياړو ؟ مونږ څه عقيده چې لرو دهغې ريالستيك دلايل وجود لري. زمونږ ستر مشر چې دافغانستان دخلکو دموکراتيك ګونـد موسس ، د افغانستان پـه سياسـي تاريخ کښې دځليدونـکي جريدې ، د «خلق» دجريدې موسس ، دافغانستان د دموکراتيك جمهوريت موسس او تر دغو ټولو ړوميى د افغانستان د ليکوالى په جهان کښې دنوي سبک موسس اوخاوندد ى ، هغه سبك چې په افغانستان کښې په خپل پيل سره يې دافغانستان د زيـار ايستـونـکـو دخـلاصـون دلارې وهـل پـيل کـړل . دافغانستان دليکوالى په نهضت کښې دملګري تره کي ابتکار په دې کښې و ، چې دعلمي سوسياليزم له قوانينو سره سم يې دهيواد دخلکو حال په طبقاتي لحاظ راوسپړه.

کله چې دظاهر - داود لرلې کورنۍ ملګرې ترەکي په دې مقصد ترسخت تعقیب لاندې ونیوه چې دافغانستان په اجتماعی ژوندکې ژور انقلابي اثر وانه چوي ملګري تره‌کي خپل دغه ارمان دداسې طبقاتي ادبیاتو په خپرولو سره سرته ورساوه چې دزیار ایستونکو مدافعان یې راوښن کړل ، سیاسي او طبقاتي مبارزو ته یې ورپام کړ او په افغانستان کښې یې دطبقاتي مبارزو د دیرو پراخیدلو او ژوریدلو لپاره لار خلاصه کړله. دده لەدغه شان انقلابي او طبقاتي آثارو څخه یوهم دغه ناول دی چې د «سپین» په‌نامه یې لیکلی دی. ملګري ترەکي خپل دغه طبقاتي اثر په ډیر تکلیف په پټه په هیوادکې چاپ او خپور کړ. «سپین» داستثمارګرو او استثمارکیدونکو ترمنځ مبارزه اوداستثمار کوونکو په خپل منځ کښې تضادونه ډیر ښه ښکاره کړي دي.

«سپین» دځوانانو دطبقاتي شعور په وده کښې ډیر

ستر اثر پیداکړ. هغوي په «سپین» پسې په مینه مینه تږي

گرځیدل. سپین په لاس گرځیده او ډیرو نورو به ورته

انتظار ایسته. سپین دځوانانو صحبتونه تاوده کړي وه

او تل به خبرې وربانديې کیدلې. په تیره بیاد ۱۳۴۳ کال

دجدي له ۱۱ نیټې وروسته، چې په دغه ورځ دافغانستان

دخلکو دموکراتیك گوند جوړ اوملگری ترہ کی دعمومي

منشي په توگه وټاکل شو، سپین دگوند دغړو په روزنه

کښې دملگري تره کي دنورو طبقاتي اوانقلابي آثارو په

شان ډیر پراخه او ژور رول لوبولې دی.

ددې له پاره چې د «سپین» طبقاتي او انقلابي ناول پسې

دافغانستان دخلکو دموکراتیك گوند غړي او د گران

افغانستان په زیار ایستونکو مین اودطبقاتي مبارزو

دلاري فدائیان ځوانان ستري ستومانه گرځي اوله هرې

خولې د دغه پوښتنه کیږي ، نو د افغانستان دعلومو

اکادیمی چې دملگري تره کي، دافغانستان ددموکراتیك

جمهوریت دانقلابي شورا رئیس اوصدراعظم په ابتکار اولار ښوونه جوړه شوی، تصمیم ونیو چې دغه انقلابي ناول یوځل بیا چاپ کړي چې زمونږ دمبارز و ځوانانو دتندي دخه ناخه لري کولو له پاره یې کار کړې وي.

زه په داسې حال کښې چې «دافغانستان دعلومو آکادیمی»

دغه ډیر دقدرووړ کار دزړه له کومې ستایم او په درنه سترګه ورته ګورم، خپلو ټولو قهرمانو او مهربانو ملګرو دوستانو اووطنوالو ځخه هیله لرم چې زړتر زړه دغه ټولو علاقمندانو پام «سپین» ته راوګرځوي. سره له دې چې دهغو په طبقاتي روزنه کښې به ستر اثروا چوي ددې په څنګ کې له پاره به هم ډیر معقول، منطقي او په زړه پورې ځواب پیدا کړي چې «مونږ ولې په خپل ستر مشر ملګري نور محمدتره کي باندې ویاړو؟». په درناوي

ستاسو

حفیظ الله امین

# سپین

په ټول کلي کې خورا لوی شخول دی. هرې خواته زوږه ده، څوك يوې خواته په بيړه درومي او څوك بلې خواته ځغلي. څوك دچا په خبره ښه نه پوهيږي او هر يو سرگردانه ښکاري.

ديوه ښکلي چمبر له مخه چې له کلي څخه لږ څه وتلی دی، يوه لويه دله خلك ناست دي. چاسرکښته اچولی دی، څوك بيا دخپل ارخ لـه سړي سره ورو، ورو پسيږي او يو څه و رته وايــي. په دې دله خلکو کې زيا تره سپين پگړي دي چې له نورو شاوخوا کليو څخه راغلي دي. دچازيرې شنا وی دي، دچا داتکي سپينې او اوږدې دي، دچازيرې بيا تورې دي. دايــوازې د تورو زيرو څښتنان دي چې سرونه يــې ډير نه دي ځړولي او يو څه په هسکه غاړه گوري. په دې دلـه خلـکو کې چوپه چوپايـي ده چې يوازې کله کله ښنهاري اوريدل کيږي او هم د ځينو تسپو د تکهار په اثر آرامه فضالږ څه سره ووهله شي، او هم کله کله له ناستو کسانو څخه کوم يوار ميږی وکاږي اولږ څه په زوره ووايـي: «توبه خدايه! توبه!»

داچې سړی دکلي شخول اوزوزې ته وګوري اوددغه ځای سکوت اوآرامۍ ته نظر وکړي حیرانیږي چې هلته ولې داسې حال دی اودلته ولې دومره په ادب سره خلك ناست دي اودیوشي دپاره انتظار باسي.

کوم وخت چې څوك دچمبرلوی ور پرانیزي نودننځواوور و دژړاو اوکوکاروخورالویه څپه را ووزي اودحاضرینوسکوت اوآرامي مختلله کړي. په کلي کې زوزه له دې جهته ده چې دشاوخوا دیاره څخه یوګڼ شمیر رانده خواران، وزي، تږي را ټول شوي دي اوددې انتظار باسي چې دحاجي... مړی به څه وخت ښخیږي چې دوی یې اسقاط واخلي اوخیرات یې وخوري. دغه خواران نه په اسمان کې ستوری لري اونه په ځمکه کې سیوری. دوی په رسم ورواج دومره پروانه کوي اولـکه سپین پګړي او سپین کالي دومره مقیدنه دي.

په کوڅه کې په ځای په ځای ددغوخوا رانو کوچنۍ د لـې نا ستې دي اویوبل ته کیسې اونکلونه کوي. ددوی زیاتره نـکلونه په دې برخه کې وي چې پلانـکی سړی چې مړشونوخورا ښه خیرات اواسقاط یـې پسې کړی و اویـا دا چې پلانـکی کنجوس و په خپل مړي پسې یـې هیڅ ونه ښندل.

پـه دغه وخت کې لـه چمبره دمرحوم یوسپین زیری ورور چې په کلوکلوورسره مرورو راووت اوستوګې یـې مښلې. داسې ښکارېده چې ګوا کې خو را ډیر یـې ژړلي دي او اوس لاهم ډیرغریب ورته

دریږي او خپله ژړانه شي کنټرولولای او پر خپله مړورتیا یې افسوس کاوه.
له حاضرینو څخه یو معمر سړي مخاطب کړ او پوښتنه یې ورځنې وکړه چې:

- مړی خو لا پخوا پریمنځل شو، نو ولې جنازه نه را باسی؟

اخند زاده صاحب ددغه معمر سړي خبره پرې کړه او د مرحوم ژړغونکي وروړنه یې وویل:

- کتاب وایې هر څومره چې مړی ژر ښخ شي ثوابونه یې هغومره ډیروي نو که تلوار پرې وکړې دا به د مرحوم د روح د آرامۍ دپاره خوراښه وي.

- موږ خو د صاحبزاده صاحب راتګ ته انتظار باسو چې د جنازې لمونځ ورکړي. سړی مولا پخوا پسې استولی دی، ګوندې اوس را ورسیږي.

ډیره موده لا نه شوه تیره چې له لیرې یوه ډله خلك را څرګند شول.
یوه له حاضرینو څخه وویل:

- دا ډله چې راځي د صاحبزاده صاحب ډله را ته ایسي. راځئ چې موږ ورته تیاری وکړو، څوك که اودس نه لري هغه دې ژر اودسونه تازه کړي څکه چې لمونځ به سمدلاسه کیږي.

وروسته له هغه چې د ټولو حاضرینو مخونه د هغې ډلې خواته وروا وښتل نو دغه ناست کسان تقریباً په یوه پلا ولاړ شول. څوك دکاریز د اوبو خواته داودس د تازه کونو دپاره لاړل او څوك د صاحبزاده صاحب مخې ته ورو، ورو رهي شړل چې د هغه هرکلی وکړي.

صاحبزاده صاحب پر یوه خورابنه چاغ سره آس باندې سپور دی. ده خورا لویه پنده تکه سپینه پګړۍ داسې تړلې ده چې یو ول یې پر بل وله باندې دومره ښه نه دی راغلی خو دپګړۍ اخیري ولونو یې بیا انتظام موندلی دی . د صاحبزاده صاحب کوچنی تک سور مخ په سور-بخونه لویه ږیره اوبیاپه سپینه پګړۍ کې خورا کوچنی برېښي اوسړی باید دده دمخ دلیدو دپاره ښه ځیر شي. ده پر خپله پګړۍ باندې سپین څادر هم غوړولی دی چې دده سریې ښه ګرد اومسطح غوندې کړی دی. دی په عمر د یرش یادو دیرش کلن بـــریښـــي. دصاحبزاده ترشا څو نور کسان دي چې ځوك پرپښوځي اوځوك پرخروسپاره دي. څو څوتنه چې دهغوی پګړۍ هم سپینې دي دصاحبزاده صاحب دآس پر یوه او په بل اړخ روان دي او خپل قدمونـه په خورااوچت دول د آس له قد موسره برابر اخلي. هغه خلکو چې مخې ته یې ورغلي وه دصاحبزاده صاحب خورا تود هرکلی وکړ اوهر یـوه دده لاس ښکولاوه.

صاحبزاده صاحب بې له دې چې له آس نه کوز شي خپل دواړه لاسونه یې یو ې خواته اوبلې خواته خلکوته دمچیدو دپاره ځرولي وه اودآس ملونه یوه مرید نیولی وه.

صاحبزاده صاحب پرآس سپور په ګڼو خلکو کې دچمبر مخې ته را ورسید اولومړی تر دې چې له آس نه کوزشي یوه مرید ته یې وویل چې:

ـ ورته وو اياست چې جنازه راو باسي.

وروسته له هغه يې خپله يوه پښه د آس له رکابه راوکښله او د مريد پر اوږه يې کښېښوده او بيا په وقار سره له آس څخه را کښته شو.

د مرحوم ورور دده لاس ونيو او هغه يې مچې کړ او وروسته له هغه څو قدمه پرشا ولاړ. بيا نو د چمبر دوره خواته رهي شو. څو نور کسان هم ورپسې لاړل چې له هغه سره د جنازې په را ايستلو کې مرسته وکړي.

صاحبزاده صاحب د ګڼو خلکو په منځ کې ولاړ وه او څو تنو ملا ډولو او معمرو کسانو چې دده په خواکې په تعظيم سره ولاړ وه دده صحت او دده د کاله او ټبر د ښه والي پوښتنه او ګرويږنه په خورا مينه سره کوله چې دده به ورته وويل: «د الله فضل دی، په هر حال شکر دی بې له کفره».

په دغه حال کې جنازه راوايستله شوه. څرنګه چې د چمبر ور پر انستل شو د ژړا او کوکو څپه په خوراشدت سره راووتله.

اديره له کلي څخه ډيره ليرې نه ده. جنازه د مخه شوه او صاحبزاده صاحب او نور مشايعين په پسې روان دي.

دادیرې تر څنګ پریوه پلن ځای باندې چې شګې یې پرې اوارې کړې وې، جنازه په معمولو تشریفاتو سره کښېښودله شوه. سپین پګړي او سپین کالي تهول د جنازې سره نژدې شاوخوا ولاړ دي او سمدلاسه يې

دلمانځه د پاره صفونه سم کړل. خوخواران او پښې لوڅې لږڅه ارت و لاړو.

وروسته تر هغه چې دجنازې لمونځ دصاحبزاده صاحب په امامت اداکړی شو نو ټول حاضرين د يوې حلقې په تـوگه د قبض د پاره کښيناستل اودقرآن کريم دوره شروع شوه.

دمرحوم ورور او ځوزامن يې چې عمريې ۱۰-۱۱ کلوته رسيده صاحبزاده صاحب ته نژدې ناست دي. د مرحوم تر ټولو مشرزوی کوزملك ته تللی دی اودلته حضور نه لري. دخداي ببنلي يوزوی لوړی د دورې دمرا سمو ترختميدو، ولاړشواودخپل اکا دهدايت سره سم کورته په دغه مقصد ولاړ چې له هغه ځای نه داسقاط دپاره روپې راوړي. تقريباً نيم ساعت وروسته دمړي يوبلزوی ولاړ شواودکورپه لورې رهي شو.

يـوڅه وخت لا نـه ونيرشوی چې يوبـل زوی يې هم لـه دورې څخه جگ شواود کورخواته روان شو.

د دورې مراسم لـه معمول وخت نه زيات اوږده شول. دا ځکه چې د ويشلو دپاره پيسې نه وې را رسيدلې. صاحبزاده صاحب دمړي ورورته سرورنږدې کړ اوورته يې وويل چې:

- کوم شی د اسقاط دپاره حاضردی اوکه يه؟ که وي نوولې يې نه ويشې چې مړی له څيره سره ښخ شي.

هغه ورته وویـل :

ـ هلـکان تللي دي چې پیسې راوړي، گوندې اوس راورسیږي .

له پنځلسو دقیقوو روسته صاحبزاده صاحب بیا په یوه معنی داره کتنه ورته و کتل اودی سمدستي له حلقې څخه ولاړ شو چې پـه هلکانو پسې ولاړشي او پیسې ژرراوړي.

کوم وخت چې دخلـکوله نظر ه د کوڅوپه دیوالو کې نهام شونو یې خپل تگ شدید کړ او تقریباً په منډه دخپل ورورد چمبر خواته روان و.

په سو ې ساپه انگړ ورننوت او په وچ ږغ یې ناري کړې :

ـ کانې ! سمته ! څه شواست؟ خـدای مو خـوار کړه ، ژرشيءچې دصاحـبزاده صاحب طبیعت ختبه شو او نـور خلـك هم ستړی شول راوځي،چې ځو !

خو دده ږغ دبنځو په ژړا اود کوچنیانو په نارواوانگولاکې هیڅ اغیزه نه کوي. په یوه خونه چې هغه‌تشه وه ورننوت. څوك یې مونده نه کړل او بلې کوتې‌ته ورغی‌چې یوه ورند اریې دبرج له زینو څخه په منده او په نیو لې اوسوې سارا کښته شوه اوچې په خپل لیوره یې سترگې ولگیدلې نولویه چیغه یې وکړه اووې ویل چې :

ـ کورخومې سپیره شو ! هلـکانو سره مره کړل ، هله ژرشه‌دوي تهول په برج کې دي، ترسرویې سره نیولې دي اوسره‌څکوي.

میرامد (دمړي وروړ) په بیړه او تعجب اوخواشینۍ دبرج په زینوکې ورو خوت او په ډیر تعجب یې ولیدل چې ښځې او هلکان پر له کښې توی دي اویوبل سره کشوي. (میرامد) په زوره چیغه کړه اودوی یې له دغه ناوړه عمل څخه منع کړل اولاسونه یې یوډبل له څښونه وکښل. بیا میرامد په قهر پوښتنه وکړه چې:

- دادکوردورانولوحرکات اوجګړه دڅه دپاره ده؟ ولې موپیسې رانه وړې چې خلکوته مو ویشلې وای؟ ټول ز موږ په انتظارکې دي.

سمت (۱۱) کلن په داسې حال کې چې خوله یې له وینو ډکه وه او دسر شکیدلې ویښتان یې په مخ او پوزه پراته وه، ورته وویل چې:

- داحرموني ګوره! (کاسې ته اشاره) دخپلې شریرې مورپه مرسته غواړي چې نغدې روپۍ وتروښوي او هم ځینې غمې اودسرو زرو شیان پټ وساتي او وروسته له ویش څخه هغه دخپل ځان په ګټه استعمال کړي.

خودکاسې مورسمدلاسه څوګامه پرمخ راغله اوپرسمت باندې یې توکړل اوورته یې وویل چې:

- ددروغجن مخ توردی. ستا خپلې مردارې مورداکارکړی دی اوس غواړې چې دنورو سپین کالي ورمردارکړې. نازک! (لیوره ته خطاب) چې دهلکانو دپلارسالانه وه ختلې چې دغه پلیته (خپلې بنې ته اشاره) راولاړه شوه اودخپل میړه په جیبوکې په کلې پسې ګرځید له چې

دکوچنی خوني ورخلاص کړي اوهلته نغدې او جنس دزوی په‌واسطه دخپلې پلار گنی کره وباسي. خوزه په‌دې پوه شوم اودامې له‌دغه ناوړه کار څخه راوگرځوله. خو اوس چې (کاښی) پیسو پسې راغلی‌اوما غوښتل چې ده ته پیسې ورکړم چې تـا ته یـې دروري نوسمدلاسه مور اوزوی را باندې حمله وکړه اووې ویل چې موږ غواړو ددوی حق پټ کړو .

میرامد ددغو خبرو په اوریدو سره نورهم خواشینی اوغمجن شو او پرك پرك یې وژړل او په ژړا او سلگیوکې یې وویل :

- لالاجان پردره پروت دی‌اوتر اوسه لاښخ شوی‌نه‌دی چې زامنو اوما ینو یې دغه حال اچولی دی . ټول سیا لان اونا سیأ لـه پرا دیره ناست دي او ټولې ښځې پـه خونـواوانـگـړ کې دویر کولـو دپاره نـاستې دي او هـر یـو یې په ژړا ستونی څیري کړی، خو دخدا ی ښځلې مایـنې او زامن په پیسوسره خوري. اوخدا یه ! دا څه حال دي؟ اوس کـه دوست اود ښمن راخبرشي‌خوپوزه به مې شل‌ځایه پرې شي . دټول‌عمر اوټول کاله‌نوم به مې بزبادشي.

دمرحوم‌ټولې څلورماینې وې . ددوو ماینویـې دلته‌دغـه حال دی او دوې نورې ما ینې‌یې له ‌ټاټا خوانو سره‌ناستې‌دي، خودوی جسمأ هلته ناستې‌دي اوروحاًخورا په عذاب‌دي. ځکه چې‌هره یوه دا تصورکوې چې هغو نورو دووبنویـې ځانو نه ماره کړل او دیرمال‌اوجنس به‌یې ایستلی‌وي

اودوی دواړه تش لاسونه پاتې شوې .

(میرامد) په بیره یو موټی پیسې را واخستلې اوپه تاخت دادیرې خواته را روان شو ، په سوې سایې ځان ور ورساوه او سمدلاسه یې د پیسو په ویشلو پیل وکړ.

هرکله چې دده ټول معنویات خراب شوي وه ،نوده دپیسو په ویشلو کې دومره دقت ونه کړای شواو ددې متل په مطابق یې رفتار ونه کړ چې وا یي: ( برخه ویشه مړ ونه ګوره ) .

داسقاط په وروستنۍ مرحله کې دملایانو او طالبانوزوزه پورته‌شوه او دغه کلمات اوریدل کیدل چې:

ـ په سپیدوکې ورته‌راغلې‌یو ، ټوله‌ورځ مووورته تیره کړه‌خوآخریې دومره شی‌راکړچې هیڅ مناسبت راسره نه لري.ارمان‌مې هغه سرګرداني وه چې د مړي په پریمنځلواوکښته او پورته کولو کې موتیره کړه.

یوبل‌ملا ورباندې زغ کړچې:

ـ څه وکړووروره ! داسې بده زمانه‌ده‌چې هیڅ تصوریې نه کیږي. دسپین پګړو او سپین کالیو قدرله منځه ولاړ ، اوس یې څوک د پیاز له نرخه نه پوښتي، عالمانوته اوس‌چې د انبیاوو وارثان دي څوک دوه توته اهمیت نه‌ورکوي. خدا ی دې خیر کړي ، بیریږم‌چې پر دغو خلکو دخدای قهر نازل نه شي.

داسې څرګندېږي چې کومه برخه چې صاحبزاده صاحب ته رسیدلې وه هغه دده په طبیعت نه وه برابره او دغه پیسې یې چې ده ته ورکړې شوې وې د ځان تر حیثیت او مقام او د مړي تر بدایې توب ډیرې ښکته ګڼلې.

- دخپل نارضایت د څرګندولو د پاره یې فرصت مونده کاوه.

بیا ده خپل یو نژدې مرید ته وویل چې:

- ډرې را باندې وهي. دومره یې سرګردانه او لالولانده کړو آخر ګوره څه یې په لاس کې را کړلې!

دغو مره اندازه پیسې خو خلك د حجرې چړې ته ورکوي او یا یو ه بل خیر غوښتونکې ته یې ورکوي. داخو دلنګر دیوې ورځې خرڅ هم نه کیږي. دغو خدای خوار کړ و ته دغه حقیقت په یو چل سره ورسوه او ښه یې پوه کړه چې څه باید وکړي؟

په دغه حال کې د پیسو ویشلو کار چې په خواره دله کې توزیع کیده هم پای ته ورسید او خلکو دې ته هڅه وکړه چې مړی قبر ته یوسي.

وروسته تر دې چې مړی ښخ شو، دکلي ملا، صاحبزاده صاحب دې ته راوباله چې د مرحوم دژوند په باره کې څه ووایي او دده ښه سړي توب ثابت کړي. ده لږ څه تندی تریو کړ او ورویې له ځان سره وویل چې څه خیر مې ورځنې ولید چې دغه خدمت هم ورته وکړم؟ بیا یو څو ګامه وروسته ولاړ غاړې یې تازه کړې او په وینا یې پیل وکړ:

- مرحوم خو را ښه سړی و. خپل پنځه وخته لمونځ یې کاوه بدای سړی و داخوځرګنده ده چې دخدای رضا او بیا جنت په بدایی ګټل کیږي ځکه چې بدا یان کولای شي چې ښه خړ اتونه ورکړي او په دې توګه دخلکو اودخدای تعالی رضا حاصله کړی . . .

مرحوم دغه دخیر کار تر یوحده پورې کړی و، خو اوس دده دوروسته پاتې کسانو وظیفه ده چې دغه دخیر کارونو ته دوام ورکړي اودهغه روح آرام وساتي.

بیایې لاس پورته کړ اودعا یې وکړه ټول حاضرین په خورا بیره او شوق سره بیرته د کلي خواته رهي شول اودمعمول سره سم دوی ته ښوروا، غوښې او دو دی ورکول کیدله. دغوړې دو دی او غوښو دخوړلو په امید دهغوخوارانو زړونه چې په هفتو، هفتویې څه نه و لیدلي او تود او غوړنګولی یې خوړلی نه و، خوشالـه اوتاوده و.. عامو خلکو ته په کوڅه کې دودی ورکول کیدله او خواصو ته داسې ترتیب نیول شوی و چې د مرحوم په کورکې دودی وخوري.

کوم وخت چې خلك له ادیرې څخه بیرته د کلي خواته راګرځیدل نودمړي ورور (میرامد) دهغه مرید له خوا چې دصاحب زاده صاحب له پلوه ورته هدایت ورکړی شوی و پوه کړی شو چې د ده عطیه (اسقاط) لږ وه او باید ددې تلافي خورا په بیره وشي. له دې جهته کوم وخت چې دو دی وخوړ له شوه نو (میرامد) یو موټی نوټې پیسې هم ورکړې او همدا

ډول یې نوورو معتبرو او مشهورو ملا یانو ته هم یوڅه پیسې بیا ورکړې. داچې صاحبزاده صاحب ته دوهمه پلا بیا لاس ونیول شو او هم نوورو ملا یا نوته تکرار یوڅه ورکړی شول نوسمد لاسه یې دمرحوم نور ډیر صفتونه او خصایل رابرسیره کړل او هریوه دده دسخاوت او میرانې په یادولو پیل وکړ اوپه دغه باب کې یې یوزیات شمیر مثالونه راوړل او یوه مناغلي وویل :

- صاحبزاده صاحب! زماله زبانه یې کوه چې یوه ورځ دجمعه خان دکلالمرخریکې ته منه ډیرخلك سره ناست وو چې مشکونلد ی توړی (یوه کونده وه) راغله اوټول حاضرین یې مخاطب کړل چې ورته (۳۲) افغانۍ په پور ورکړي چې دیوه پوروړي غاړه په و باسي ځکه چې هغه عرض ورباندې کړی دی اوما سلان یې په پسې کړي دي. ددې خوارکی اوبه په هیڅانه پورې وتلې ترڅو چې دغه مرحوم جیب ته لاس کړ اوهغه روپۍ یې ورله ورکړې. په دې کې شك نه شته چې دغې توړی بیادرې چرگان او (۵۰) دانې هگۍ ده ته ورکړې اوهم یې یوپاو کوچ وروړل ، خودلته خبره دده په دې مرانه ده چې ده یې لهکوم ځنډ څخه دا خواره دما سلانو له غمچیني څخه وژغورله او دده مرسته دهغې دزړه داد شوه.

یوبل سري پرې را درسته کړه چې :

خدای ښنلی خو ددغه ټول کلی او د یارپوزه و. موږ او تاسې ته خو داسې و. دیوغره په شان. لږ اودر مانده یې هیڅ وخت نا امیسنده نه دی پرې اینبی. د ه بـه هر چاته په پسرلي کې په سلم غنم ورکول. او په رشه به یې ورځنې بیر ته اخیستل. دده سلم تر نوروتهولو بدایا نو ګټهور و. سوی سری هم نه و که بـه چاپه خپله تیا کلي نیتیه پورورونه رساوه نو په پوره زړه اوورین تندي به یې تر کاله پورې پرینبوداو یوازې دسلم تفاوت به یې یو په دوه وشمیره چې البته دغه کار یې طبیعي او دمعمول او رواج سره سم و.

له دغو دوال وینا ګانو څخه وروسته حاضرین ولاړ شول. دتهولو ناستو کسانو موچنې په وره کې ورسمې کړی شوې.

صاحبزاده صاحب دمخه اونور ټول خلك ورپسې شول، په داسې حال کې چې ټول حاضرین پرې راتبول وه، دی په ډیر وقار دمریدانو په مرسته براس باندې سپو راوورو. وروله خپلو مریدانو سره له دلې څخه لیرې کیده.

نورخیرات خواره هم سره تیت او پرك شول اوسبا ته دپاتا تهغر ونه وغوړ ول. شول چې له خلو ینبتو شپو ویراوپا تا نـه وروسته تهغرونه بیر ته ټول شول.

دپا تا اخستلو په موده کې دمري زامن، ماینې او لوښې خو په آرامه نه وې ناستې. دوی به هره ورځ دیوشي اویا دبل شي په پلمه په خپلو کې سره وهل او ټل به خوار اوسپین زیری (میر امد) له دوی سره په عذاب و.

کوم وخت چې دوی تېر شول، نو (میرامد) خپل ور پرونه اوورېږي او وریندار ګانې را وغوښتلې، ودوی ته یې په نصیحتونو او وینا کولو شروع وکړه.

(میرامد) ددوی دغه ناوړه حرکتونه او په خپلو کې پر له پسې جګړې خورا وغندلې اودوی ته یې وویل چې:

- پلار مو دومره مال اونغدې پیسې درته راټولې کړي دي چې هغه نه یوازې تاسې نشۍ تمامولای، زه پوره یقین لرم چې ستاسې لمسیانېیې هم نه شي خلاصولای. نوستاسې څه بې بختي په وارده چې په خپلو منځو کې سره خوری او ټول دیارپر ځان باندې خندوی،تاسې خوزما اوزما د ټول کاله او ټبر پوزه هغه وخت راغوڅه کړه چې مړی لاپر ده پروت واو تاسو د میراث اخستلو او دلوټې برخې د په لاس راوړلو دپاره جګړې کولې. ښځو یو یې دبلې کوڅې وشکولې او هلکانو یو دبل ځنې غنچه، غنچه وکښلې. ځان دې وخوري دغه مرداره دنیا چې تاسې یې په سرګردانۍ او جګړه خونۍ اخته کړي یاست. په دې باید ټول پوه شۍ چې زه اوس دخپل مرحوم مشر ورور پرځای ناست یم. باید تاسې ټول زما دوینا او توصیو احترام وکړۍ، اوبس له دې داسې کار ونه کړۍ چې هغه ستاسې د ټول کاله په زیان تمامیږي.

دمړي مشرې ښځې یعنې لومړنۍ مابېنې پرونۍ سره راټول کړ او په داسې

حال کې چې دخپل تکړي یوغوږی یې په خوله کې نیولی و، په یوه لوړ خوږ غږ غونسکي غوندې زغ ورته وویل :

- دروېږو دصندوق کلي دګلالۍ (دمري دکشرۍ یاور وستني مایني) سره ده او هم د قبالواو نورو سندوکلی دښایسنوګی، (دمري دریمه مایته) سره ده، موږ په تیر وخوشپوکې ولیدل چې دوی دواړ وخپله چاره وکړه او هرڅه چې یې زړه و هغومره اندازه مال یې تر ګوندې لاندې کړ. هرڅومره چې موږ لاس و پښې وهلې خو چاراته غوږ ونه نیو اوزموږ دغه اظهارات یې سپین سترګي و بلله . خوآخر موږ هم دخدای بښلي په نامه یو او زوزاد لرو اوپه دغه کورکې مو پوره حق شته. په دې زموږ بشپړ یقین دی چې که وضعیت هم دغسې پسې دوام وکړي نوموږ اوکمکیان به موسره لمرته ووځي ، نوهغه وخت خوبه بیاسیال اوناسیال په تاسې خاندي. خدای مې دې خپل زوی (سپین) ژرراولي.

دوهمې ورینداري یې ورته وویل چې :

- ته باید موږ ټول په یوه سترګه وګورې دخدای بښلي اولادستا زامن اولونې بللې کیږي. داسې نه وي چې څوک دې دزړه ټوټه وي او څوک دې دپرین. ترټولو ښه خبره داده چې زموږ لاسونه سره وکاږې څکه چې هلکان ټول کمکیان دي اووینه یې تو ده د زماهلکی خوتر ټولوکمکی هم دی موږ بنې هم یوه دبلې خبره دومره نه شو سره زغملای. خدای دې

نه‌کړي یوه ورځ چې ته راځې نوپر سر وکوپریو به‌راشې.

په دغه مجلس اویادکوراوکاله په‌خبروکې دمړي له (۱۴) زامنوچې یویې‌هم له ۱۰-۱۱ کلونه ډیرعمرنه درلود - او څلورولونوڅخه‌شپږ زامن اودرې لونې‌حاضرې وې. دوی به کله کله په‌خبروکې وروولویدل اودخپلو میندوپه تائید او دمیرو گـانو په تردید به یې پـه عصبانیت سره خبرې کولې. دلس دولسو کلو هلکانوخوبه لاسونه سوك کړل او پورته به یې ونیول اوناره به یې وکړه چې :

- موږ به خپل‌حق چاته نه پریږدواوکه څوك ددې کار دکولوهڅه وکړي نوماغزه به یې ورباندې توی کړو.

(میرامد) وویل‌چې: « اوس یوپربل‌مه سره غورځی.زه به‌ستاسې چیته (فیصله) ژر دروکړم. کوم وخت‌چې‌نورهلـکان هـم راشي‌نوزه به‌تاسو ټول یـوځای سـره کښینوم اوستاسې حقیـقي وضعیت به تثبیت کړم.»

په‌دغه وخت کې ددې بدای کاله وضعیت ورځ په ورځ خرابیده او دهغه داعضاو ترمنځ بې‌اعتمادي ډیریده.دښځو دعوې اودهلکانو دکور اوصحرا جگړ ودټول کلي په‌تیره بیا دخان اودکلي دملاتوجه ځان ته راوگرځوله. هغوی غوښتل چې ددوی له جگړ وڅخه ناوره گټې وکړي او په دغه ډول خپل نس او جیب ډك کړي.

د میر امد مشره وریندارڅلور زامن لري چې مشربې(۲۳) کلن او

کشریبې لس کلن دی. دمشر زوی نوم یې (سپین) دی چې دپلار دمړینې په وخت کې دلته نه و. دی خورا زړه ور، په زړه کلك او بې مینې غوندې سړی بریښي او په خپل ټول کاله کې هم په دغو خویو مشهور دی. دغه زلمی که څه هم باید دزلمیتوب ټول صفتونه ولري خوخورا حریص اوپه دنیا مین دی. خوراتینګ هم دی او دغه یې عادت دی چې په هر څه اوپه هره توګه چې وي باید پیسه لاس ته راوړي. دده مور هم دده په شان ده اودخپلو بنواو بنزیانو وجود یې خورا بد ایسي اودوی ټول دخپلې هوسایی دپاره یو لوی مانع ګڼي.

کوم وخت چې د(سپین) پلار لاژوندی و، ده او مور به تل داسې لارې اوچارې لټولې چې دهغو په واسطه وکړای شي چې خپل دښمنان (بنزیان) او (بنې) له منځه لیرې کړي اویایې څه ناڅه ترخپل کامل نفوذ لاندې راولي. دمور اومشر زوی دغه فکر په تیره بیا په هغه وخت کې خورا شدید شوی دی چې د(سپین) پلار مړ شوی دی. دوی خپل دزړه خواله دبل هیچا سره نه کوي او نه کوم بل زوی او لور په خپلو دغو خواهشاتو خبر وي. دوی دواړه بې له دې چې یوتیاکلی پلان جوړ کړي دې ته امیندواره دي چې یوه ورځ نه یوه ورځ به خپل مقصد ته ور سیږي اویو خورا مسعود ژوند به یې په نصیب شي.

ځکه چې (سپین) ترټولو سکه او ناسکه وروڼو نه مشر دی نو ځکه

تر (میرامد) وروسته ټول ده ته یوځه په درنه‌سترګه ګوري. خو په دې هم‌مشهوردی چې که یې لاس ورسیږي خپلې نا سکه خوینډې، میندې او وروڼه به الوی کړي او خولې ته به یې واچوي.

د دوی چمبر دوه انګړه لري چې یویې دننه انګړ دی اوبل یې دباندې، اوښې خواته یې دمیلمنو کوټه‌ده. د(مرحوم) دوې ماینې په دننه انګړکې دي اودوې نورې یې په دباندې انګړ کې. هره ښځه جلا جلا کوټه لري خود دوی پخلی ټول په یوځای کې کیږي اووارپه وار یې پخوي دکوراوکاله شیان‌په دوی کې ویشلی شوي دي. مثلاً[۴] د اوړو دکوټې کلي دیوې ښځې سره اودلاندې‌اونګولې دشیانو کلي دبلې ښځې سره همدا ډول چای اوبوره‌له‌بلې سره‌ا ودشیدو‌او مستوواك او اختیار دبلې سره‌دی.

د دوه ی دپخلي پـه وار، دځای دجارو کیدلو په وار، اودپسو نو اوغوا ګانو دزیرمې کولو په‌وار باندې‌هره ورځ داسې جنجال، دعوې او حتی جنګونه وي چې یو قیامت جوړ کړي دادعوې اوجګړې اوس ترپخوا بیخي ډیرې شوي دي. او کوم وخت چې دوې بنې دعوې سره شروع‌-کړي نو دهغوی لوښي اوزامن‌هم راټول شي‌او په خو را نفرت‌او کینه د خپلې میرې په مقابل کې دریږي او هغه ډول سپکې خولې ورته‌پرې‌-کوي چې په هیڅ کتاب کې روا نه وي. کله کله‌خو داسې وي چې دښځو کوځه‌وخیږي اودهلکانوسرونه مات شي‌اووینې پرې وبهیږي. ځکه چې

د( مري) دوهمه ښځه‌یوازې یوزوی اویوه لور لري چې هغه هم(٦) کلن او لوریې(۸) کلنه ده نوځکه داتل دخپلو بنز یانو اوبنوله لاسه وهلې‌رټلې وي. دابنځه که یوه ورځ دعوی وکړي نودوې درې شپې به خپله ییکسی‌ژاړي اودانګرې‌به منځ‌کې ناسته وي او سوتونه کوي او ددې په سوتوکې چې زوی اولور هم برخه‌واخلي‌نویوعجیبه منظره جوړه شي.

(سپین) دخپلې‌مور، وروڼو اوخویندوسره په‌دننه انګړکې استوګنه کوي. یوه ورځ یې‌مور ورته وویل چې:

- تر څو به دغه خوار اودشنه زړه ژوند تیر وو. زما دیرې بدې طالع دی ځواني‌مې دې دپلار سره‌خاورې کړه. کوم وخت‌چې یې‌زه راودولم پلار دې هیڅ شی نه‌درلود، یو زوړ یابویې‌وچې‌یوځه دمنجاریدوب سودا به یې‌په‌شاوخوا کلیوکې ورباندې ګرځوله‌اوخرڅوله به یې. یوځه لږ ځمکه‌یې‌چې درلوده هغه یې‌زما دولوږداد اکولو د پاره خرڅه کړه. دیر تریخ ژوند اوتنګسیاوې را باندې تیرې شوې. خدای پاك زما پلواوکوځی‌ستاپه پلار پورې‌نیکمرغه کړې او یوواریې بیرې وچلیدله اوپه خو کلوکې‌د دودی‌خاوند شوچې بیا البته خوراغت بدای وګرځید. دده بدایي زمادبد بختي‌موجب شوه، هرڅومره چې یې دنیا دیر یدله هغومره دده دښځو کولوهوس زیاتیده، ترڅو چې

خبره دې اندازې ته ورسیدله. چې زه یې اوس دداسې مشکل سره مخامخ کړې یمه. هرڅه چې دې دلاسه کیږي ژر یې وکړه چې لږ څه موغوږونه په آرام شي او پاتې شپې ورځې مې په هوسا یې تیرې شي.

سپین په مینه خپلې مورته وکتل او په یوخوږ اوله مینې ډک ږغ یې ورته وویل:

- زه په دغه خصوص کې له خپلو ځینو نیتیا نو سره یې صلاح او مشوره اخته یم. زما دغه دوستان او اشنایان ماته سمې لیارې لټوي او غواړو چې دغسې یو چل جوړ کړو چې دشتمنۍ ډیره برخه موږ واخلو، داځکه چې ته پخپله وایې چې له پلار سره مې دې سختۍ او نا آرامه شپې تیرې کړي دي او داوسنۍ شتمنۍ بنسټ تاایښی دی. نو ترټولو موږ زیات استحقاق لرو چې دمیراث لویه برخه موږ واخلو.

دسپین دغه خبره پر مور باندې ډیره ښه ولګیدله او په دې چې زوی یې هم له مور سره همفکره دی ډیره خوشاله شوه. مور یې په داسې حال کې چې خپلې لور (تورپیکۍ) ته یې دچایو دپاره ږغ کاوه داسې وویل چې:

- رښتیا خبره خو داده زویه، چې اوس نوله خدای پاك نه داغواړم چې خپل ځانته کورولرم اوخپلواکې ژوندپکې وکړم اوله دادومره کړ پ اوکړوپ څخه مې غوږونه په آرام شي خپلې نږندې راته ګرځي او زه دهغوی

زیر مه کوم. دامې په تینګه پټیلې ده زویه! چې څرنګه لهدغه مردار ډنده څخهخلاصه شمه دستې به کوز ده درکوم چې خدای مې په لمسیانو پته کړي.

پهدغه وخت کې (تورپیکی) راننوتله اودوې پیالې او یوه شنه پیتلې چاینکه یې دموراو مشرورور په مخکې کیښودلې اوسمدلاسه یې په سوك سوك پیل وکړ او په ژړغونکی ږغ یې مورته وویل:

ـ (خر) په چاپیره ووهلم او پخپله یې منده کړه دباندې ووت. ماته په لاس را نه غی کهنه نومابه یې حق په لاس ورکړی وای، که لالاجان (مقصدیې سپین و) دده غوږ ونهتاونهکړي نو والله، خوبهیې کلك ووهم.

موریې پربار خوښکل کړه اودهغې سریې پهخپل تهمر پورې ونیوا اوپه مینه یې ورته وویل:

دزړه سره مه ژاړه ، هغه شیطان خوزه پیژنم. کورته چې راشي ستا کسات بهورڅخني واخلم تهچې زما غوندې مورکی لرې څهغم یې ژاړې.

دوی په دغو خبروکې ووچې د(سپین) بوکسوچنی ورور په منده راغی او سپین ته یې وویل چې:

ـ خانصاحب په ورهکې ولاړدی اوتاغواړي.

ده سمدلاسهدچایوپیاله کیښیښودله او ژرژریې موچنې په پښو کړې اوپه زغرده وره ته ورغی. له روغبړ اوهرکلي نه وروسته یې ور تهوویل چې:

PROPERTY OF ACKU 31698

راځه دننه کورته لاړشو. دمیلمنو خونه لژڅه ښه نه ښکاري ځکه چې هره ګړۍ لوی اوواره په وځي اونکوځي عادي ښه ځای هم پوخ کړی دی او ځای هم پیغمه دی.

په داسې حال کې چې خانصاحب یې ترڅنګ راروان دی دوی دواړه دخونې و رهته راغلل او (سپین) مورته زغ وکړچې خانصاحب ورسره دی باید ژرنیالی اوڅنګوانبی برابر کړې.

بیا یې خانصاحب ته وویل چې: «بسم الله درننوځه». هغه هم چې ور دیرته‌یت و، سرکښته کړاوپه‌خونه ورننوت. لوری دې چې پرتازه اچول شوي نیا لی باندې کښیني، خانصاحب نوك و نیواو د (سپین) مورته‌یې وویل چې:

- سپین سرې ستړې مشې! له رنګه خواوس ښه راته ایسې. ګوندې دمري له غمونواوخواشینیونه اوس خلاصه‌شوې یې. خدای دې زامن لره ؛ ته باید ددوی په وجودژوندی پاتې شې او هم‌خوشحاله اوسې چې زامن دې ځینې زلمیان دي او ځینې دغویو له‌ښبو نه وتلي دي.

له دغې وینا نه وروسته یې لومړی د اوزې څادر پرڅنګوانبی ور واچاوه اوبیا پرنیالی باندې کښیناست، خپله مشهدی لونګی یې چې پریوه‌کلکه‌چکښې خولی باندې یې ترلې‌وه له سر نه‌را کښته کړه او پرخپله ګونده باندې یې کښیښودله. لومړی ترهغه چې خانصاحب بیا په‌وینا

خوله پرانیزی د(سپین) مورورته وویل چې:

ـ خدای دې تاغوندې ننګیالې خانان ددغو خلکو له سره نه کموي. په تاسو موآب خوندي دی. دقوم دعزت لمن تاسې پا که ساتی. ستاهغه نیکی اوښې مرستې چې د(سپین) له پلار سره دې کړي دي زموږ نه هیریږي. دسپین پلار (خدای تعالی دې یې وبښي) په محکموکې دوه ره لاس او پښې نه شوای کولای اوتل به یې له تاسې نه مرسته غوښتله. اوسنی زمانه خو ورا خرا په زمانه ده. که دې چاته پروروکړ نو داسې یې وګڼه لکه په خره سپره بدې چې رانیسې.

بیایې زوی ته مخ راواړاوه اوپه یو د دغوندې آواز یې ورته وویل چې:

دغه لوڅ لپړ، پښې لوڅې چې ګډلې یې په شلو لارو سره تللې اود ګډلې په هرکوټ کې یې په زرهاو سېږې دې داسې ساده اومازې شیان مه ګڼه. دوی هیڅ وخت زموږ په شان خلکو سره چې یوځه ګوله دو دی خدای ورکړې ده دوستان نه دي. که زموږ مال په لاس ورشي هغه بیاپه اسانی بیر ته نه ورکوي. کومه ورځ چې ا رشي اوکوچنیان یې له لوږې نارې ورته وهي او ښځې هم په نس نوکارې لګوي نو دښې ننوا تې راشي اویوڅه په سود وسلم غواړي. خو هغه وخت چې دسلم داد اکولو او یا دسود ورکولو نیته یې راشي نوڅان یوې خوا اوبلې خواته کوي

اوپه زور پلمې جوړې کړې چې هیڅ ورباندې نه شته. نو په دغسې حال کې هم دغه خانان صاحبان دي چې زموږ سره مرسته کوي اودغه ډول خدای خوار کړې خلك محکمې ته سپاري او هلته یې په یوه ګړی ورڅخه واخلي. ځکه چې په شریعت او اصولو دواړو موږ ته پړه وي او هم دخپل حاکم په خوله کې یوڅه وروا چوو. نو ددغه خانصاحب هغه ښیګڼې او مرستې چې په سوو پلایې ستاله پلاره سره کړې دي موږ نه شو هیرولای. که دوی نه وای او حکومت (چې دخدای دعدالت سیوری دی) نه وای نو دا لوچکانو اومزدورانو به زموږ بډایه طبقه ییخې ورکه کړې وای او نن ورځ به مو ز دغه ځمکې، باغونه، نغدې پیسې اوجنس نــه درلودای.

دې ستاینې اونرمو او پستو خبرو خانصاحب ډیر خوشحاله کړ او دهٔنه یې زړه وړ تـهول کړ او په خورا خوشحالی یې وویل :

- هو! ستا پلار دې خدای وبښې پهدې ښه پوهیده چې خپل غنم څه وخت باید خرڅ کړي اوپه چایې باید وپلوري . ده خدای بښلي هیڅ وخت په منې چې ریشې به واخیستلې شو ې غنم بـه چا که څه هم په سروزرو به یې غوښتل نه خرڅول. څرنګه چې به د (بچه ګرو) وخت شو د کندوګانو خولې به یې ایله کړې. هره ورځ به ددهٔد کور مخ ته خورا لویه ډله ښځې اونرناست و اودا تهول به ده ترلهٔتیر کړه. که څه هم

په دغو معا ملوکې موږ هم ترده وروسته نه پاتې کیدو خوده ته خدای عجیبه ستاره ورکړې وه خوچې ددنیاله کاروډې رایستلی وای نوداسې یې وبوله چې دعلاقه‌دار دلیکوونکي په مخ نه شو ورتلای اوخپله‌خبره یې نه‌شوه اداکولی نوپه دغه‌وخت کې به یې لمانځه‌مرسته‌وغوښتله‌اومابه هم په‌دغه نسبت‌چې یوآبداره سړی اوددونه دنیا ښښتن‌وملا ورسره وتړله او هرچاچې به لږ څه‌مزغی‌کړ اوه اویا به یې دخپل سلم په اداکولو کې ځان دورې ، دورې کاوه نوسمدستي به مې د ماسلا نو پـه لاس ورکړ او ترهغه به یې دباوه چې دده سره بـه یې سمه لاره ونیولـه اودابه یې ومنله چې په‌هره‌توگه چې وي دده پور ورکړي. نودلته چې کوم شی‌ستامور وایه هغه مازې و ښانه وه بلکه‌دغه تپولې رښتیادي. که موږ یو پربـل ښنگ سره ونـه لـگوو، نودغه خدای خوارکړي بزگران بـه موژوند تریـخ کړي، ځکه چې دوی ډیر دي او موږ لږ. دیوه او سلو خونه ده سره برابره، خوددوی‌په خوله‌کې خوراښه ملونه زما اودماسل غمچینه‌ده اوبس. . . . .

بیا وروسته له هغه چې د نسوارو یوه لوپه کپه یې خولې ته اچول غوښتل و ویل‌چې :

ـ اوه! زما خود چایو پیاله سړه شوه. په‌خبروکې مې هرڅه‌هیرشول.

نسوار یې بیرته په ډبلي کې واچول او بیایې وروسته‌له هغه‌چې

دچاپیریو غرپ یې وکړ او پیاله یې پرته پرځمکه کښېښودله وویل :

ـ داچا ی خوسوړ شوی دی! ښه ماوتا څو پلا دمخه یو ځو خبرې سره کړې دي اوپه دې برخه کې مو خبرې کړې وې چې اوس ستاسې دکورنی جنجالونه چې تر پخوا ډیر شوي دي څه ډول ورك کړ واوستا دمېندو او میر یزوورو ښو چیتېه څه ډول وکړو. پیازه ولاړم محلي حکومت ته، ځکه چې دهغوخلکو په فقره خو به خبر یې چې هغوی څه وخت لومړی یو ځو مړي کړي و فرصت مې ونه موند چې پیاله تاسره په دغه خصوص کې مفصل وغږیږم.

(سپین) چې دمړو دفقرې خبر واوریده نو په مینه یې پوښتنه ورڅخه وکړه چې :

ـ رښتیا هغه مو څرنګه کړه؟ خلکو ویل چې خورالویه فقره وه او بیخي درنه شوې وه خورا ډیر خلك پکښې نیول شوي وه .

خانصاحب په یوه داسې زغ ورته وویل چې له هغه څخه دده او دده په شان دنورو خانانو فتح اوبری څرګندیده:

ـ سپینه! داخبره بیخي رښتیاده چې زمه تل شپه په کار لري. که شپانه په منځ کې نه وي نو ومنه چې دپسه سابه دنړی لهمخ څخه واخیستله شي. همدا ډول که مورخانان او خانزاده ګان پهمنځ کې نهیو، نو د دغو خلکو حال او احوال به خورا ته پریشانه ښکاري اوماسلان به یې داسې سره

خیري لکه لیوان چې میزې سره ښیري. تر ټولو لا عجبه داده چې موږ دغه خلک له دومره لویو باروا وله دونه لویو مسئولیتو څخه خلاص کړو بیا هم دمصرفو جلاوې نه پرېږي کوي او هر څوک لاوایي چې (هه خانه! کور دې خراب شه، هه خانه! ستا ارتینه ....) نو ددغو مړو فقره خورا لویه او درنه فقره وه. ډیر غټ غټ ماموړین دیو بیاوړي هیئت په توګه راغلي وه خو دخدای په فضل او دمیړو په برکت دالویه قضیه موږ داسې فیصله کړه چې والله که هیڅا ته چادا ویلي وي چې له دغه ځای نه ولاړ شه هلته کښینه.

هو! دا ټول دمړو برکت دی که نه نو موږ څه شی یو، خوالبته په دې کې شک نشته چې لګښت او مصرف نو هم ښه بې دریغه وشو. ته پوهیږې چې داسې فقرې خو بې له لوی او درانه مصرف نه د ډیرو خلکو په ښوکې زولنې وراچوي. موږ دخدای په فضل داسې سوک تر و یوست چې والله که یې بیا څوک نوم واخلي.

(سپین) په داسې حال کې چې مورته یې ویل چې لږ څه تود چای راوړي خانصاحب په مینه مخاطب کړ او وو یې ویل :

- فتح او بری! داخو جو ته خبره ده چې خوله او ږبه خورا لوی کارونه کوي. تور سپین او سپین تور ښودلای شي، خودا باید ومنله شي چې پیسه هر څه کولای شي. کله کله به زما پلار ویل چې پیسه دسړي هر عیب پټولای شي.

داپه ښه ډول څرګنده شوه چې دخانصاحب په دغه بري باندې دسپین اعتماد نورهم ډیر او ټینګ شواو دغه یې دخپل کار اومقصد دلاس ته راوړلودپاره یوه ښه‌نمونه وبلله اوپه ډیرښه زړه یې مورته وویل:

- ادې جانې! زه دخانصاحب سره لږڅه دزړه خواله کوم. دا به ډیره ښه شي چې نجونې اوهلکان دې خونې‌ته رانه‌شي‌اوزموږ‌په مجلس کې راونه لوېږي، نوکه تاته‌زحمت نه‌وې‌دباندې انګړ ته ورووزه که څوك دلته زموږ کوټې ته راتله مه یې پرېږده.

دمور ښه یې سره شوه اوپه داسې‌حال کې چې لږڅه‌پرله و ایشیده ورته وی ویل چې:

- هماغه ډېلار‌خویونه درسره ځي دهغه دا قاعده وه چې تل به یې اوبه ترپروړولاندې تیولې اوهیڅکله‌یې په موږ باندې باور نـه درلـود هـرڅه کاریې په نهامه کاوه. که دخانصاحب مخ ته مې نه کتلای نو وپوهیږه چې خورا ستره جګړه به‌مې درسره کړې وای.

دا خبرې چې یې خلاصولې نو دخانصاحب پیاله یې بیا ور ډکه کړه اودولاړیدوهڅه‌یې وکړه. زوی یې په مینه ورته و کتل اووی ویل:

- سره سیئه ښه ده. موږ ټهول ستایو، خوته فکر کوې چې موږ له تاڅخه کوم پټ پټانی لرو. یه! داسې نه‌ده. زه به‌دخپلو ټهولو خبرو لنډیز اومقصد تاسې‌ته سمدلاسه ووایم.

خانصاحب خوز موږ دوست اوخواخوږی دی . هرڅه چې ده په لاس راکړل هغسې به کوو . ځکه چې دی په هره سوړه بلد دی .

موريې په دغه ډول دلاساشوه اوپه ښه زړه دباندې ووتله اوخپلو دوولونهوته يې دچرګانو دزيرمې دا وويل :

سپین دخا نصاحب څنګوابنی ته ښه نژدې شو اوپه داسې حال کې چې دخپلې خولې ناړې يې غړج تيرې کړې ورته وويل :

ـ ښه خانصاحب ! دا متل به دې اوريدلی وي چې څراغ يوازې خپله شاوخوا رڼا کوي خوتر ځان لاندې ځايونه يې هماغسې تياره پاتې وي. به دې کې موږشک نه لرو چې ستاخير خوتهولوته رسيږي خوموږ لږ څه درڅخه هيرشوي غوندې يو. که ستاپه يادوي څوموده پخوادې راته ويلي وه چې زموږ دکور کاله جنجالونه به ژر رافيصله کړي. خوبياته په نورو خبرو کښيوتې اوموږته دې هيڅ پام نه شو. اوس دغه درته وايم چې دپلارد نيامې هرچيرې ويړه اوغوريدلې پرته ده اودرسدوخت هم راغلی دی. داسې ګمان کيږي چې څلورمه برخه حاصل به يې په لاس رانه شي. ځکه چې زما ميرې ګانی اوددوی زامن اولونې خوراپه زړه توردي. سبې ته يې اچوي خوپرما اوزما پرورونهويې نه ده پيرزو. زه يې وينم اوپه غوږ و يې اورم چې هره يوه ځانته ګودانه د کوي ، دخپلو پلرو کره نغدې اوجنس ليږي چې بيايې په درد وخوري. سږکال به د پاليز وعايدات څلورمه

برخه په لاس رانه شي او نه مو د باغونو حاصلات په پوره اندازه ولیدل نویو داسي چل به جوړ وي چي زموږ برخه درنه او غونډه شي ځکه چي ته دغه کارونه په اسانۍ کولای شي.

خان د (سپین) خبره پرې کړه او په یوه صمیمانه ږغ یې ورته وویل:

- په دې کې خوځه شك نه لري چي زه هرڅه کولی شم، د خدای په فضل هرې خواته چي مخه وکړم یوه لاره په کې وباسم. دلته خبره په تاا وستا په ځوانۍ پورې اړه لري. زه یقین لرم چي پلاربه دې درته ویلي وي چي ماله ده سره څومره نیکۍ کړې وې. ده چي دادومره شتمني سره راټوله کړه دایې زما په اوږه راټوله کړه او س تاسې د کلي د کاریز له څلورو برخو څخه درې برخې خورۍ دا زما په همت. په دغه کاریز باندې پخوا شپاړس شلو کسو ژوند کاوه خو کوم وخت چي خدای پاك ستا پلار ته وکتل نوله هریوه څخه یې تهوته تهوته ځمکه ورو، ورورانیو له ترڅو چي او س دزمري برخه ستاسې ده. دا کاریز لاڅه کوې دخدای په فضل مانور کاریزونه هم ستاد پلار د پاره را نیولي دي. که به چاخوله سره خلاصوله او یا به یې ستا د پلار سره کومه لاندې باندې کوله نو سمد لاسه به مې داسې بیزوګان، داوړ ولیوان ورته جوړ کړل چي دستي به یې لکې مړه شوه. دا ځکه چي زه خوستا د دعاله برکته په محکموکې مخ لرم او ماموریـن مې هیڅ خبره په ځمکه نه اچوي.

خانصاحب سا واچوله او غوښت یې چې ییا خپلې خبرې تـه پسی دوام ورکړي خو (سپین) دده په خبره کې ولویدی:

- تادلته زما ځوانی ته اشاره وکړه نو خانصاحب تاته دې دا معلومه وي چې زه خو ځان ستا ډیر مخلص گڼم. ستا مقصد له (لاس سره) څخه دی. هغه خو مالا تاسی ته پخوا ویلې وه چې په دې باره کې تاسو فکر مه کوئ هر څه لنگی او (لاس سره) چې ته غواړې زه حاضریم چې درته دریې کړم. خو دومره ډاډ را ته را کړه چې که زموږ خبره محکمې تـه لاړه اوله نورکاله سره مې خبره جگه کړه نو ته به مې په څنگ دریږې. لومړی خو زه فـکر کوم چې دلته به ستا: دصاحبزاده صاحب او ملا صاحب په مرسته مقصد لاس تـه راشي اوکـه چیرې ونـه شو او دو ی دنـورو په لمسون زموږ د مقصد په لاره کې خنډونه اچول نو هلته به البته ....

په دغه وخت کې دانگړ دوره تکهاری ددوی تر غوږ وشو او دواړه یې له دې چې څه ووایي یو گړی پته خوله پاتې شول او هر یوه دا فکر کاوه چې دا به څوك وي چې ورتـکوي. خو خان سمدلاسه وویـل چې:

- ها! هاما! ومې پیژاند چې داور څوك تکوي دا به ملا صاحب وي. زه خو وایم چې زه تـل ستا خیر غواړم اوستـا د گټې د پـاره هر دول فکر کوم. نن غرمه ما ملا صاحب ته ویـلي وه چې ماسپښین به دلته دواړه را څو. ملا صاحب را سره وعده کړې وه چې دماسپښین له لمانځه وروسته

به راشي . . . خان لا دا وينا اخرته‌نه وه رسولې چې د (سپين) موږ رانئوتله اولږ څه‌په اضطراب يې وويل :

- په وره کې ملاصاحب ولاړدی . نجونـو ورخلاص کړ او هغه رانئوت چې دغـه دی اوس دستي بـه راورسيږي . که ستاسې خوښه وي زه به يې هغه بلې خونې ته بوزم.

خان سروښوراوه او هغه يې پـه دې پوهـه کړه چې دی د خان پـه غوښتنه راغلی دی. پـه دغه حال کې ملاصاحب په وره رانئوت. درانئوتلو په وخت کې يې په لوړ اواز وويل : بسم‌الله . . .

ملاصاحب سپين کالي اغوستي دي اوسپينه پګړۍ يې تړلې ده او هم يې دسپين ماغـوت يوه سدرۍ اغوستې ده چې په هغې کـې ژيړې تنې له‌ورايه بريښي . يوسپين څادريې هم‌پراوږو پروت دی. په‌دې کې شك‌نشته چې دغه شيان ټول سپين دي‌خوخوراخيرن‌دي په تيره دپګړۍ ولونه يې ځينې‌ځايونه خيرن او ځينې ځای بيا سپين کوتان لري.

ملاصاحب ته سمدلاسه بـله نيالۍ او څنګـوانـۍ کښيښودل شول او لومړی ترهغه چې کښيني جيب ته يـې لاس کړ او يوخيرن نسوارۍ دسمال‌اودتورو نسوارويوه کوچنۍ ښيښه يې‌راوايستله اوهغه يې دنيالۍ پرڅنډې باندې واچـول او بيا يې دخپل څـادر يوه څنډه کش کړه او کښيناست او هغه يـې پرخپلو پښو او څنګنو باندې خپور کړ.

په داسې حال کې چې دکوچنۍ ښیښې څخه یې په خپل اورغوي کې تورنسوار را اچول دغه کارېې پهخورا خوند اوبوره زړه کاوه، خان نهیې وویل :

- وېښه لږ څه ناوخته شو. خلك خوراسپین سترگې شوي دي. رښتیا چې زمانهاخره ده خدای مودې ایمان تـه خیر پیښ کړي. قـضیه داوه چې دلمانځه نه وروسته یوه ښیلي (لا تون) د ماجت دیوې برخې دجوړیدو مسئله راپورتـه کړه. هغه وېل چې دغه مصرف بایدکاریزپه شـواروزو (شبانـه روز و ) جلا کـړل شي او هغه دې د ځمکـو څښتنان ورکړي. ما ورته وویل چې یه! دا جلا باید پرسرو شي. خوده فریاد کاوه چې والله که دماښام اتام په کورکې لري، له کومه به یې پرې کړي، نوما ورته وېل چې تردېدې لاخوله پهخاوروشه. نیت دې ښه نه دی. په دین کې دونه چرت نه وهې. نوهرڅـومرهچې مندې وهې هغومرهدې خدای پسې خواروي تانهدي اروېدلي چې وا یي :

«پربږده شر وشور ددنیا ولې یې پهدې غمگین تېنگهکرهسی ددین».

خو دهغه خدای خوارکړيخوله په واك نهده اونه یې ځان پهواك دی هیڅ نه قانع کیده . دغونورو دده په شان خدای وهلو پښې لوڅو هم دده لوری ونیواوبغارې یې وهلې چې شی وربورې نه شته اخر موخبرهتاته پرېښودلهکه ددغوخدای خوارکـړو غوبزونه یو ځل تاونه کړې نـویقین وکـرهچې سبابـه پراوږو راسپاره شي اودسپین پسگرواو سپین کالو

قدر به نورهم کم شي . دالاځه کوي چې یو سپین سترګې خولاداسې خبرې کـولې چې د سري و ینبتان ورته جګ دریـدل او هغه زموږ پرخوله نه راځي .

توبه! خـدایه توبه! ستالـه بدوکـو څخه مووژغورې.

مثلاده ویـل چې موږ بزګـران بهله دغو سپین ږګرو اوسپین کالو مفت خـوروڅخه ځانونهخلاص کـرو . خیرعفو غـوارم خبره راڅخه اوږده شانتې شوه . . . . .

په دغه آن کې (سپین) ولاړ شو اودوی تهیې وویل :

- زه پوهیږم چې زموږ اوستاسې خبرې به اوږدې شي نوزه به اد ې ته ووایم چې یو دوه چرګان.وغزوي اولږ څه وریجې‌هم پخې کړي . ماښام دو دی‌به هم دلې‌وخورو. ملاصاحب کهدماز یګر اوماښام لمانځه و ر کولو دپاره تګ‌غوښت البته ولاړ به شي خوبیرته به‌دودی‌خوړلوته ځان راورسوي . . . .

خانصاحب په ناز سترګـې ورواړولې‌او لومړی تـوهغه چې دی څه وو ایـي، ملاصاحب ورته وویل :

- خدای دې برکتونه درکړي. دغسې دښه سري کارونـه وکړه‌چې اجر به یـې‌خدای‌هم پهدې جهان درکړي اوهم بهیـې‌به هغه جهان. . .

خان دملاصاحب خبره غوڅه کړهاویـې‌ویل :

- دی خوقدر دانه سړی دی. دهرچا اندازه اوقدر پیژني. کهڅههم موږ په دغه کورکښې څه لږهدوډی نهده خوړلې اوتل یې پرکوندري (دسترخوان) باندې ښه خوړو لي پوخونن به ځکه ډیرخوندوکړي چې کارهم دده کوو اودده دګټې او نفعې دپاره به دلتهصلاح مشوره کوو. نن خوموتریوې اندازې پورې ډوډۍ هم ورباندې پورده!

(سپین) په منډه د باندې ووت او مورته یې وویل چې:

- خانصاحب او ملاصاحب بهماښام دلته موږ کره ډوډۍ وخوري. تهیوه سررشتهوکړه. ورته ووایه چې دوه چرګان حلال کړي او ښه پلاو (اصطلا حاًمرغ پلاو) و رته پوخ کړي، خـو دومره دې فکراوسهچې دانورې بلاوې درخبرې نهشي (مقصد یې میرې اوددوی اولادونه وه).

کوم وخت چې (سپین) بیرته پهخپل ځای باندې کښیناست نو خانصاحب ملاتـــه وویل چې:

- د(سپین) مقصد دادی چې دده دپلار دنیا شو په شو پرته ده اودده میرې ګانې اودهغوی خپلوان یې پهچارښاخوبادوي. دده هیله دادهچې پههره توګه چې کیږي موږورسره مرسته وکړو اودهغولاسونه ورځنې وکاږو.

ملاصاحب لږ څه په چرت کښې شو او بیایې سپین تهمخ راواړاوه اوورته یې وویل چې:

- داښې مښې واوریدل چې دخدای بښلي آس دې صاحبزاده صاحب

ته وروباخښنه. په دې کې هیڅ شك نشته چې صاحبزاده خوښه سړی دی او هر څوك ورته اخلاص او عقیده لري، خو موږ دا نبیاو وارثان بلل کیږو ددین په مسئله ناست یو. نو که ستاسې مقتدیانو یوه سترګه دخدای په دغه دول دوستانو وي نو په دې وپوهیږه چې بله سترګه مو باید پرموږ هم وي. بیا په تیره دماجت امام خو حقدار وي او دلته په جومات کې د خدای په هیله اوستاسې په هیله شپې اوورځې تیروي. زه دا نه وایم چې ګوا کې تاسو له موږ سره مرسته نه ده کړې. حقیقت خو دادی چې موږ ستاسو په زکوة پایو، خو دلته مې مقصد دمرحوم هغه کالي دي چې هغه به پخپله استعمالول. . . .

لومړی تر هغه چې سپین یو څه ووایې خان وویل چې:

- هغه کالي یې لا نه دي درکړي؟ مادا خیال کاوه چې دوخته به یې دربښلي وي خو خیر دی اوس هم وخت نه دی تیر شوی. دوی خوسرګردانه دي. یووار دمړي غم اوبیا دکور کاله جنجالونه ور په غاړه شول. دی هم نوی له سفر نه راغلی، ترتاسې سپین ږیرو چې ددین ستنې یاست څوك مستحق دي؟...

(سپین) په داسې حال کې چې سریې کښته اچولی و، وویل :

- له هغې ورځې نه چې پلارمې وفات شوی دی ما والله که دځمکې سرلیدلی وي تل په ولاړ و ګرځم، هیڅ شي ته مې پام نه دی، که

نـه وي اصلي حقیقت خو دادی چې هغه شیان خـو په تاپـورې اړه لـري .
بیغمه اوسه زه به دې په دغه برخه کې نازو اخلم .

ددغو خـبرو په اوریدلو ملاصاحب نور هم پسې وغوړید او داسې څرگنـدیدله چې تابه ویل په کالیو کې نه ځایېږي. بیایـې په اورغوي کې یو څه تورنسوار په خورا نزاکت سره واچول او هغه یـې خان ته ونیول .
خان په ډیـر فاتحانه وضعیت ملاته وکتل اودلاس په دووگوتو کې یـې نسوار را واخیستل او مستقیماً یـې پوزې ته یوووړل. یوه ، یوه نیمه دقیقه بیخي چوپه چوپایـې وه. بیا دغه سکوت خانصاحب مات کړ او وې ویل:
- زما په خپل فکر کې دمرحوم په کاله کې بل داسې په مالگه سړی نه شته لکه سپین. که دمړي آب او مینه خوندي کیدله نو همدغه به یـې خوندي کوي. نو زمونږ هم کوښښ دغه دی چې دده ملاوتړو او په هره توگه چې وي له دغو او سنیو جنجا لو څخه به یـې خلاص کړو.
ملاصاحب خپل څنگواښی را بیرته کړ او ځان یـې دخان په دې خبره ناگمانه واچاوه او ورته یـې وویل چې:
- (سپین) خوشکر دی هرڅه لري سره او سپین یـې ترسرتیر دي .
پلار ورته هرڅه ډیر کړي دي ، څه پروایـې لري ، په لمنو ، لمنو که یـې بادکړي بیاهم نه تمامیږي. دی یـې څه غم لري.
خان لږ څه تند شو او وې ویل:

ـ مطلب بل شی دی، ملا صاحبه! دسپین داسې زړه دی چې له خپلو میرو ګانو سره ویش وکړي او له هغوی نه ځان جلا کړي، یوآرام او مستقل ژوند ولري. ته خو پوهیږې چې دغه کور نه‌دی بلکه دبنز و کـور دی هر څوك یې کالخوای دي. دوهم تکی دادی(سـپین) وایـي دمځکو ډیـره برخه بایدپه‌ده پورې تکیه وکړي ځکه چې دده‌میریزي وروڼه خو تـول کمکیان دي او داسې خطر موجود دی‌چې ددوی دمیندودلاسه به‌داځمکې وریا اویا په نه څه ووزي.

ـ ښه! ښه! اوس په‌مطلب ورسیدلم دده ددریمې میرې زوی خوهم اوس ښه لوی‌غوندې معلومیږي.زما په‌خیال‌پر ځان به ګر ځیدلی وي اویا به ژروګرځی.

خان لږ څه په جدي لهجه بیا ورتـه وویل :

ـ نه‌هغه‌څه کوې ملاصاحب! زموږ مقصد خودادی چې (سپین) ته یوڅه ګټه راوړوځکه چې‌سپین لوی ځوان دی او په ښه‌اوبد پوهیږي‌نو دی هم داسې سړی نه‌دی چې دچاښه وروته ګرځوي.

ملاصاحب لږڅه شهید غوندې شو اوپه‌داسې ږغ یې په‌وینا خوله پرانیستله چې په هغه کې‌دده پښیمانې او عذر غوښتل ښکاره معلومیدل.

ـ صاحبه! حافظه نوکی خرابه شوې غوندې ده که کومه نا پړیته او داسې خبره وکړم‌چې نه سره لګیږي نوتاسې ماوبخښی.

د دوی دغه مرکه هغه وخت لږ څه غړنده‌غونډې شوه چې د سپین خور پښتوس پـه لاس رانښوتلـه . دغه چـای دمـلاصاحب دپـاره دی !

ملاصاحب غوښتل چې موضوع وځنډوي، خوخان ورته وویل چې:

- دغه کوچنۍ نجلۍ د(سپین) خور ده. موږ باید خپلوخبروته پسې دوام ورکړو.

ملاصاحب بیا سرکښته واچاوه او ورویـې دخان سره وویل چې:

- موږخوددې جانداري په کارونوکې دومره لاس نه‌لرو، خانصاحب ستا خوښه ده هر ډول چې تااو(سپین) سره غوټه کړه زما خوښه ده.

ملاصاحب چې داخبره خلاصوله نویـې د چایو پیاله ورپورته کـړه څکه چې چای ډیرتود وه‌دده شونډان، ژبـه‌او تالو پرې وسوځیدل او هم په دغه سبب یـې (سور) تهو‌او واوریدی. پـه سترګوکې یـې اوښـکې وګرځیدلې. خان ددې دپاره چې ملاصاحب پـه‌ځان‌پوه نه کړي چې دده په سوځیدلو پوه شوی دی او هم ددې دپاره چې سپین ته دده په کـار کې د ملاصاحب دمرستې‌او رول اهمیت وښیې‌په‌یوآرام ږغ یـې‌پوښتنه وکړه:

- هغه ورځ دکوزکلي‌نه‌څوکسه راغلي وه اوستاپوښتنه یـې‌کوله. چاراته وویل دهغوی پرکومه‌کوندہ باندې دعوی ده ، نو‌نه یم خبر چې هـغه دې څرنګه کړه؟

ملاصاحب په داسې‌حال کې چې‌له جیب څخه یـې‌ژیړې غټې تسبیح

چې د سدرۍ په غوټه پورې تړلې هم وې راوایستلې او هغه یې یوه دوه درې پلا کښېته او پورته کړې او وې ویل:

هغه خود (لالي) اکا چې په ژمي کې مړ شو، ښځه وه. میراث خور وی یې پسې اخستې ده. ورته ویل به یې چې په خپل قوم کې میره وکړه. خو دا خوراسپین سترګې ښځه وه او دې خبرې ته تن نه ږدي. ددې خیال دی چې په بل ځای کې دخپلې خوښې میره وکړي. نو د (لالي) اکا تربرونه او دکوندې ورونه راغلي وه او پوښتنه یې را څخه وکړه چې په دغه خصوص کې څه وکړي؟ شریعت څه وایي؟ ما هم په ډانګ پیلي ورته وویل چې شریعت خو وایي چې کونده د خپل واك او خپل اختیار خاونده ده. هر چیرته چې میره کوي کولی یې شي، خو دلته یوه خبره بله هم شته چې هغه داچې دقوم رسم ورواج هم یوشی دی. زمونږ پلرونو او نیکونو داسې را تیره کړې ده چې باید کونډه په خپل کاله کې خونډي شي او آب وپرده یې وساتله شي خو خلك اوس ډیر سپین سترګي شوي دي، دعالمانو خبره نه مني. دښځې ورونه پرله غوزارشول او په دې خبره خورا پرله واوښتل. بیا مو فیصله په دې باندې وکړه چې زه او خانصاحب (خانصاحب ته اشاره) به یوه ورځ سره کښېنو او ددوی تیره به وکړو.

خانصاحب بیا ورځنې پوښتنه وکړه:

څه پورې شته او که لغ لغر دي؟ ما چې اروېدلي دي دښځې پلار ګنې په

غوښه ده اوشپه یې ښه تیریږي ته وایې څه به په جوړشي؟ په خبره ارزي اوکه‌به خوشې موچنې په کې وشلوو او څه‌به لاس ته رانه‌شي. ملاصاحب یوڅه وسل اوپه یوه اوبل کنـاتي شو او په یوپاسته غونډې زغ یې وویل :

- دوی خو پخپله سپین هډوکي دي دماښام تبې یې نه باندې کیږي اوترکورونو یې سپی په منډه اوپه غپ تیریږي . زه حیران یم چې تاولې دلته ددوی دشتمنۍ اوپانیسټۍ پوښتنه وکړه. کونده پخپله هـر شی دی او هرڅه په جوړیدای شي خو موږ دې خدای وساتي چې په‌چابه په‌جبر اوزور یـوشی جوړوو. خوداهـم وایم که چاڅه راکـړل ایسته یـې‌نه غورځوم. اوکه یې رانه‌کړل پسې غورځم‌نه - خالق رزاق دی چې خولې یې راکړي دي رزق به هم راکوي . تراوسه خویې ښه راوسولي ده له دې نه‌وروسته به هم الله یادوو.

بیا خان (سپین) ته ځیرشو او ورته یې وویل :

- ته ورشه ستا دمرحوم پلار کالي ، هرڅونه جوړې چې وي د هغه کوټونه. اوزده کوټونه، پوستین، پګړۍ،خولی اونورهرڅه چې ده استعمالول هغه را وړه چې ملاصاحب ته یې ورکړوڅکه چې د علما و خوښي اورضایت ددین په لاره کې یوه غټه کامیابي ده. داد ې ښه‌کړي دي چې آس دې صاحبزاده صاحب تـه ورکړی دی هغه هم دعا ګـوی دی

اوتل پوموز وتاسې نظرساتي. زما مشوره هم دغه ډول وه.

ملا صاحب په دې وینا باندې دګل غوندې وغوړید او په داسې حال کې چې دخوشالۍ او ښه زړه نه یې غاړې بوزیدې وویل :

ـ خدای تعالی څکه تاسې ته په رحمت کتلي دي، اوتاسې یې په ټولنه کې درانه کړي یاست چې تاسوعلماو ته په درنه او دقدر پسترګه ګوري. که دغه تاسې خانزاده ګان اودلوی زړه خاوندان نه وای نو دعلماو دشپې تیرخو به خورا سخت و. عام خلك خو عام دي، په هیڅ نه پوهیږي اونه څه کوي، دوی په خپل ځان پورې پکودي، نو دعالمانوسره به څه وکړي. زمانبه په یاددي چې په دغه کلي کې لس دو لس کاله پخوا نژدې شپاړس شلې کسه اوسیدل اوهرچا به یوه کوچنۍ کوچنۍ ټوټه ځمکه درلوده، کله چې به دریشو وخت راغی نوته باوروکړه (سپینه زویه!) چې دخپل زکوة په را ټولولو به مې نوکان ووتل او هرچابه خورا سپین-سترګي راسره کوله خوځکه چې ددوی نیتونه ښه نه وه اوپرعلماو باندې یې دومره نظر نه و، نو دهغوی ځمکي خدای پاك ستا پلارته ورکړې او هم خانصاحب پکښې بې برخي نه شو. اوس خورا په پوره زړه اوآرامۍ سره خپل زکوة په لاس راځي اوله ډیرو خلکو سره لاس په ګریوان نه یم.

کوم وخت چې بې دخپلې دغې وینا تاثیر په دوی دواړو کې په زړه پورې ولیدلنو ملا صاحب بیا خبره شروع کړه:

- پروانه لري، اوس بهدښځو لاس اړوي. کالي به بیامانبام چې ډوډۍ وخوړله شو راوړي. ماداسې بلل لکه پهخپل کور کې او اوس یې هم دغه ډول بولم.

په دغه وخت کې خان په یوژوړ فکر کې ډوب و. ملاصاحب چې کوم هوکی وانهوریدهنوبې بیا خبره غبرگه کړه اووې ویل :

- وپو هیدې خانصاحب! کالي به وروستهلههغه چې دماخستن ډوډۍ وخوړله شيرا به یې وړي. اوس به د ښځو لاس بنداواړوي. خرنگهسپینه زویه! دغسې دې نهده خوښه؟

- هوملاصاحب! هر ډول چې ستا اودخانصاحب خوښه وي هغسې زما خوښه د ه.

بیا ملاصاحب ناڅا په له خپله ځایه تروره دباندې نظر واچاوه اوبیه مقصره غوندې زغ یې وویل :

- ددنیا په کارونو کې ورك یم! لمونځ اودس خومې هیر دي.

خانصاحب! ته او (سپین) دلته کښینی، زه به لمانځه ته ولاړشم مقتد یان به راته گوري. ماچې دمازیگر او مانبام جمعه ورکړه نوبه راشم او که ستا زړه غواړي اوماجت ته راځې نو ډیره به ښه وي بیابه دو اړه ډوډۍ ته راشو.

-ملاصاحب!ته ولاړشه زه بههمدلتهلمونځ وکړم او یوه گړۍ به له(سپین)

سره نور هم وزغیږم ترڅوچې ته راځې موږ به بښې لارې چارې درته څارلې وي.

ملاصاحب سمدلاسه ولاړ شو او خپل څادر یې پر څان راتاو کړ اوله بسم الله ویلو څخه وروسته لەوره نه ووت. (سپین) لەده سره دانګر ترورە پورې ملګري وکړه اوبیا بیرته راوګرځید. خان پر نیالی باندې ستونې ستغ پروت او د خونې چت ته یې په ځیر ځیر کتل. کوم وخت چې یې د(سپین) درانئوتلو کړپارواورید نوسمدلاسه یې پښې راټولې کړې اولږ څه یې دځان وضعیت سم کړ.

سپینه! ته خو ډیر طالعمن یې، ستا د پاره مې خورا ښه اوپه زړه پورې لاره وسنجوله چې دهغې په اثر هیله کیږي چې فایده به وکړي اودکوروکاله له جنجالونونه به دې اوږې سپکې شي. که څه هم دالاره لږ څه کږه وږه ده خودومره درته وایم څرنګه چې ستازړه وي هغسې به دې چیته وشي. اوس خدای پاك ښه موقع په لاس درکړې ده.نوروروښه دې کوچنې دې. ته کولای شې چې اوس خپل موټ کول (ښکل) کړې او هغه ځمکې چې ته یې غواړې. ځانته کړې او بیا په بیغمه زړه واده وکړې اودیو خوږ ژوند څښتن شې.

(سپین) په خورا مینه ورته را نژدې شو او په داسې حال کې چې دده پر څنګوانښې یې څنګلې ولګولې ورته وویل:

- ته خوزموږ مور او پلاریې، بابا به تل ستا صفتونه راته کول

آخر چې په خپلو سترګو موولیدل او هغه مرستې به یې تل یادولې چې تابه په محکموکې له هغه سره کولې ، نوزه پوره یقین لرم چې ته زما په خیر فکر کوې او زه به هم ستا لار ښودنه هیره نه کړم او هر څه چې مې له وسه وشي هغه به درڅخه ونه سپموم. نوزه خو هم اخر پښتون یم او پښتنې زیږولی یم.

خان ورته وویل :

- په دې کې به دملا صاحب صلاح او مشوره هم واخلو. خو زه فکر کوم چې هغه به هیڅ پکښې ونه وایي.

سپینه ! تا یو ښه کار په نظر کې نیولی دی چې هغه دا وچې ملا صاحب ته د ې دخپل مرحوم پلار کالي ورکړل. زه لږ څه زړه اونازړه وم. ما ویل تابه بل چاته ورکړي وي ! ویابه پر ناګاره شي چې نه شته او هغه د ې دلاسه ایستلي وي .اوس موږ کولی شوچې په دغه کالو دملا صاحب زړه راونیسو. ملا صاحب خو حقداره دی ، بل دا چې ډیر عمر یې د لته تیر کړی دی او تل په مړي او ژوندي ، په غم او ښادی کې راسره شریك او حاضر دی . بل دا چې یو عالم سړی او دخدای دلارې نـه خبر او دنیې په مسند او مسله باندې ناست دی او زموږ او ستاسو دعاګوی بلل کیږي. که دده لارښودنه نه وي او دده وعظونه او نصیحتونه ، نه وي نو والله چې دغو خلکو خو به چې تهول لەلوږې کبدې کوي په خپلو منځو کې خوړلي وای. زه چې خان یم په یاران یم ، ته چې بدای او شتمن یې او دادومره ملکونه جایدادونـه لرې

دغه تول دهمدغو یارانو په زور خوري. ته خولااوس هلك يې، تجربه دې کمه ده ، ستاپلار دې خدای وبښي په دغو خبرو يې ښه سد خلاصيده.

صاحبه! ماته مې پلار ډیر څه راښودلي دي .هغه لاڅه کوې زما ښځپله ډيرې خبرې په ياد دي اوس خوزياتي کوچنی نه یم، زما والله که هغه ورځ هيره شي چې څوکاله ښځوا زموږ بزگرانو زموږ لنگې غوا وې حلالې کړې او زموږ په چمبر يې يمان را اخيستې اوغوښتل يې چې زموږ کورته اورواچوي. د دوی نارې تراوسه پورې زموږ په غوږوکې دي چې ويل به يې :

ـ زموږ ځمکې دغه سوايي خوربه نه څه راځخه ترلاسه کړې دي. موږ بيرته خپلې ځمکې غواړو او داسې نور...

او دامې هم نه هيريږي چې کوم وخت چې ته او ملاصاحب په دغو خلکو راښکاره شوئ او يو څو خبرې موورته وکړې دوی داسې سارمشول لکه چې په اوربانديې يخې اوبه تويې شي. اوبه هريوه لکې وځريده. په تيره بيا دملاصاحب داکلمات خومې تراوسه په غوږوکې ازانگه کوي چې اوخلکو! برخې ازلي دي. ورکړه دخدای ده، تاسې ولې ناروا کوئ او پردې سرې باندې را غورځئ! نـه مو دي اوريدلي چې : (باخـداداد گـان ستيزه مكـن) يعنی چاته چې خدای پاك ورکړې وي د هغه سره سيالي مه کوئ. تاسو ته به خدای په هغه جهان عوضونه درکړي. تاسې ولې په دې مردارې د نياپسې دومره گرځئ.

خپل عبادت، لمونځ اوادس کوی چې په هغه جهان خدا ی ښه جنتونه درکړي. نوته داماته وایه چې ګوا کې زه ستاسې په قلرنه پوهیږم؟ په هغه ورځ باندې مې ستاخبرې هم پرزړه دکانی کرښې دي چې تا دوی ته وویـل: (دخـدای امر خو دادی چې ملاصاحب درته‌واوراوه. تول محاتته مسلمانان وایاست باید هغه دزړه په‌ستر ګو وینی او دزړه په‌غوږ و یې واوری. که نه وي‌نو والله‌خو به‌دخپلو کو تهو تنبې درپسې تینګې کړم او تهول‌خو به په بندیخانو کې وراسته کـړم. تاسو څه خیال کړی دی، شکر دی پاچایـي شته، عدالت‌شته). تهول ددې‌خبر و په اوریدلو غلي‌غوندې شول‌او په‌هغه ورځ موږ دخلکو له څیړې څخه خلاص‌شو ....

سپینه ! خبره بلې‌خواته راڅخه ولاړه خو په‌دې‌خوښ یم‌چې پر بده خوانه‌ده‌تللې په‌دې ډیرخوښ‌شوم چې‌ستاداشیان تهول یاد دي. دابه‌دې‌هم په‌یادوي چې په‌هغه ورځ یوه کوچنۍ شانته نښته‌هم‌وشوه‌چې‌زما ناظر (ګند) هم پکښې ژ وبل‌غوندې‌شواودهغه په عوض موڅونه کسان کش‌کړل او څونه مو بند یان کړل خوددا زښته سپین سترګي خلـك دي ، هرڅـونه چې یـې په سر ټکوې هغومره دوی نور هم خپل شدت زیاتوي ته څه فکر کوې چې ګوندې خلك اوس په‌کراره‌دي؟ زه درته وایم چې دوی هماغه خلك دي. کله سارهشـې خومرې نه اولږه مو ده وروسته یبا تاوده شي. خیر دې وي زموږ و ستاسې ژوند دې وي، په‌نورو کې خو هرڅه پیښیږي.

څرنګه یې ښه ویلي دي چې: (له پیښې تېښته نشته.) اوس هم دا درته وایم چې داسې بې خېره خلک شته چې تل په دې فکر کې دي چې څه وخت زموږ اوستاسې بېړۍ واړوي.

له یو څه ځنډ او مکث څخه وروسته خان خپله خبره یې اوږده کړه اوو یې ویل:

- ما چې کومه لاره چاره ستا د ښیګڼې دپاره لټولې وه هغه دا ده چې تاسې سره ویش وکړی.

دوې بڼې دې یوې خواته شي او دوې بڼې دې بلې خواته، ته په خپله هغه میره له ځان سره کړه چې دهغې یوزوی او یوه لور ده. په ویش کې به زه او ملاصاحب دواړه ناست یو، هغه ځکه چې ته خو ښوې هغه لا اوس وتا که چې موږ یې ددریمانو په توګه تاته درپه برخه کړو. وروسته له څو مودې به دې میره یو څیز ته څرخه کړي، لور به یې هم یو چاته ورکړې. پاتې شو یو زوی یې، هغه به هم بیا په یوه بلا وخوړوا و په دغه دول به دهغوی د ټولو برخه هم تاته درپاتې شي. دا باید درته ووایم چې دا خو ددې لوبې یوه برخه وه. بله برخه به یې داوي چې داسې چلونه باید وسنجول شي چې دهغو نورو هلکانو ځمکې هم تاته په لاس درشي. دا دوهمه برخه یې په تاپوړې اړه لري. زموږ په مرسته ته اوس لومړنۍ برخه عملي کړه. دغه کار بیا اسانه دی. هیڅوک هم نه درپوهیږي. میره دې ناوې ده، هغه بې

میره ژوند نه‌شي کولی. میره به‌هم په‌داسې ځای کې ورپیدا کړو چې بیا
ددغه ځای‌مخ ونه وینې. پلار ګنې یې هم عاجزه او خواره ده، څه نه‌شي
کولای او نه ستامخې ته‌درتلای‌شي. ته په دې‌خبره باندې ښه غور وکړه.
که دې داخبره خوښه‌شوه نوموږ به ددې‌دعملي کولودپاره په تفصیل سره
نقشه درجوره کړو.

-(سپین) یوه‌ګړۍ دژور فکر په‌سیندکې لاهوشو. چې را پرسدکیده
نودخان دخولې نه یې داخبرې بیا واوریدلې :

هو! یوشی به کوې‌هغه‌داچې څوك ستا په‌دې‌خبره پوه نه‌شي، ځکه
چې‌په دغه وختوکې‌خلك دو مره راته په ښه نظر نه ګوري لکه چې پخوا
به یې‌کتل. په تیره بیا په دغو وختوکې‌خویوڅه بې‌لارې او بې سره پیدا
شوي دي چې‌خورا ښیلي دي اودهیچاحق‌نه پیژني نه سپین کالي پریږدي
اونه دعلم خاوند. دوی تل وایې‌چې همدغه بدایان، خانان اوملا یان
دخلکودښمنان یو. که دې دمورسره صلاح کوله هم‌یې وکړه خوله دې
کبله چې ښځې لږڅه ناقص العقله غوندې دي، نوزما په فکر ته پخپله
چرت پکې ووهه‌اوبل‌څوك‌په‌ځان‌مه‌پوهوه په‌دغه‌خصوص کې‌مادملاصاحب
سره‌هم‌تریوحده پورې خواله کړې ده، نوربه یې هم سرپه خلاص کړم.

د(سپین) سترګې وبریښیدلې او په ځان نه پوهیده چې‌دغه تجویز
دخوشحالۍ‌ذی‌اوکه‌دغم. خودې تکې‌یې له زړه‌ځخښه څکه وکړه‌چې

میره‌او خورخو به واده‌کړي اوددوی دځمکو حق‌به‌هم ده ته‌وریاتې شي.

هو! ددوی برخه به هم ده ته وریاته شي چې هغه ځه‌لږ او کوچنی جایداد نه‌دی. دې چې ددانورو برخه‌به‌هم په‌یـوه نه‌یو ځل سره‌ترلاسه‌کړي دده په‌مغز وکې‌به خورا خوږې‌هیلې وریپدا کولې. ددغو هیلو ترسرړسولو مسئله خورا اسانه اوتـرلاس لانـدې ورتـه ځلیدله. ځکه چې خانصاحب او ملاصاحب اوهم غالب گمان‌ دی چې صاحبزاده‌صاحب به هم دده هرډول مرسته اوملاتړ وکړي. خواوس به بیا په دغه چـرت کې وي چې پخپله دوی به څونه اوپه څه ډول ځنې وغواړي. کله به‌یې په زړه‌کې‌ویل چې به ښکاره او ډکه‌خوله پوښتنه ځنې‌وکړي اوهرڅه چې لازم وي هغه‌به د رسره وتړاکي چې بیا وروسته دومره غوښتنه ځنې ونه کړي چې تر «مزیې شکرانه» ډیره شي. خوبیا به یې دځان سره ویل چې اوس‌یې پرېږده کوم وخت چې کاروشي‌او ټـول خطرات‌تیرشي نوالبته هغه وخت به یـې خوشحاله کړي. یوه لویشت ځمکه که راوگټې‌نوهم تر هرڅه ښه ده او هیڅ قیمت نه لري.

(سپین) بیا په‌یو احترام لرونکـي زغ ورځنې پوښتنه وکړه:

- زما ددغـې میر ې پلار گنې که‌څه هم‌خواره ده اوڅه نه لري‌خوکللك خللك معلومیږي، که‌یوه پلا په‌لاره کې راته ودریدل او پښې‌یې ټینګې کړې نو بیابه‌څه‌کو و؟

دوهمه خبره داده‌چې تـه وایـې هلك به په یوه بلاوخورړو. کـه چیرتـه

خلك اوماماګان یې راخبر شي نو به څه جواب وایو. دا سوالونه مې ځکه دلته وکړل چې ښه ده دهر شي ترې اوس لاوترلی شي.

خان ورته وویل :

ـ زویه ! استادانو ښتنې اولاښوونې داسې دي (لکه لمسی چې اناته... وربنیې) ما دغه ټول ارخونه څیرلي دي او د هر مشکل د پاره مې په زړه پورې لاره موندلې ده. هغه کورنی څه کولی شي ؟ که په دغو ټولو کارو سرتر پایه خبرشي نو بیا یې هم څه دلاسه نه کیږي ځکه چې : موږ په سرو کې پربینبی یوکه ولاړشي عرض وکړي نو داخوزما نسوارهم نه دي ځکه چې شکردی غرانونه شته چې ویې شیند و. یوه خبره زه درته وکړم چې نن ورځ غرانی هرڅه کولای شي او هر ډول درنه ډېره ا وچتولای شي زموږ پارسي ویونکي وروڼه خواوس پیسه ( مشکل کشا ) بولي کچیرې (خدای دې نه کړي) ډېره سخته راغله نو صاحبزاده صاحب او ... صاحب خوشته، دوی چې مازې سترګې وښوروي هغه کار دخدای په فضل سره بیا شوی وي. یه زویه ! په دغو خبرو پسې به نه ګرځې. که ذې زړه غواړي چې ښې حاصل لرونکې ځمکې اوښنه باغونه ولرې او له دغه ارځنه دې هم زړه نور ډاډه شي نو دغه کاروکړه اوبیاسوکه ورته کښینه او خدای یادوه.

له لږ څه ځنډ نه وروسته خان بیا پرزغ کړل :

ـ ته پخپله ملا صاحب ته څه مه وایه هغه به زه په خپله ژبه پوه کړم، ځکه ته

به پەداسې ژبەورتەو وایـې چې وبه ترهیزي .

پەدغه وخت کې (سپین) تەخپل اکا (میرامد) ورپه زرەشو اولکه نابو بره چې یبې دخپل مقصد په لارەکې یولوی مانع لیدلی وي زغ یې کړ ه چې (دمیرامدکاکا څەتری ترې ؟)

خان دسترگو په کونج ورته وکتل اووې ویل :

ـ هغه زماپەزړه کې دومره اهمیت نەلري پخپلەدی خو را سپین زبری دی داگمان نه کیږي چې تر ډیر دې ژوندی وي، د داسې کارونو اجرا کول خو وخت غواړي، داسې نه دەچې نن موږ وویل او سبایې سمدستي اجراکړو. هرکار خپل یوترتیب لري.

دوهم تکی دادی چې تـەخبریې چې میرامداوستاپلار له شلو پنځه ویشتو کلورا ایسته هیڅ خبرې نسره کولې. دالاځه کوې چې یو د بل په مرگ خورا خوشحاله وه. گمان کوم چې قصەبه یې ستاتەوله پەیادوي. اوس هم (میرامد) وایي چې زماتەول حق ده وخور اوزه یې لـځ لغړ وشرلم، له ماسره هم څه خبرې نەکوي اوکوږ مغزی راسره گرز يځکه چې دی دغه فکر کوي او هر څیر تەوایي چې مادده له ورور سره دده په خلاف مرسته کـوله . نـو دمیرامد زرەلەتاسې تەولو څخه توردی ډیر ځلې یبې ویلي دي چې کـه تەول اوروا خلي زه بەسترگې ورکړې نـه کړم . پەدي څوورو ستیو ورځو کې چې ځي اوراځي اویا دې دپلار پرمري باندې

دومره هغی خوا اودې خواته غورځیده مقصد یې داوچې دی هم کوم شواروز (شبانه روز) مځکه په لاس راوړي اوپه دغه اړودوړ کې دی هم یوشی ترزامه کړي.

خو دوی په دغو خبرو اترو بوخت وه چې ملا صاحب بیرته ماجت نه راغی، ځکه‌چې دانګړ ورترلی‌نه‌و بې‌له کوم‌تلك او‌تهوك نه سیخ هغې خونې ته روان دی چې هلته لومړی خان او (سپین) سره ناست وه.

کوم وخت چې ملاتر لومړي انګړ تیریده نولږ شانته زو ږ یې تر غوږو شواوېږې‌کړي پوې کړي‌تکي یې‌ترغوږوورځي چې ځینې‌یې‌اوري اوځینې‌نه، مثلاً یوځل یې‌دیوې ښځې ږغ داسې واوریدچې ویل‌یې سپین سرې ( مقصد یې د سپین موروه ) خولکه چې کوم چل یې جوړکړی دی چې ځانته یې لوګی را خیژي اوڅه پخوي. څوك یې میلمانه دي؟

یوبل ږغ: دچرګانو کنهاری و.خان ... میلمه یاصاحب. . . .

ملاصاحب چې په خونه ورننوت او په خپل ځای کښیناست نوپه داسې حال‌کې چې له جیب‌نه یې‌تسبیح را ایستلې(سپین) ته یې‌وویل .

-ته خودکوراوکاله مشریې. اوس دخپل پلار په‌ځای ناست یې، دټولو خلکوسترګې تاته دراوړي ماخو ورځې‌پخوا اوریدلي وه او اوس‌مې‌هم تقریباً پخپله یقین راغی چې ستاسې‌په‌کور کې څه لږه بې انتظامي

ښکاره کيږي ، هلك ، ښځه اوکوچني ټول په خپل سر غونډي را ته معلوم شول. کمدغه وضعيت (خداى دې نه کړي) پسې اوږدشي نوستاسې دکورني نوم بهبدشي اوتاسې ته به دنيايي تاوانونه واوړي. دا خبرې دلته ستادخير دپاره درنه کوم .خانصاحب هم حاضردی. که بد وايم دی دې را ته ووايي. خانصاحب په ښه ميڼه او توده لهجه ورغبر گه کړه:

ـصاحبه ! اوس زمانه ترڅان تيره ده . څوك دچاخبرې تـه غوږ نه نيسي هرڅه سری د باندې کـولای شي ، خوکوراوکاله ته چې را شي هرڅه ورځنې هيرشي او د لـته دکالـه د غړو پـه لاس لـو بـيږي.

داحمد شاه بابا دا خبره دې نده اروېدلې چې ويلي يې دي:

«ټوله دنيامې ايله کړه بې دنغري له غاړې نه» دلته زمامقصد دانه دی چې گوا کې زه ستا د وينا طرفداري نه کوم اويا داوايم چې خپل کهول په واك کې دړلو دل ښه کار نـه دی. بلکه مقصد مې دادی چې دغه کارکه څه هم ډير گران دی خو بياهم بايد ترېوه حده پورې خـوشي اوزه هم ستاد وينا ملاتړ کوم.

ملا دخپلوی او همدردی په لهجه خپله وينا پسې اوږده کړه او وې ويل:

ستا خبره خو په سلوکې سل رښتياده. خوڅکه چې دا يولوی کور يا ديږي اوهرچا ورتـه سترگې نيولې دي نودوی ته ييخي ضروري ده چې خپله لمن تل ترخپلو پښولاندې وساتي اوبېرې نږدي چې خلك دوی

په ناوړه خوله یادکړي شکر دی غنم یې په کند و ګانو کې نه ځا یېږي .
په باغونو کې خوبې اسان ستري کیږي لويه ډله مزدوران، بزګران لري.
په دینداری کې هم ښه دي، خوکه تردې لاښه وای نوښه به وه.
«غوړي چې هرخومره غوړوي هغومره ښه وي».زه چې ده ته څه وایم له
لوريني بې و ایم. که دو ی یعنی دغسې شتمن خلك په آب وعزت کې وي
او دو دی یې پنده وي نوځرګنده ده چې زموږ هم عزت دی او دودی به
موپنده وي خوکه دوی خدای دې نه کړي داسې نه وي اویا خواروي نوتوبه
له دې لوچکا نویعنی او پره خلکو، اوپره خلك خو په هیڅ بندنه وي.
(سپین ) لږڅه سوراوشین شو او بیا یې په یوه لاپوکه غوندې زغ
ورته وویل :
-زه پوهیږم چې ستا نصیحتونه ټول زموږ د فایدې د پاره وي.
له دې کبله چې ستاپر موږ زړه خوږیږي اوزموږ د هو سایې
او نکیمرغی سره مینه لرې نوڅکه داراته وایاست. خوزه داله زړه درته
وا یم چې ماتل په دغه برخه کې ډیر کوشش کړی دی اودامې
هیله ده چې زغ مودباندې ونه وځي خوڅه وکړم هیڅ خواته مې مخ نه
اوري. دابنځې یعنی میرې ګانې مې وهلې او ترټلې هم دي خوسره له هغه
بیاهم دوی یوه پر بلې باندې دا ډول سره غورځي لکه پیشیانې. زه خوله
همدې جهته دا غوارم چې ژر ځان له دغه ډول ناوړو جنجالونو څخه

خلاص کړم او هره یوه پسر ځای کښېنوم او پخپله خپلې غریبی ته د خپل پلار په شان دوام ورکړم. دغه کار ونه به هم انشاءالله تعالی ستا او د خانصاحب په برکت اجرا شي.

دا خبره چې یې خلاص و له سمدلاسه د خپل پلار کالي چې باید له دوډۍ نه وروسته یې ملاته ورکړي ور په یاد شول او د خپل ځای نه او چته جګ شو. دواړو (ملاصاحب او خانصاحب) ته یې مخ را ستون کړ چې دیو څو دقیقو دپاره اجازه ورکړي. دا جازې اخستلو نه وروسته چټک مور ته چې په ځالله (اشپز خانه) کې یې دمیلمنو دپاره ډوډۍ تیاروله راغی او ور ته یې وویل:

ادې جانې! زما خوییخي هیر شوي و، دبابا کالي باید خوندي یو ځای سره ایښي وي، هغه تیار کښېږده چې د ډوډۍ خوړلو نه وروسته سمدلاسه یې ملاته ورکړو او هم دربانديې زیری کوم چې خانصاحب او ملاصاحب د واړه زموږ دګستې او فایدې دپاره فکر او کار کوي وایي چې دنورو میرو ګانو او میریزو زامنو او لونو لاس به داسې وکاږي چې دپای لوی باغ او دکڅ منې بستې خاورې مځکې به موږ ته په ویش کې راولي.

په دغه آن کې موریې په خوله لاس کښېښود او په اشاره یې پوه کړ چې دځالي په هغه بله برخه کې چې هلته لوی تنور هم ایښی دی ددې دوهمه بن ناسته ده او کټو ایشوي، یو او کلنه لوریې هم ورسره ده. ده بیر ته

په عادي ږغ ، خولـې څه سوکه ورته وویل چې :

ـپروانه لري هغه خو په غوږ ونو درنه ده څه به اوري ، نجلی یې پهدې خبر ونه پوهیږي.

ددې وینا وروستی تکی یې تمام او چې دځالي هغې بلې برخې ته ورننوت اومیرې ته یې وویل :

ـ دلته څـه غواړې ؟څه ورکـه شه په هر ځای کې ستاناپاکه ارواح گرځي یو چیرې به در څخه خلاص نهشم بلادې پهداپلن مخ شه.

لومړی تر هغه چې داځه ووایي دهغې کوچنی لـورو بیر یدله او په ژړا شوه او دمور په څنګ ورننو ته داځکه چې دوې ورځې یخوایې پهځیره دا دول وهلې وه چې خوله یې په خاورو تللي وه بیایې میرې پهقهر ورته وویل :

زره دې وچ شه ! بابایې لاهم ته رایاندې کوې؟نن خـو دکتبوې دیخولو ولو زما و، دودی مې هم د(جانان) په مایني یخه کړه(جانان ددوی بـزگر وه). پخـپله خو تاسې دځان دپاره چرگان غزولي دې اوور یجې یخوی . بـربزی اوغږ ومبی لاپر مالرې؟ دابدو کردې خاورې شه .

د(سپین) مور سمدلاسه ورتـه راغله او بې لهدې چې لږ څه د ادب مراعات وکړي په ښکنځلو یـې خوله پورې کړه نژدې وه چې خورا لویه ماره ځینې جوړه شي خو(سپین)دوی سره پورې وهلې او خپلـه مـوریـې بیر ته دځالي دابلې برخې ته راواستله. بیایې موروړتـه وویـل :

کالي لهماسره نهشتههغه خودي دکشري میرې سره دي، زه پهخبره یم چې
کالي یې تهول یو ځای کړي دي او (گوگو) کې یې ایښې دي. یوه ورځ بې
ماته هم وویل چې کالي بې نغښتې دي اوکه سپینهغه چاته ورکول نو له ما
څخهدې یو سې خو پهدې څوورو ستیوور څوکې دالهماسره یو ځه برسکه ده
اوکه یې نهدرکول نو نیغ د (گوگو) خواته ورتیرشه اوبخچله یې را واخله.
سپین پهدې وبیر یدهچې داب میلمانه یې یوازې په کوټه کې پرې ایښې
دي اوبخچلهدښځو ددعوا اوجگړې بهجال کښیوتلی دی‌نو هغهپهبیره دهغې
میرې‌دخونې خواته ورتیرشو اودایې دځان‌سره غوټه کړې وه چې کهیې
په سمه درنه کړې‌نوسمدلاسه به پهکې لوبزې اوداسې بهیې وهې لکه ...
خود (سپین) ستوری لوړو. کوم وخت چې دی ورته دهغې میرې پهخونه
کې یې یوه کوچنۍ انه کلنه میرېزۍ خورناسته وه او سپین تـه یې وویل :
- ادې اوس دستې دلوادې کره ورغلـه را ځي.
(سپین) لژڅه په تریو تندي ورته وویل:
- دبابا کالي یې چیرې ایښي دي؟
نجلۍ له واره د (گوگو) خواته ورغله اوهغه کمبـله یې پورته کول
غوښتل چې پر گوگوې ویره راخرولې وه. خووس یې پرې ونه رسید او
ورورته یې وویل: «دلته لالا!»
(سپین) سمدلاسه تهول کالي له گوگو څخهرا وایستل اودخونې پر غولې

باندې يې واچول بيايې نوبه خوراخوشحالی اودبرياليتوب پهزغ وويل:

«زرغونه شې خورجانې !»

هر کله چې کالي ډير وه نو هغه يې په دوه پلا يووړل. ملاصاحب چې (سپين) تر کالو لاندې بار وليد خوراخوشحاله شو او تندی يې وير سره ولاړ او له ډيرې خوشحالۍ ځخه تقريباً غاړه سره مبنتې، خو په زحمت يې ورته وويل:

-سپينه زويه ! پورې ستړی شوی به يې؟ تاخو به کشر انو ته ويل چې دغه کار وکړي.

- خانصاحب باندې را زغ کړل:

-ملاصاحب خو دې اوس وغتاوه سپينه ! داسقاط دورځې کسات دې وروکينبی. ملاصاحب ! ما خودرته وويل چې دمرحوم په مينه خلك پاتې شوي دي او داسې هم نه ده چې ته به وا سپيره ډاگ دی.

سپين بيا دباندې راوتل غوښتل چې ملا ورته وويلی:

- له خيره؟ راشه کښينه.

نور لا هم شته چې هغه راوړم نوبه بيا کښينم.

په دې چې ملاصاحب له ډيرې خوشحالۍ په کاليو کې نه ځاييږي خانصاحب وږوهيد او په يوه احسان اچوونکې لهجه يې وويل:

-صاحبه پريږده چې هغه هم راوړي. زما هم دغه اټکل وچې نور کالي به هم وي ځکه مرحوم خو يو او پړه مزدور اويابزگر نه وچې خلك بايد ددوی

دغازي کالي سمدلاسه وسوځي چي له سپږو، خیر واو نارو غیو څخه خلاص شي.

دخان داپورته وینا چي تمامیدله سپین بیا په کالو بار راننوت او په هغو پخوا نیو کالو باندې یې واچول. ملاصاحب دې منظرې خورا ځان تـه جذب کړ او بې له ارادې یې وویل :

ـ شکر دی خدایه چي په دین داسلام یو! خدای خـو موږ او تاسې ته هر څه راکړي دي خو مازې موږ یې دلیدو سترګې نـه لرو. الله تعالی...

په دې ځای کې خانصاحب دده خبره غوڅه کړه او ورته یې وویل چې :

ـ کمدې خوښه وي لومړی تر دودی به کالي وګورو، خو کمسپین وایي چي دودی یبخي نژدې او تیاره ده نو البته وروسته له دودی به یې وګورو.

(سپین) ومسل :ـ دودی هم نژدې ده.

ملاصاحب وویل :

ـ په کتاب کې یې راوړي دي چي « لومړی طعام بیا کـلام » د کالو کوته خودرنه اولویه برینبي. کـه اوس یې په لید وپیل وشي داسې ژر به یې خلاصه نـه کـړو خو پـه مړه ګیـډه چي دغه کـار وشي خورا به خوند وروي. خو بیا هم که ستاسې خوښه وي.

خانصاحب غوښتل چي څـه ووایي خو ملاصاحب بیـا خپلـه خبره پسې اوږده کړه او وې ویل:

ـ موږ او تاسې باید په هر حال شکر وکاږو چپ له کفر. خانصاحب که

مې له زړه پوښتې دپښتومتل دی چې ( په ګازره یې نه یم په خرپ یې یم ) صاحبزاده صاحب خوزموږ او ستاسې دسرسترګې دی او لوی روحاني سړی دی . خوداهم بایدووایم چې موږهم دنبي په مسئله ناست یو. هغه بله ورځ چا په خبرو کې یاد ه کړه چې سپین د خپل پلار آس سره دټولو اسبا بو هغه مبارك ته ورولیږه په دې خو خورا خوشحاله شوم چې بې ځایه ګام نه دی اخیست شوی اوزما او دده په مینځ کې هیڅ توپیر نه شته خولږ څه مې دازړه راته لږ شوچې زه خو به یې هم یادولم. بې له دنیایي او مادي مرستو چې ماله مرحوم سره کړي دي، ټول عمر یې امام هم وم. په کوراوکاله کې هم ځان داسې لږ غوندې بېسیکه راته ښکاریده خواوس تاسې او سپین دزړه پر پرهار باندې پند کې را کښیښوده خدای دې تاسو په درنسترګه وګوري، خدای مو جنتو نه ځای کړه! موږ سپین پګړي خوستاسو دعا ګویان یو، ټل ستاسې ښه او بری غواړو.

ملاصاحب خپله خبره په مشکل سره خلاصه کړې وه چې دسپین خور ګډوه اوچلمچې را وړل. خا نصا حب خپل دواړه وزرونه اوچت کړل او په داسې حال کې چې ستړیا یې کښله وویل :

ـ یوچړي له ملا څخه پوښتنه وکړه چې په نړۍ کې کوم ساز خوند کوي؟ ده ورته وویل چې دچلمچې اوګډوې ساز ترهر څه ښه خوند کوي. ځکه دغه ساز دنعمتونو دراوړلو ځرك وي نو اوس هم دګډوې او

چلمچي شرنگهاري خورا خوند وکړ .

ملاصاحب په داسې حال کې چې د خپل لاس تسبیح یې سره غونډ ولې اوجیب ته کولې یې وویل :

- ته ښه وایې ! په کتابوکې یې دخوړ لواوڅکلو دشیانو تعریف خورا ډیر راوړی دی. خواوس که رښتیا درته ووایم زمانه اخره شوې ده په هیڅ شي کې خوند پاتې نه دی، له هر شي څخه برکت تللی دی ، له انسانانو هم سپك ختلی دی ، خدای مودې ایمان تمخیر کړي.

ده چې داخبره تماموله دسپین خوړ له مخه چلمچي ورته کښیښوده .

ملاصاحب اشاره وکړه چې لومړی خانصاحب ته اوبه ورواچوي، خو خانصاحب لږ څه په جدي لهجه وویل :

- په داسې ځایوکې خولومړی حق دعلماو وي علما خو زموږ دسترگوتوردي، کمدوی نه وي نونږی نه شته، هر څه به وران ویجاړ شي . په تیره بیا زموږ دخانانو دپاره خو خورا مرستیال بلل کیږي. ورواچوه نجلۍ ملاصاحب ته اوبه واچوه!

ملا په داسې حال کې چې لاسونه یې اوبـوته ونیول غاړې یې تازه کړې اوبه خوازمزغ یې وویل :

- سپینه! ماتانه د کوراو دکاله دښه انتظام په خصوص کې څه وویل خوبیا زموږ په خبروکې نورې خبرې راکښیوتې، نومقصد مې داوچې

زه دلته اوس راتلم دښځو زغ مې تر غوږو شو چې ما گومان وکړ چې دوی لـه شـنه زړه خبرې کوي نوما هغه وخت له ځان سره فکر وکړ چې کاشکې لـه دغسې لـویو کـورو دښځو زغ پـه زوره نه اورېدل کېدای او هـر کارېې په پټه خوله اجرا کېدای.

کوم وخت چې کوندرې وغوړول شـو او ډوډۍ پرې کښېښودل شوه او مـلاصاحب ډوډۍ تـه را بېرته کـېده نـوېې بـیا خپلو دواړو ملـگرو (خانصاحب او سپین) ته وویل :

ـ لومړی ترډې چې په ډوډۍ پیل وشي (بسم الله) ویل دډوډۍ بـرکت زیاتوی او کوم وخت چې ډوډۍ وخوړلـه شي نو (شکر) ویل دنعمتونـو دډیـروالي سبب کېږي، کـه څـه هم دغه ټکی ماتاسوته څو څوځـله ویـلی دی خودلته مې ځکه بیا دړ په یاد کړچې ډوډۍ راوړله شوه.

دډوډۍ له خوړلونه وروسته ملا صاحـب د لاسو د پـر یمنځلـو نه وروسته دکالو خواته چې سپین دخونې په یوه گوټ کـې کوټه کړي وه ورغی او لومړی یـې پوستین را پورته کړ. دغه پوستین دگیدړ و اوخورا ښه خړ، وریښمین پوښ یـې درلوده. دگیـدړ وپه وریو یـې لاس وواهه اودا چې تارونه یې خورا پاسته او په زړه پورې وه، خوشحاله شو. بیایې دکالو هره ټوټه را اخیستله او بلې خو اته یـې کښېښودله. خانصاحب هم ورته ورغی

اودپوستنین او داوزده کوټ صفت یې خورا ډیروکړ اووې ویل :

ـ ملاصاحب ! اوس نو له هرې خوارۍ وروتلې خدای داسې شیان درکړل چې په خوب کې دې نه وه لیدلي. خدای دې ډیلار برکت په سپین باندې کښیږدي . اوتوفیق دې ورکړې چې هغه رویه چې دده پلار لهماو تاسره درلوده پسې تعقیب کړي . زه دا نه وایم چې ښه رویه او ښه کړه وړه یوازې له یوې خوا کیدای شي زما مقصد دادی چې ټنك خوله یولاس نه خیژ ی. نوموږ تهدې هم خدای وس راکړي چې هغه څه چې دسپین خوښه وي هغسې وکړو. په تیره بیا څرنگه چې ماورته وویل زموږ د داسې ښوکولو او مرستې وخت خورا نژدې دی .

په دې آن کې د (سپین) مور اودوه نورکوچنی وروڼه را ننوتل او . د لوښواوکوندرې د تهولو لوهڅه یې وکړه . خانصاحب دا پورته خبرې چې ددعارنگ یې هم درلود، د(سپین)په موربانده خورا ښې ولگیدې او خانصاحب ته یې وویل :

(سپین) خولا اوس هلك دی پهتولو چارو او کارو دومره پوه نهدی که څه هم دده پلار ډیر کوښښ کاوه چې دی ښه (باولی) کړي او د دنیا په هره چاره یې پوه کړي خوله یوې خوا ژوند مهلت ورنه کړ اوله بلې خوا دانورو ښځونه پرینبود اوتل بهیې په غوږونوکې دول دول ناوړه اوبې حقیقته خبرې وراوکړې چې پرده باندې به یې یوراز یابل راز اغیزه کوله

خانصاحب ستا قدر خوپرمـوز دی او تل تاموز له بيابانه ښه ساتلي يوپه يوشي مـې اندیښنه خورا زياته ده خانصاحب ! خدای بـه يـې کوي او ته به يـې کوې مقصدمې دسپين پچه ده چې را غورځيدونـکې ده که سبزراغلهاو که له کاله. خدای دې نه کړي که دده پچه راغله نوټول کوربه سرې غرمـې ته ووزي. زما نوروزامـن واړه دي او ښځ يان به مې اومـه وخوري. که څه هم يوه ورځ دسپين پلارهم تاته پـه دې باره کې څه ويـلي وه اوتاورسره (هوکی) کړې وه چـې له دې سرګردانۍ څخه به يـې خلاصوې ، خوبيا په دې برخه کې څه نه دي ويـلي شوي.

خانصاحب دواره په را درسته کړه:

ـ ادې! دا څه کار دی؟ موږ خوستا د دعاله برکته پيلان په ګنده منډو و الله که يـې څوك پته مونډلای شي او ته داسې په خواره خوله راته وايـې. تاته زيری در کوم چې هغه مـې دوختنه له جدول څخه غورځولی دی هيڅ پچه يـې نه غورځي، خوکه چيرې يې پچه راغلې هم وای نوما او دده پلار د ي ته ښه او په زړه پـورې لاره سنجـولې وه هغه دا چې سمدلاسه بـه مود . . . . . صاحب په مدرسه کې څـهره کړی وای او پـه دغه ډول به د علم ديـن دتحصيل په نامه سرې سترګې ګرځيدای، والله که چا چپ ورته کتلی وای. خودا درته ډا ډ درکوم چې دې ته هم حاجت پاتې نه شواو کارمو دې سره جوړ کړی دی، که داهم فرضاً نه وای شوی، شکر د سپين دنيا

خولږه نه ده ، دامتل خوبه‌دی اروېدلی وي «پیسه د زوی سروهي.» نو ستا حلق په څه وچ دی!

د دوی ددې خبرو په وخت کې ملاصاحب (پوستین) اغوستی و او هغه یې په ځان برابراوه اوهره گړی یې خپلو پښو ته کتل چې پرجوړ دی اوکه اوږد؟ خانصاحب چې خپله لومړی خبره خلاصوله نویې پرزغ کړه:

ستا او دخدای بنبلي ونه خوسره برا بره غوندې ښکاریده خو پوستین یې لږ څه اوږد ښکاریږي زه ددې تکي پرخوایم چې لږ څه اوږدوي ښه دی ځکه عالمان تل اوږده شیان اغوندي او سرترپښو پوري پټ خوښ دي.

په دې حال کې دسپین دمور اوښکي دلاتین تررڼا وځلیدلې او یوه دقیقه وروسته کوم چې ملاصاحب پرځان باندې دمړي بـالاپوښ سماوه ددې سوك شو خانصاحب په ملاباندې لږ څه په‌منت لړلي زغ ناري کړل:

- د اشیان اوس پریږده هرکار خپل وخت لري. د ملاصاحب اصل تکي‌ته پام شو او په بیړه یې هغه له ځانه لرې کړ خود نورو کالو په ترتیب بوخت شو ، په‌دغه فکر کې وچې دابه په‌څه‌ډول په یوه پلا یوسي. لومړی تردې چې سپین ته‌و وایي چې یوبنزگر ته زغ کړي چې دغه شیان بیا لـه ده سره ورسوي ، د خانصاحب زغ یې ترغوږشوچې د سپین موریې دلاسا کوله او ورته یې ویل :

- مرگ خوحقه پیاله ده چې هرڅوك یې څښي. خدای بنبلی خورا

طالعمن سړی وچې دخپل مشر ژوی او نور و خپلو خپلوانو په یامه پټ شو
او هم په دې بختور دی چې سترګې یې ترشا کږې نه دې ځکه چې کامل
یقین یې وچې دنیایې دومره ډیره کړې ده چې لمسیان به یې تمامه نه کړی شي.
نو ته باید په دې سرلوړې شې چې نن ورځ ستا دمیره داسې ښه شیان پاتې شوي
دي چې هغه تا سوملاته ورکوی او یا یې خیراتوی. په دې باندې باید تاسو
شکر وکاږی. که خدای بښلي څه نه درلودای او لکه دانور او پره او لوڅ
لغړ خلك (خدای دې نه کړي) مړوای نو هم به ناسته وې. یه ادې! ته باید تر هر
چا ډیره خوشحالي وکړې پله خبره خو داده چې تا داکالي که څه هم دخدای
په نامه ورکړل، خو داسې ځای او داسې سړي ته دې ورکړل چې هغه
ستاسې په دنیا یې دردهم خوړلی دی او خوري یې.
-که مې له زړه پوښتې نو وروسته له هغه چې د(سپین) پلار دوهمه ښځه
وکړه ما ته یې بیا دزړه خوازه نه دې راکړې او سم زغ یې را باندې کړی
نه دی، زما او دده عمر تېول په خواشینۍ کې تیر شو نو اوس هیڅ دلیل
نه شته چې زه دې پرده باندې وژاړم او یا دې په دې باندې وژاړم چې دده
کالي ولې بل څوك اغوندي. هسې مازې غریب راته و دریداوبې واکه مې
اوښکې له سترګوتوی شوې، خوله یوه جهته مې په دده خوار هم زړه سوځي
هغه دا چې په دغه دومره دنیاکې ده دارامۍ نفس ونه کیښ او تېول عمر یې
په خواشنۍ او غم کې تیر کړ. که به دباندې لاړ، نو له خپلو بزګرانو او پورو ړو

سره به په سرو تلی و او کورته به شین زړه راغی او کښیناستلی به لا نه و چې د ښځو او هلکانو له جنجالو سره به یې مشغولاوه. په یو سبب خو ښه شو چې خدای یې خوله پټه کړه او لږڅه ارام شو.

له لږڅه سا اچولو نه وروسته یې بیا وویل :

- خان صاحب ! په دې زړه راپوره کړ چې دهلك (سپین) دېچې ترې دې ترلې دي. ماځوځله په دې برخه کې له سپین څخه پوښتنه کړې وه. خو هغه ماته کوم په زړه پورې ځواب را کړی نه و خو اوس دې (خیر یوسې) زړه پر را پوښتنی کړ.

لومړی تر هغه چې خان بیا یو څه ووایې سپین مورته لږڅه تر یو شو او ترشوندانو لاندې یې وویل:

- ادې ته خو بیا باندې شوې. کله به له ایشه کښینې ؟ بس دی پرې موږ ده چې موږ یو څه خبرې سره وکړو.

ملا:

- سپینه ! دمور په خوله پورې ډیر مه ښله ! په کتابو کې یې راوړي دي چې جنت دمور وپلار تر پښو لاندې دی.

خانصاحب:

- ادې ! موږ چې اوس له دود ی خوړلو څخه بیغمه شو نوغواړو چې ستاسې دکور وکاله په شاوخوا کې یو څه سره ووایو او په دې

برخه کې ځانونه سره یوه کړو. نوکه ته موږ یوه ګړی پریږدې ښه به وي ځکه چې بیا ملا صاحب دماخستن لمانځه ته درومي.

دسپین مور سره لمخپله کوچنې زویه سمدلاسه ووتله بیا ملا سپین ته وویل:

- لومړی ترهغه چې بزګران ځملي او بیده شي که دې چاته وویل چې بیا له ماسره دغه کالي ترکوره پورې ورسوي ځکه چې تیاره ده زه یوازې ورلای نه شم تاته دې خدای برکتونه درکړي، ښه دې لاندې باندې پټ کړم اوس مې نو مظلمه په خپله غاړه.

خانصاحب:

- ښه وایې سپینه! اوس لا یو بزګر خبر کړه، دوی خوچې لمر لا په متې لویدلی وي په خپلو غارو ننوځي.

ملا صاحب! ترخوچې سپین بیرته راګرزي ما وتابه یو ځه سره وګړیږو.

سپین چې تروره ووت نو ملا صاحب په داسې حال کې چې دخپلو سپینو زرو په غابن تنبونې یې دغاښو په تنبلو پیل کاوه خانصاحب ته یې وویل چې:

- ستایوشی ترزامه شو او کله تر اوسه پورې لا دغسې ناست یې؟ موږ ملایان یو ښه خوی لرو چې په لږ شي هم غاړه باسو خو ستاسې زړونه لوی دي او په دغو سپکو شیانو موښه نه کیږي.

خان:

- زماغم مه خوره ملاصاحب! موږ ته به هم خپل نصيب راورسيږي صبر به شي دې،نه دې دي اروېدلي چې د (صبرو نه په مراد پخيـږي).

ته غوږ ونيسه! اوس يې خـرنګه کـوي چې د دوی لاس سره وحيږي. ماخو پخپله داسې اټکل وهلی دی چې بايد لومړی دوی سره جلاشي يعنی ويش وکړي. بياهره ښځه پوهيږي اوکاريې، مګر په دې ترتيب به ددوی ګذاره لږ څه مشکله غوندې شي. له دې کبله چې دغه مشکلات ايسته کړل شي نو ښه داده چې دوې ښځې سره له خپلو اولاد و يوې خواته شي اودوې نورې دې بلې خوا ته .

دسپين مور او هغه ښځه چې يو زوی او يوه لورلری سره يوځای شي او نـورې دوې دې يوځای بـلې خواته خپله لاره وهي.

سپين دې ته خورا پـه تلوسه دی چـې ژر تر ژره هغه کښته لوی باغ د ځان کړي. ځکه چې په کلي کې بل داسې ځوك دخولې دېريکړې سړی نه شته نو څرګنده ده چې زه اوته به په دغه کارکې ناست يو او دريم توب (منځګر توب) به کوو. زما خو دغه باغ ځکه په سپين باندې لوريږي چې دی يو سړی بريښي او دسپين کالو او سپين پګړ و قدر ورسره دی. يوه ورځ که سړی په کوم ځای کې اړ اومحتاج شي نو دده له دنيانه به ګټه واخلي دغه نورور و به خو يې کوچنيان دي اوشپې وورځې پرې تيرې شوي نه دي

نو له دې کبله دوی د هیڅ نبې نه شی کیدلای. نو ماغوښتل چې له تاڅخه پوښتنه وکړم چې څه وخت به د دوی لاسونه سره کاږ واوسپین ته د دغه لوی باغ ورکولو ته دشریعت غاښ څه ډول برابروې؟ خدای دې خیر کړي دا خبرې خو په سرکې اسانه دي، دومره ډیـر کونجان نه لري که دې خو ښه وي صاحبزاده صاحب به هم خبر کړ واودهـغه په مخ کې به کار په خپل زړه سره پرې کړو نو وینې! څوك به څه ویلای هم نه شي هر څوك به وایـي چې ویش په سمه شوی دی. که څه هم زما کامله باور دی، چې هیڅوك دخدای په فضل موږ ته کاږه کتلی نه شي او هر څه چې موږ وکړو هغه عادلانه گڼـي، خو بیا هم داحتیاط دپاره زما په خیال دغه تکی ښه دی، او س خوز مانه بده ده، په هره خبره کې خاشې ماتوي که ته بل څه پکښې وایـې نو هم ووایه زه یـې منلو ته تیاریم، خو په دې شرط چې له شریعت څخه مخالف نه وي.

خانصاحب:

خـدای مـودې لـه دې څخه وژغـوري چې مـوږ لـه شریعتـه مخالف گام اخلو شکر دی مسلمانان یو، الحمدالله په دین داسلام یـو تا په خپل عمر کې داسې کار لـه ماڅخه لیدلی دی چې هغه پـه شـریعت برابر نه وي هو! په دې کې شك نه شته چې ولسي رسم ته هم گورو خو هیڅکله داسې نه کوو چې شریعت تر پښو لانـدې کړو.

سبا به د (لالي) اکا د کونډې مسئله فیصله کوو. نه وا هغه به له شریعته مخالف

فیصله کوم؟ که څه هم ما دوخته په خپل زړه کې غوټه کړې ده چې ښځه به یو بل
چیر ته خر څوم، خو دادر ته وایم چې دغه کار به تر هغه وخته پورې و نه کړم
چې د شریعت غائبې ورته برابر نه کړم. تا ته معلومه ده چې مال زدا سې
کار و نه کړي دي چې په هغه کې مې له تا څخه مشوره نه وي اخیستې او ته هم
تر هغه پورې فتوی نه راکوې تر څو چې یوه لاره ورته برابره نه کړې.
زه خو تل د شریعت سره مینه لرم. د همدې شریعت په برکت موږ ته یوه
خوله مړۍ رارسیږي او بل خوک پر لاسو نو راته او به اچوي.

ملاصاحب دده ښه او دمړانې کارونه وستایل او وې ویل:

ستا په غیاب کې ما تل ویلي دي چې ته د شریعت سره خورا مینه لرې.
هیڅ وخت دې شریعت خوار کړی نه دی. بل خوی دې دا ښه دی چې
پر خپل لمانځه او داسه باندې ښه ټینګ ولاړ یې. ستا لمونځ ما قضا نه دی
لیدلی. هو! هر څه چې سړی وکړي او هر ډول ګناهونه چې د سړي نه
صادر شي، خو که پر خپل لمانځه او او داسه باندې ټینګ وه نو خدای
تعالی ورته تر هغو ګناهونو ورتیریږي او عفو ورته کوي.

دا چې په ولس کې ستا شاڅمکې تښه نه څي او څوک دې را پرزولای
نه شي علت یې هم دا دی چې دین نیولی یې او د هغه په حمایت کې یې.
بندګان خو تل ګناهکاروي، درواغ ورځني وویل شي، د بل حق ورځني
خوړل کیږي، ظلم ورڅخه وشي او په سوونو کارونه یې له لاسه

وشي، خو چې کليمه شريفه ووا يې اوخپل لمونځ اوادس وکړي نودير اميد شته چې خدای تعالی به يې بيرته سپين سپيڅلی کړي. ملاصاحب لاخپل دغه تقرير خلاص کړی نه وچې (سپين) په پټنوس کې دچايو لوښې په لاس په خونه راننوت اوملاته يې دا د ورکړ چې دوه تنه بزگران يې د دغه کار دپاره موظف کړل. يوگړۍ وروسته به راشي اومرسته به درسره وکړي.

بياخان وويل چې:

ـ شکر دی خدايه، زه راضي يم خوته مه شې ناراضه . ملاصاحب! دا دسرکاري دفتر وکارونه خوزما نسوار نه دي خو دغه په شرعي مسائلوکې يوڅه مات وگوډ کيږم. اوس د سپين کارڅه وخت او په څه ډول خلاصوې؟

ملاصاحب:

ـ څرنگه چې دخدای لاره اودشريعت مقتضی وي هغسې به کوو.

خان:

ـ ملاصاحب! د پښتو دغه متل به نه هيروې چې وايي (برخې ويشه مړ ونه گوره.)

دده دپاره بايد يوه په زړه پورې لاره وسنجول شي.

ملاصاحب:

څرنگه چې مالومړی درته وويل دغه کارخو په سرکې اسان دی.

پــه دغه ترخ کې څوورځې تیـرې شوې . او په دغه ضمن کې بـه خانصاحب اوملاصاحب سره لیدل کتـل اوپه دې بهیـې بحث کـاوه چې ددغه بدای د کاله مشکلات په څه ډول حل کړي.

یعنی په دې ډول یـې حل کـړي چې (هم خرما او هم ثواب).یوه ورځ ملاصاحب دسهارله لمانځه وروسته دخان کره لاړ او هغه ته یې وویل:

- زه پوهیږم چې ته ددغه کاله دوست یې. او پر دوی باندې هر ډول پیرزوینه لـرې. نوراشه داسې وکړه چې (سپین) خوزلمی دی او دځان پـه خیر و شر ښه پوهیږي هغه ته به څپله برخه ورمعلومه کړو، ددې نورو صغیرانو دپاره به شرعاً یووصي وټاکـو اوهغه وصي به ددوی زیرمه ترهغه وخته پورې کوي ترڅو چې دوی لو یږي. نوزما په خیال ددوی وصایت هم ته پــه غاړه واخله . په دغه صورت کې ته له (سپین) سره هر ډول ښه کولای شې اوځرنګه چې دې زړه وي هغسې معامله کولای شې. خوداهم څـوشرطونه لـري، لومړی داچې دا درې ښځې پـلار ګنی لـري. یعنی دیتیمانو ماما خیل دي هغوی باید په دغه راضي کړل شي اویا په یو ډول ددوی زړونه په لاس راوړل شي چې په دغه کارکې خاشې ماتې نه کړي. دوهم داچې دصاحبزاده صاحب ترغوږ هم داخبره ورتیره کړلـه شي . ځکه چې هغه مبارك هم ددې کاله دهوسایي اوښه والي سره مینه لري اوتل دمرحوم په آس سپور ددوی کره راځـي. دریم داچې پخپله کوندې باید

رضا کړی شي ، په دې ډول نو کوم وخت چې ته وصي شوې ، نو ومنه چې دتهولو به پکښې خیر وي ، یعنی هم تاته ښه دی هم سپین ته او هم کوندو یتیمانو ته.
د(میرامد) په خصوص کښې باید ووایم چې د هغه زړه سوړ دی او دخپل مړه وروړ له کورسره دومره علاقه نه لري چې صرف یو څو ورځې دورې دورې وڅغاست ، خو بیاچې یې وضعیتونه ولیدل او په دې پوه شو چې کوم شی نه شي ترینه جوړ ولای نو یې بیخي لاس ورځني واخیست. له دې کبله (میرامد) په هیڅ وشمیره. پر ته له دغه په(میرامد)هیڅ اعتماد هم نه لري ځکه چې تهول عمریې له خپل مړه وروړ سره په دعوواود نګلو کې تیر کړ او هر چیرې به یې نارې سورې وهلې چې دده حق یې خوړلی دی نو ګمان نه کوم چې هغه ته دې څوك مخه ورکړي.

خان په داسې حال کې چې د ډیرې خوشحالی په کالوکې نه ځاییده ملا ته وویل :

ـ دغه کار به شرعي مشکلات لري. نور خپل اوخپلوان یې ډیر دي.
ستا صداقت ، ښه سړي والی اوداچې دخلکو له حق خوړلو څخه دې بدراځي ستا دوستانو ته به معلوم وي نو که هغه ستا په «امانت داری» باندې شهادت ورکړي نو البته شریعت خوتل په دغه ډول صادق وصي پسې ګرځي.
که له مانه څوك پوښتنه وکړي نو زه به وروسته له هغه چې شاهدان تیر شي فتوی ورکړم. شاهدان مې ځکه وویل چې خبره په شریعت برابره شي .

خان صاحب:

شاهدان خو به دیوې پیسې شل تنه درته راولم. ددوی څه کمی دی خو چې خپلو بزګرانوته ووایم د شریعت لارخو به را برابره کړي راغلودي‌نه چې دکوندو رضایت په کار دی، داهم دومره ګران کارنه بریښي که دخدای‌تعالی اوستاسو اودصاحبزاده صاحب نظر وي نوباور وکړه چې هغه هم په یوچړوك کیږي.

خان لومړی دې‌مسألې‌ته ځیرنه و. خوچې ورروسته‌یې ښه چرت په کې وواهه نویې دخپل وصایت دامکاناتوموضوع ښه ترا ترسترګو رونه وبریښیدله اوله ځان سره یې فیصله وکړه چې لومړی ترهر څه یوڅو پوروري ورته پورته کړي او بیا هغه پخپله ورفیصله کړي او په پای کې دده له مقصد سره مرسته وکړه شي.

سمدلاسه‌یې خپل ناظر یو دوو داسې کسانو ته ورواستاوه چې دهغوی ځمکه اوباغونه له عمرو عمرو را ایسته د سپین پرکاله ګرو وه او هم یې ښې ډیرې پیسې په(سلم) ترینه اخستې وې. دغه دوا‌ړه‌کسان ښه‌دخولې دپریکړې سري‌وه. پخوایې هم دسپین دپلار په مقابل کې سرپورته کړی و اودخپلو ځمکو حاصلات یې ورځنې ګرځولی وه. ځکه‌چې ددوی له بدې خولې نه بیریده او ډیر یې ورسره خیرلای نشوای. مګر بیا پخپله دغه خان په کې مداخله وکړه اودوی دواړوته یې خورا درانه تاوانونه

ورواړول او شپږاووه میاشتې یې په محکموکې سرګردانه وګرځول او خپلې خوارۍ اوغریبۍ څخه یې اچو لې وه او په اصطلاح ښه یې «دسر په کاسه کې اوبه ورکړې وې.» نو له هغه وخت نه را ایسته دوی دواړه دخانصاحب تابع بلل کېدل او هیڅکله یې دبدای دځمکو حاصلات بیا نه وه ګرځولي، کوم وخت چې دخانصاحب سترګې په دوی باندې ومښتې نو سمدلاسه یې ورته وویل چې:

ـ هلکوسترې مه شۍ خدای مو هر کله راوله! دزړه خواله به هغه وخت درسره کوم چې تاسې کښېنۍ اوشلومبې او ډوډۍ وخورۍ.

وروسته له هغه خانصاحب ناظرته امروکړچې ژرورته ډوډۍ او شلومبې راوړه او پخپله دباندې ددې دپاره ووت چې دوی ته دډوډۍ خوړلو موقع ورکړې او هم دخپل نابېره شفقت موثرات په کې ډیر کړي.

یوتن چې (نور) نومیده دغه بل (سکانړ) ته وویل:

ـ خانصاحب نن خورامهربان دی نورکله به یې زموږ سلام نه اخیست اوزموږ مخونوته به یې سم نه کتل. خواوس دادومره نرم او پسته وضع چې ده له موږ سره رااخستې ده دحیرانتیا وړ ده توا ددې علت به څه وي؟ بیاخو به یې کوم کوهی راته کیندلی نه وي؟ماته خو والله خپل زړه داوایې چې په یوه ډوله کې به موواچوي چې عمرې زموږ له خبرو او جنجالونو څخه خلاص شي».

(سکاڼ ) په‌داسې حال کې چې په ډودۍ پسې یې دشلو مبو غړپ کاوه وویل :

ـ شل پلامې تاته ویلي دي چې په خوله باندې لاس ونیسه او دخانانو په نسبت څه مه وایه او مه هغه چاته څه وایه چې دوی یې درولی دي. خوستا هیڅ آرام نه راځي او تل دې بدایانو، خانانو او ملایانو پسې پلیتې را اخستې دي او دهغوی نـاوړه کـړه وړه خلکـو تـه ښودل غواړې. اوس خدای خبر چیرته مو په کومه بندیخانه کې وراسته کړي.

دوی دغه خبره په متې خلاصه کړې وه چې خـان بیرته راوګرزید او بیا یـې په خوړا مینه ـ تر ینه‌پوښتنه وکړه چې هیله‌لري دوی دواړه‌به‌هغه کار په ښه توګه وکړي کوم چې اوس‌دو ی‌ته سپارل کیږي .

په دغه وخت‌کې ددوی په‌زړ ونوکې ډول ډول فکر ونه‌ور ګـرځیدل (سکا ڼ ) لومړی دغه فکر وکړ چې دخانصاحب چاته‌خواشنه شوې ده او اوس غواړي چې په دوی باندې یې پریبدي. بیا به یې ویل چې ددې کار دپاره خو خپله دخـانصاحب ښه غښتلي بزګران شتـه په هغوی بـه یې دغه کار کړی وای . خوددوی دغه تلوسې ژر دخان په زغ مړاوې غوندې شوې:

دومره ګران کارنه درته سپارم، نن سباراشه اخستله کیږي کوم وخت چې د(سپین)ناظر درشي نوګوری‌چې غنم ورته ورنه کړی ورته ووایاست

چې زیاتې موږ نه غواړ وچې دخپل مت زحمت او ثمره بې انصافو بدایانو ته ورکړ و، والله چې تهو ته تهو ته موکړې هم که شي درکړو. زمایقین دی چې ناظر به در سره زورنه شي کولای. کوم وخت که یې زور وزیاتی کاوه نو سمدلاسه یې په ډگرکې راغوزارکړی او بیا به یې و ډبوی. خو گوره چې کوم هدف یې ور مات نه کړی، مقصد دادی چې وې دارکړی.

(تور) ورته وویل:

- په دواړو سترگو دمړ ولاکله په قیامت رضاوه. خو صرف دومره تکی راته ووایه چې ددې معاملې پای به څه وي؟ یعنی په ربښتیا ستاپر موږ زړه سوی دی او زموږ لوری کوې او که مو کوم بل مقصد په نظرکې دی. دا پوښتنه مې ځکه د صاحب نه وکړه چې موږ پوه کړې.

لومړی تردې چې خان څه ووایي (سکاڼ) پر راتوپ وهل:

- ستاپې په زور وخبر وڅه. دخیر وشرذمه واریې پخپله خان صاحب دی، زما خوسیز ي دومره ورته لله دي چې بلې خبرې ته به ونه گورم اوبیا به یې درته ودبوم.

خان په یوه خورا پسته او خوږه لهجه وویل:

- ځار تر هغه چې یوکمیس یې ترنا دیر خیرې کړی وي.

وینې! سکاڼ چې په خبره پوه دی او تجربه یې بیا ده نو مطلب ته ژرورورسید. خو ته لکه (مونډی یوم) خاوره ډېر وي او خبره نه شي سره ویشلای، څه چې مادر ته وویل ته هغسې وکړه سمسره او بیا به نه پکې وینې.

ته په ماباور ولړه چې کوهي‌نه دې نه ورغورځوم. پر ته له دغه‌داته ولسې له خپله ژونده سره دومره مینه لرې. یو اوپره سړی یسې چې اوس‌نو هیڅ نه دي درپاته شوي. ته که دغه کاروکړې اودبدای په مخکې ودرېږې نوته به څه بایلې اوڅه درپورې شته؟

یه وروره! څه چې زه درته وایم‌ هغسې کوه، بې خیري به له سره ونه وینې. تیر به هیروې هرڅه چې موسره کړي دي هغه شوي دي. زموږ وستاسې اوس بیاله سره شروع کیږي.

خانصاحب د(سپین) او ملاصاحب‌په‌مقابل کې خپل وضعیت نورهم پسې پوست کړ اوتر پخوا لا ډیره تواضع ورته کوي‌اوله دواړوسره د(ویش) په خصوص کې په تماس کښې دی.

سر بیره‌په‌دغو دووکسانو، ده‌دسپین‌نورومیروګانوسره‌هم تګ‌اوراتګ ډیر ونښلاوه. دوی ته به یې دراتلو نسکې‌ښه ژوند په باب کې غوږې او پستې خبرې کولې‌اوداچې له دوی سره به‌په‌هره برخه کې ښه مرسته وکړای شي خوږې وعدې ورکولې.

خانصاحب په جمعه کې یوځل یادوه ځله دصاحبزاده صاحب ځای ته به هم ورته اوله هغه سره به یې ددغه بدای دکاله په خصوص کې کله له لیرې او کله بیاله نژدې خبرې اترې کولې. خوپخپله صاحبزاده صاحب په‌دغو ورځوکې له‌ده‌څخه‌ماننی‌جن غوندې دی. که‌څه هم په ظاهره چې

خلك ډير وي‌ده‌ته‌په‌در نه‌ستر گه گوري . خوچې سره يوازې شي وضعيتونه بې‌ساړه شي.

يوه ورځ خانصاحب په ډکه خوله ورته وويل :

ـ صاحبزاده صاحب ! له‌څومودې‌را ايسې خفه غوندې ښکارې زه چې په زړه کې‌گرځو نوهيڅ داسې شي په يادنه راځي چې‌هغه به ستا دخفگان موجب شوى وي، خوبياهم‌نه‌ويل کيږي انسان له خطانه خالي‌نه‌دى، که ماکومه‌گناه کړې وي‌هيله کوم‌چې هغه راته‌ووايې. ځکه‌چې‌زما اوستا په منځ کې‌خو دزړه بدوالي‌اوما ښيجنې گنجايش‌نه لري. خداى‌دې نه کړي يوه ورځ به ددوارو دپاره ضرر ناکه ثابته شوې وي .

ددې وروستيو جملوپه‌ادا کولوسره صاحبزاده صاحب‌لږ څه‌سورو‌شين شواوطبيعت يې پرله واوښت اوپه يووچ غوندې زغ يې ورته وويل:

ـ ماستا په سربانډې هغه بل‌خان له خانې‌ښخه وايست چې له پلاره او نيکـه خـان و. کـه دې په يادوي همدا زه وم چې‌خلـکوته مې ستادنيت خبرې وکـړې اودا مې ورته وويل چې تاودروي . او هغه بل خوارکى مې په‌تورو‌تورکړ. دلته خواوس‌څوك نه‌شته چې‌زما وستا خبرې واوري. نورښتيا درته ووايـم زما ځينو مخلصانو او مريدانـو راته وويل چې دغوبه بې له‌خانې‌سره څه! خوزما داصرار په اثر خلـکوتاته دخانې پگړې دروتړله. په بله ژبه ته يوازې او يوازې مادرولى خان وې اوما داسې گڼله

چې اوس به نو زما د ده له دغه پلوه پیغمه وي. خو تاوروسته وروسته بنه وزو وروبدلوله او اوس دې اندازې ته خبره را رسیدلې ده چې په ماکې چرت نه وهې. دا څرګنده چې داسې تود تود راځي او دخلکو په مخ کې ځان زما ډیر مخلص ښیې اولاسونه مې ښکلوې، مقصد دې دادی چې د (سپین) په فقره کې غونډه ګوله یوازې خپلې خولې ته کړې. که سپین هغه آس نه وای راالیز لای نو ماستا مخالفت خورا کلك تصور کاوه او ژر به مې ستا دراپر یستلو دپاره اقدام کړی وای سر بیره په دې له څو مودې را ایسته دې وضعیت خورا سوړ شوی دی. یوڅو فقرې مې درواستولې چې هغه فیصله کړه اوله خلکو سره چې زما مخلصان دي وځغله خو تاپه هغو فقروکې خپل موټ ښه کول او خورا ډیر څه دې په جوړ کړي وه اوموږ ته دې والله که یوه پګړی هم را کړې وي دپیرو- فقیر حق نه پیژنې اوهر څه دې پر خپله مخه پسې یوړل سړی خو داسې نه کوی او پنځه واره ګوتې په خوله نه منډي، تاپه پارسی ژبه کې دکار- دارانو دغه متل نه دی اوریدلې چې وایي (چیزی بخور چیزی بده وچیزی بنه) نور به څه درته وایم که سړی یې خو همدغه درته کافي ده اوځان په سم کړې که نه وي نو . . .

په دغه وخت کې دخان په هغو تورو هیلوکې سرې چړوکې ولاړې چې ده دسپین اود هغه دکاله په نسبت یې درلودې . په زړه کې یې وویل

چې که څه هم داګوله خومې له خولې تللې غوندې ده خوبايد خپل زړه لږڅه سوړ کړم، بيا نو هر څه چې پيښه شوه هغه بهپيښيږي.تر دغه وخته پورې دوی لږڅه ليرې سرهناست وه ،خانصاحب سمدلاسه راولاړشو اودصاحبزاده صاحب ترڅنګ کښيناست اوورته يې وويل :

ـ ښه شوچې په ربښتيا ويلو پيل وشو. . . .

په دغه وخت کې خان‌ته ناڅاپه په زړه‌کې څه وروګرځيدل اوخپله وينا يې بې‌له کوم ترتيب اويا تکميلو لو نه ختمه کړه او تقريباً يوه دقيقه پټه خوله پاتې شوچې په دغه موده کې يې خپل تندی ورين کړ اوخو له يې سره وغوړوله! اوپه‌يوه عاجزانه ږغ يې ورته‌وويل :

ـ ته خوزموږ مورو پلار يې ،موږ اميان‌خلك يو ، ډيرې خطاګانې رانه‌خيژي خو تاسې. هو! تاسې لوی خلك بايد زموږ په خطا باندې دعفو او بخشش پښه راکش‌کاږئ. په پارسي کې دا څه ښه‌متل دی چې وايي :

(ازخوردها لخشيدن، ازکلانها وبزرګان بخشيدن) .

نو صاحبه! په‌دې کې خو څه شك‌نه‌شته چې له‌موږڅخه به سهوې شوې وې . خوخدای تعالی دې دشيطا نانو کورا وکړونده ورانـه کـړي چې هغه تاسوته خوراغت او ډير څه ښيـې اوزموږ سپينې اوپاکې لمنې را مرداروي، که نه وي زه به ولـې دهغه چابـې خيري غـواړم چې دهغه پربرکت زه په خلکو باندې دومره بابا يې اوخانې کوم.

بل داچې: دا خو څرگنده ده چې زموږ موجودیت ستاسې پیرانو او فقیرانو په ښه‌او نیک نظر پورې تړلی دی. داتاسې مبارکان یاست چې موږ مو په اورغوي ایښي یو او له مخالفو عناصرو څخه موږ غورېږه یه! یه! صاحبه! تر گناهو به راتیر یږې او په‌دې خوراخوشحاله‌شوم چې هر څه دې سپین راته وویل. پیران و فقیران خو پر موږ باندې حق لري چې دغه حق موږ په مشکل اداکولای‌شو. . . .

ددې خبرې وروستی تکی یې لاپه خوله کې وچې دصاحبزاده صاحب په لاس یې ورحمله کړه او هغه یې چې په بته گوته یې اوږ دې شامقصودی تسبیح څرېدلې، خپلې خولې ته یووړ اومچ یې کړ، بیایې په سترگو کیښود. دخان په دغه حرکت باندې دی خورا وغوړېده او دهغه سریې خپلې خولې ته را نژدې کړ او په تندي یې ښکل کړ او ددلاسايي خوخبرې یې ورته وکړې چې په‌هغوسره خان نورهم‌وباتېیده.

خان په‌خپل دغه حرکت چې په عین قهر او خواشینی کې یې خپل وضعیت سمد لاسه واړاوه، ډېرخوشحاله شو او هغه یې دخپل بریالیتوب د پاره خورا ښه په زړه پورې کاروگاڼه او بیایې په یوه داسې لهجه چې دده ژوړ او خورا ډېر اخلاص څرگند اوه ورته وویل:

- صاحبه! که درته تکلیف نه وي یوه ښوروا گې له موږ سره وخورېه. ماخویو څوورې ساتلي دي چې اوس خورا ښه چاغ شوي او غوښه یې

هم ډیره نازکه ده. دا خوشبې ماو تا په یوه کاسه نه یوسره کښېنستـلي.

کوردې ودان، ډوډی دې پنده ! زما پـه دې وختوکې لږ څه پر لینګو درد وي پر آس چندا نې نه‌شم سپرید لای که ډیر اصرارکوې نوکوم یووری‌دلې راولیږه. میله به پرې جوړه کړو. خان په‌خپله وینا او دمقابل طرف په عکس‌العمل باندې نورهم خوشحاله شواو په داسې حال کې چې بسیایې دصاحب زاده صاحب لاسونـه مـچ کړل رارخصت شو. خولو مړی‌تردې چې دخونې‌له وره څخه راووزي صاحبزاده صاحب پسې رازغ کړل :

ـ خلك ددې نـوي کاریز دڅمکوخورا ډیرتعریف کوي وایي چې یوشوارو زیې خورا ډیر څه‌کیږي اودکاریز اوبه هم وایي چې خورا ډیرې او خوږې دي ته په دې کې‌ری‌ووهه‌که یوڅه نیوکه سری پکښې وکړي څه بدودي خوبه نه لري .

خان بیرته مخ ورته را وار اوه او ورته یې وویل :

ـ په دوار وسترګو هغه کاریز خو هرڅه ښه‌ښه دی ، خوپوشی یې دی هغه داچې دېنځو پـه لاس کې دی یعنی ډیربزګران په کې برخې لري. دا خو څرګنده ده‌کارچې دېنځو شي هغه خراب شي. مګر یوه خبره پکې شته هغه دا چې دوی نه سره پرې جوړیږي اوګذاره یې‌نه باندې کیږي ، هیله ده چې بې‌تـکلیفه به په‌لاس راشي. ستا ددعا په برکت به هرڅه اسانه شي.

دغه بنه دی چې دپښتنو سره ګډ دی کــه چیرې دیوه اویا ددوو  وای نوپه مشکله بــه نیوکه پکې شوی وای هلته زموږ وستاسې مخلصان ډیر دي. زه چاته ډیرپه ډکه خوله نه شم ویلای ځکه زه ددې نور وفقیرانو غوندې نه یم. غوښتمې ډیرپه خوله نه راځې څه مې کاوه ملکو نه خومې شکر دی ډیر دي مګر خبره داده چې خلك یې خورا ډیر صفت کوي.

خان په دې باندې نور هم خوشحاله شو درار خصتیدو په وخت کې صاحبزاده صاحب دراولاړیدو کوشش وکړ خــو د خان داصرار په اثر صرف دنیالۍ نه لږشانتې پورته شو.

له دغو خبرونه څوشیبې لانه وې تیرې شوې چې یوه ورځ (سپین) دخان کره ورغی اونیغ دده خونې ته ورننوت. خان دده هرکلی وکړ اوژرترژره یې نیالۍ ورواچوله اوده ته یې پرهغه دکښیناستو اشاره وکړه. خانصاحب له دې لوري او له هغه لــوري ورته په خبرو کې و چې (سپین) ورته وویل :

- نن بیادرته په ژړا راغلی یم اوښکې به مې رابا کوي. یعنی زه نن د(تور) او ( سکاڼ) له لاسه راغلی یم. پرون مې ناظر ورلیږلی و چې (راشه) ورځنې راوړي. خو دوی دواړو دراشې له ورکــو لو څخه سر غړولی واووچ کلك جواب یې ورکړی و چې وروسته له دې راشه نه شي درکولای اونورې سپکې سپورې یې هم ورته کړې وې. مثلاً ویل یې چې موږ بدایان دخلکو وینې چښو اوتل مو دنورو پــه غوښو اووینو خولــه سره وې اوداسې نورې

نا پرېتې یې ورته کړې وې که مې رښتیاپوښتې دغه دواړه ډیر سپین سترګي خلك دي هیڅکله یې راشه په ښه نیت نه ده راکړې. ناظر یوځه لاس ورسره ښوروڵی وخود وی او ددوی څپلوانو یوځه ترټلی هم وچې تراوسه پورې ژړ غونکی کیږي.

خان ددې خبرې په اورېدو سره خورا سره وغوړېدی او په دې باندې چې دده هره نقشه او چلونه دده په زړه پورې ډول چلیږي خورا خوشحاله شو او سپین ته یې وویل :

ته خوامه بدوه، زه به یې کاروکړم. خو خلك په دې وختوکې لږ څه نه بلکه خورا ډیرسپین سترګي شوي دي هغه پخواني مومنان چیرته دي چې دیوه مسلمان حق به یې خورا ژر ورکاوه او څوك به یې نه زورول. څوکه رښتیا درته ووایم خلك هم تر یوه حده پورې ګرم نه دي ځکه چې اوس نود ټولو له بدن څخه غوښه ولاړه او سپین هډوکي پاتې دي.

تـه پخپله لږ څه فکر وکړه دغه (توراوسکان) په خپل عمر په نس ماړه شوي نه دي یوازې دوی څه کوې، ددوې کور وکهول هم دمرې ګیډې شپه او ورځ لیدلې نه ده. کوم وخت چې دوی (۹) میاشتې وځغلي راوځغلي، پښې چاودې، لاسونه چاودې ګرمی پر ځانو باندې کلکې ولاړې وي کوم وخت چې را شه سره شوه نوموږ وتاسې جوالونه ورته واچوو او ټوله ورځنې را ټوله کړو داسې بې انصافان لاهم شته چې (ګزیاری) لاهم ورځنې

را تہول کړی اودوی په وچ ډگرپرېږد ... لږخه حوصله پـه کـارده زه بـه يې انشاالله درته سم کړم .

په دغه ډول باندې ددغه کاله څونورپور ... ته پورته شول او له تماکلی گټې ور کوا وڅخه يې غاړه وغړوله. دځينو ... اجاره دارانوهم ځان يوې خوا بلې خواته کاوه خوخان به تل د (سپین ) دخوښې دپاره هغه خلـك راغونډتل اوپه ظاهره به يې پيشرو ورته واهه او کله کله خو به يې ښکنځل ورته هم کول چې ولې دسپین حق نه ورکوي .

بله ورځ خان ملاصاحب تـه وويل :

- هغه دوصي اووصايت خبرې دې څه کړې؟ هغه دې لـکه چې تہولې هيرې شوې. ته داسې وکړه کوم وخت چې د(سپین) کره ورځې نو دخبرو په ترڅ کې داورته وايه چې څو يوسور سترگی او غبـتلی سری خـپل وصي ونه دروې گمان کيږي چې ډير خلك دې له پوراودهغه دگټې له ورکولو څخه سر وغړوي او په دې توگه به د تہول کالمشتمني خاورې ايرې شي. نودا وينا به دوی ته يو څه احساس ورکړي چې په دې برخه کې يو څه غور وکړي او هغه څه چې موږ غواړو هغه لاس ته راشي. کـه رښـتيا درته ووايم ملاصاحب په دې شپو ورځو کې يوڅه بې مينې غوندې شوی يې. پخوا به دې تل يوه نوې ز ړه راته کوله، لاروڅا به دې راښودل او کله کله به دې زموږ کارونه او عملونه دشريعت په جامه راخوندي کول، خو اوس هغه

سړی‌نه راته ښکارې اوداسې موږ غوندې ګرځې. ولې علت یې څه‌دی ؟ کوم‌شی خوبه ماکړی نه وي چې ستا طبیعت خته شوی‌وي .

ملاصاحب زیره وګروله او سترګې یې کوچنۍ غوندې کړې اووې ویل :

- که مې یوه ګړۍ هیر شوی‌یې نوخالق مې دې غاړه بنده کړي.ته ولې پرما باندې داسې اوداسې ګمان کوې. زه خوبو دعا ګوې ملا سړی یم چې غیرله لمانځه‌او اوداسه نه بل‌څه کار نه لرم. خوسره له هغه‌هم ماستا په کار کې هیڅ ځان نه دی سپمولی. پرون لاورغلم او تپولوته مې صفت وکړاو داچې ستا زړه سوی او ښه مړ انه هرچیرې مشهوره ده دوی‌ته‌مې ترغوږ ورتیره کړه. په‌واز ه خوله‌سړی چاته نه‌شي ویلای چې‌ته دغه‌کار وکړه او یا هغه وکړه . هرکاروخت غواړي هو! اوس راپه یادشوماته‌دوی هم‌ژړلي وه‌چې ځینې اسا میان ورته په سپکه ګوري او لکه د پخوا غوندې سرورته نه ټیټوي. ماهغه وخت ورته وویل چې خدای دې خانصاحب ته برکت ورکړي، دغسې خلك به چې د مومنانو او یتیمانو، کونډوورنډو حق نه ورکوي ژرپرخپل‌ځای میخ کښینسوي او خورا دروند هیدا د ( سزا ) به ورکړي. دوی تپول زما په دغه خبره یوڅه زړه ور شول او داسې ځرګندیده چې نوریې زړه در نژدې شو. موږخوخپله سعیه بنده‌ګي کوو. خوهو! یوڅه درته وایم‌چې زه پخپله نه

غوارم چي له شریعت مخالف کاروشي، هرڅه باید په شرع برابروي.

موږخوله چا څخه غلانه کووغوارو چې دوی رضا کړو اوددوی په خوښه وصایت را کړل‌شي نوکه څوك. څوك رضا کړي نو بیابه هغه کې څه‌نقص‌وي. نه دي دې اوریدلي چې وایي (رضایې کره ملایې ماته کړه).

دغه‌کار باید ژر سره ورسیږي خوزا به خوشحاله شم که دغه کارلومړی تر هغه چې اوبه اوړي ( یعنی دمنې غنم کرل کیږي ) سرته ورسیږي، نو بیخي بـه ښه شي .

بله خبره داده چې دوی بله چاره هم‌نه لري بې له دې چې ماوصي کړي او یامې د ځان ملګرې وساتي. که دوی په دغه کې څند کول غواړي نو« زه خوهم خوړلې‌شومه نه یم» داسې چلونه اوولونه‌به ورته جوړشي‌چې پخپله به ورته ووايي« شپارس» خوزه‌هغه ستاخبره‌نه غوارم چې له شریعته مخالف کاروکړم . که نه وي چیرې زماتندی ورتـه تریوشونود هیڅا تندی به غوریدلی ونه وینې. له تا څخه صرف دومره هیله ده چې‌دوی به اصل حقیقت پوه کړې.

خان دصاحبزاده صاحب کره خپل تګ اوراتګ نورهم ډیر کړ او همدا دول دبدای‌کاله ته به هر وخت ورته اودهغوی وضعیت به بې له نژدې څخه کوت او تل بې ددې‌دپاره خوزې او په زړه پورې هیلې‌به زړه کې روزلې چې یوه ورځ نه یوه‌ورځ به ددغه بدای دیتیمانو وصي‌شي. بیا به

هرڅه اسانه ومومي. یوه ورځ ګهیځ دی دصاحبزاده صاحب په حضور کې
په خورا ادب ناست و بلکه څادر یې ترڅان دا ډول تاو کړی وچې تا به
ویل ( مراقبه ) نـاست دی. کوم وخت چې نور حاضرین او مخلصین
رخصت شول اوهر یو دبرکت او ډیر والي دپاره په شاکې په څپېړه ووهل
شول نوخان صاحب ورو خپل سر دزنګنو څخه را پورته کړ او صاحبزاده
صاحب ته یې وویل :

ـ د(سپین) په کاله کې تل زوزه وي، له کومه وخته چې یې پلار مړ شوی
دی نو(سپین) خوارکی هم «دسر له بویه وتلی دی». تل یې په چمبرکې
چغ وبغ وي. ماوملاصاحب ډیر کوښښ کاوه چې ددوی ترمنځ یو څه
جوړه اوروغه سره راشي. خو دوی ځکه چې دښځو کوردی په هیڅ ډول
غاړه نه سره ږدي او یوبل ته تن نه ورکوي. زموږ تجویـز داسې و چې
(سپین) اوبل کوچنی ورور یې (ګرد ی) سره یو ځای شي اودخپل انګړ
اوسنی ورو تړي او بل لوري ته ورجوړ کړي او دغه نور یتیمان دې
سره یوې خواته شي ځکه چې ددوی میندې هم لږ څه سره ښتې او دومره یودبل
په غاړه کې نه سره لویږي خو ځکه چې دنیا یې ډیره ده نو باید یوامین او
صادق سړی ددوی وصي شي چې ددوی مال او شتمني خاورې نه شي.
نو ماغوښتل چې په دغه باب کې له تاسې سره مصلحت وکړم اوڅرنګه
چې ستا خوښه وي هغسې به وکړو چې لږ څه مو غوږونه په کرار شي.

څو ثانیې لانه وې تیرې شوې چې خان (ها!) کړه او خپله خبره یې داسې پسې اوږده کړه:

ـ ماپه نوي کاریزکې دهغوڅمکو پوښتنههم وکړهچې تاراته ویلې وه. په هغه کاریز کې د(سپین) دکاله ځمکې ډیرې دي، داسې درته ووایم چې څلورمه برخه به یې د دوی وي نورې هم پیدا کیږي مقصد دادی چې پوره امیدشته چې پههغه ځای کې یوخهځمکې پهښهتوګه بې لهدې چې غوږ په غوږ خبرشي لاس ته درشي.

صاحبزاده صاحب وروسته له لږ فکر څخه ورته وویل:

ـ تل ماتاته نصیحت کړی دی چې دخان ترکاردنوروکا رونه له مخه کوه ځکه چې په دغسې کارونو اوپه دغسې کولوکې ثوابونه دي. تهلومړی زموږ دځمکې موضوع چې په نوي کاریز کې به لاس ته راشي یا رانهشي پربږده، دهغو کوندویتیمانو مسئله وڅیره چې رښتیاددوی ږغ تل ترموږ ایسته تیریږي پخپله لهکوندوسرهپه تیره بیاد(سپین) دمورسرهچې دتهولونه سپین سرې بلله کیږي ماپهدې برخه کې خبري کړې دي هغوی دغه چې نه وابې راته ویلې دي. داچې دوې ښځې سره له خپلو اولادونو یوې خواته شي اودوې بلې خواته، څه ګټه دوی ته لري؟ اول واخیر خو بیاهم سره جلا کیدونکي دي نواوس دې لاجلا شي، یعنې څلوربنې دې پهڅلورو لاروولاړې شي. څوك چې میره کوي ودې کړي اوڅوك چې له خپلو

اولاد و سره کښېني نو دې کښېني. وصي بايد په شريعت برابر سړی وي چې ديتيمانو مالونه تروښي. زه خوستاسې په ټول کلي کې بل داسې څوك نه وينم بې له تا ياستاسې دکلي دملاصاحب نه نور خوټول اوپره خلك دي اوپه ښه وبدنه پوهيږي. وځي ننوځي خو په هيڅ درك نه پوهيږي نوزما په عقيده تاوملاصاحب سره کښيني او دغه مسئله ښه وڅيړی او بيا له (سپين) سره هم مصلحت وکړی چې هغه څه وايي. ماته خوورځې دمخه پخپله ملاصاحب ويلي وچې دخان زړه غواړي چې له دغې کورنۍ سره مرسته وکړي يعنی ددوی وصايت په غاړه واخلي. خو بيا هم په کلي کې يو دوه درې په عمر پاخه بزگران سره راغونډ کړی اويوه ورو کې غونډې جرگه گۍ جوړه کړی په هره خوا مو چې سره غوټه کړه هغسې وکړی.

خان ددغو خبرو په اوريدلو پخپلو کاليو کې نه ځاييده اوله ډيرې خوشحالۍ يې غوښتل چې دده په پښو کې ور ولويږي خو بيايې بيرته خپل ځان اداره کړ او په داسې حال کې چې ناړې يې تيرې کړې وويل:

- موږ تل کوښښ کړی دی چې ستاسې نصيحت په غوږ کې ونيسو خو کله کله مونفس وشيطان ډير ظالم شي او له (صراط المستقيم) څخه مواړول وغواړي. خو همدا تاسې فقيران ياست چې په دغسې گړی کې مو له ناوړې لارې څخه راوگرځوی او په نيغه لاره موروان کړی. بله داچې زه پخپله (سپين) درته وا استوم هغه ته که تاسې يو څه لارښودنه وکړی

نو به ډیره ښه شي او کار به ژر فیصله شي په دې کې چې دوې ښځې دې یوې خواته او دوې نورې دې بلې خواته شي .

مونږ ډیر غور کړی او چرت وهلی دی. ما او ملاصاحب او (سپین) ډیره ځیر نه کړې ده. هیله ده چې تاسې هم خپل رضایت په دې باره کې څرگند کړی . . .

صاحبزاده صاحب دده خبره غوږ څه کړه او وې ویل :

ـ رښتیا (میرامد) خو مې هیر وه، ماله هغه نه پوښتنه کړې ده چې که غواړې دیتیمانو وصي شي. هغه ولوړ ل چې دغه کارته به زړه ښه نه کړي ځکه چې ټول عمر یې لـه خپل وروور سره سنت سلام نه واچولی او له شلو پنځه ویشتو کلونه رااېسته په یوه کاسه سره کښېنستلي نه وه او زه هم ښه خبریم چې کونډې یتیمان په ده هیڅ باور نه لري. سر بیره په دې شاو خوا خلک ټول په خبر دې چې که (میرامد) ددوی وصي شي نو دا به دیتیمانو دپاره خورالوی خیانت او غټ نقص وي. ددې علت دادی چې پخپله (میرامد) وایي چې دده وروور دده حق خوړلی دی او له دغه سببه ټول عمر ورسره مرور و . نو بیا دغسې سړی هیڅکله وصي کیدلای هم نه شي. پخپله (میرامد) به په کومو سترگو دغسې کارته زړه ښه کوي. خو ټول دیار به یې په لعنت سترگې وروکاږي.

بله خبره داده چې (میرامد) دشریعت له خوا هم نه شي منل کیدای · ځکه باوله او بې سده غونډې سړی دی. دیتیمانو او کونډو واک او اختیار

باید داسې څوك ولري چې پوره روغ اوسلیم العقل وي او هم ددې مټ اوقوت ولري چې دهغوی دحق حمایه اودنیایې د نورو خلکو له تیري څخه خوندي وساتلای شي، یعنی هم دسوتې زورونلري او هم دکوتې. داخو څرگنده ده چې (میرامد) خوارکی پخپله دیوه (کرویش) زور او طاقت نه لري اوهم یې خبره له خولې څخه څخېږي.

خان:

- هو! صاحبه! میر امد خوارکی خو دهیڅ شي نه دی. خپله خوله څنې لوېږي. نو دادومره دنیابه څرنگه اداره اوخوندي کړی شي. بله خبره داده چې (سپین) په دغو وختوکې پر څان گرزېدلی دی اوښه رغدی او غبنتلی هلك تری نه جوړ شوی دی. ډېر یې زړه غواړي چې ژر څان جلاکړي او بیا په پوره زړه دخپل څان دپاره کار وکړي. ددنیا ډېر شوقي دی. دی که اوس هر څه وکړي نو هغه به ددانورو یتیمانو هم ورگډوي. صرف یوه میره چې یوزوی اویوه لورلري پر گرانه ده اوتل وایي چې هغه له څان سره کول غواړي نوڅکه ماتاسې ته وویل چې دوې بنې دې یوې خواته شي اودوې نورې دې بلې خواته.

صاحبزاده صاحب:

- ښه دی! هر دول چې دوی خوشحاله وي هغسې وکړه خو دغو مره وکړه چې شریعت خوار نه شي اوپه هغه جهان زموږ وستاسې غاړې بندې نه وي.

کوم وخت چې خان دده له حضوره راولاړ یده نو بیاصاحبزاده صاحب ورته وویل :

ـ ښه نواوس دنوي کاریز دمحکوپه شاوخواکې څه وایه. مااوریدلي دي چې یوشواروزیې لس دولس خرواره غنم کوي اوهم یې سوزبر (سبزبرگ) خوراښه حاصلات لري. مثلاً دباداموښه باغونه لري، دپالیز هره هندوا نه یې خرپه متې وړي ،نوکه دغه خبرې رښتیاوي بده به نه وي که یودوه شوا روز ونه لاس ته راشي خو البته په دې وپوهیږه چې دغه کارهم باید پـه شریعت برابروشي. موږنه غواړو چې د نورو په ستونې ښه کښیږدو.

خان :

ـ صاحبه! شکر دی مسلمانـان یو ، ولـې به داسې کارکوو چې هغه به له شریعته مخالف وي. ددغه کاریز ځینې اوسیدونکي ییخي خوار دي اولږو ډیر څه چې لري هغه هم دسپین پرکاله اویا په نورو گرو دي. دوی پخپله دومره نه لري چې ماښام یې وخوري او په ډیره منده خپل ملکونه خوځوي او غواړي چې بل ولایت ته لاړشي.که څه هم سپین پخپله ورته غلی دی چې دغه مځکې تر لاس کړي، خو بیاهم که په دې پوه شي چې تاسې ورسره مینه لرئ،سم د لاسه به ځان تړول کړي.

بیا صاحبزاده صاحب لږ څه په غوریدلي اودد زغ ورته وویل :

ـ ځه په مخه دې ښه شه. غرمه خونه راسره تیروې. خدای دې برکتونه درکړي. زما دعا درسره ده، له خدای نه دې پرهره بلا برسیره غواړم. که خدای کول تورې خاورې به دې په لاس کې زرشي ځکه چې له فقیرانوسره مینه لرې او هم خدای ښه روڼ ستوری درکړی دی.

د(سپین) دکاله له احوال څخه ماخبروه. لږ ځه په پریشانه غوندې یم لوی اودآب کوردی چې ونه شرتیږی.

خانصاحب دیوزر افغانیو نوی نوټ. دتخرګ له جیب نه راوکیښی او هغه یې دده مخې ته غوړولی کیښود چې (مبارك) یې ښه وپیژني او په داسې حال کې چې دوره خواته لږ څه تیت تیت پرشاروان و، وویل:

ماخوداپلا کوم ځاروی دلنگر دپاره راوستلی نه و. نودغه یو لږ څه غوندې شی دی چې په لنگر کې یې اچول غواړم ډیره هیله ده چې تاسې به یې په ډیرشې قبول کړی. موږ خوستاسې قدر څرنگه چې لازم دی کولای نه شو خوداستاسې مهربانې ده چې موږ زړه ورکیږو او په جراءت راځو. زه به څرنگه چې تاسې وویل ټول احوال درته رالیږم. زه به سعیه وکړم چې څرنگه تاسو راته وویل هغسې وکړم، خدای دې توفیق راکړي صاحبه! ما ډیر وبخښئ ستاسې په حضورکې ډیر وځنډیدلم. دباندې زوږه ډیره ده لکه چې نورمریدان ناست دي. کوم وخت چې خان خپل کلي ته راغی نوله ډیر ښه زړه څخه یې پامه نیغ دملاصاحب کره ورغی اودی یې

خبر کړ چې دده ځای ته ورشي اوبوګړی ورسره کښیني چې ځه ورته وايي. ملاصاحب په داسې حال کې چې هم په خوله ورته (ډیرښه) وویل اوهم یې سرورته وښوراوه، خوني ته بیرته ورننوت اوخپل ځادریې راواخیست. ده فکرکاوه چې خان به په انګړکې ورته انتظار لري ، خوکوم وخت چې بیرته له خونې نه راووت نوخان یې ونه لید. لومړی تر هغه چې ترانګړ ووځي ځالی نه ورغی اوما بنې ته یې وویل چې دغرمې ډوډۍ به دخان کره ګوندې وخوري اودادې ورته انتظار نه باسي.

خان ایله کورته رسیدلی وچې صاحب هم پسې وررورسید ځکه چې ګرمې ډیره وه نو پر سر باندې یې خپل ځادرکوټه اینښی و، لومړی تر هغه چې دی ځه ووایي خان ورته وویل :

-ملاصاحب راشه خدای دې راوله ! خوراښې خوږې اوپه زړه پورې خبرې مې درته راوړې دي زه اوس دغه یم چې دصاحبزاده صاحب ځخه راغلم سهار ورغلی وم تراوسه پورې ورسره ناست وم. که یوه پلادمبارك حضورته ځوك ورشي نوبیابیخي مشکله ده چې له هغه ځایه ځخه دې په اسانۍ راولاړشي. فقط ته بـه وا چې په ځمکې پورې یې میخ کړی یم. ښه یې ویلي دي چې (ښه خلك برکت اوفیض وتاثیرلري) . ګهیځ زه ورغلم چې د(سپین) دکاله دجنجالو په برخه کې ترینه مصلحت او لار ښوونه وغوارم. په دې باندې ډیرخوښ شوم چې مبارك ستاله خولې راته وویل چې

زه غوارم له دغه کاله سره مرسته وکړم او ددوی دنیا ورخوندي کړم.
(مبارك) هم دغه مصلحت راکړ چې که غوارم زه وصي کیدلای شم.
(سپین) دې (له گردي) سره یوځای شي یعني د(گـردي) ددنیا واك او کالخوابي دې (سپین) ولري. خود دغونور و وصایت به زه وکړم
(مبارك) ډیر اصرار کاوه چې دغه کار باید په شریعت برابر وکړم او بس. اوس نوهیله ده چې دشریعت غاښې ورته برابر کړې او په دې توگه دخدای او خلکو رضا حاصله کړو.

په دغه خبره بانـدې د ملا صاحب زړه ډیر ښه شو چې د خان زړه ښه دی او داخبره دصاحبزاده صاحب له خولې ورته شوې ده، ملاصاحب هم په خوازه اود ملـگري په زغ ورته وویل:

ـزه خوتل ستادعا گوی یم دسپین پگړ ونو رخه دلاسه کیږي پردوی باندې ویل دي او پر خلـکو کول دي. ښه شو چې زما دزړه اخلاص اوښه پیر زوینه تاسوته د(مبارك) له خولې معلومه شوه.

له ډیرې خوشحالی نه یـې په ستوني کې خبـره یوځه سره غوټه شوه او بیایې په داسې حال کې چې خپلې نښتې نارې یـې تیرې کړې خپله خبره داسې پسې اوزده کـړه:

ـخان صاحب! دشریعت لمن هم پراخه ده او هم تنگه، په دې کې شک نه شته چې زه خوبه په ډیره سعیه او د زړه له اخلاصه له تاسې سره مرسته وکړم خو

کو ر دي خراب شي خلك د ير شيطانان دي او له نصحه لوی غر جو ر کړي.
برابې مې ديوچا له خولې نه واوريدل چې د سپين د دريمې ميرې
پلار گنې يو څه خوله منور وي او په دې خبر شوي دي چې ته ددو ی وصي
کيزې نو يو څه ماتې گو د ې په کې کوي (لا لو) بزگرته يې و يلي وچې دوی
به دخپلې خو را و خو ريانو حق په هره تو گه چې وي وساتي او نو رې
داسې ناوړې خبرې يې کړ ې دي چې اوس زما په خوله نـه راځي.
دغه خلك ددې و ر دي چې په هره توگه چې کيږي سر ی يې خوله
و رماته کړي او داسې هيداد و رکړي چې نو رهم خپلې پښې و ر تولې
کړي او دداسې ناوړو فکرو په جال کې رانشي.
خان لږ څه خپل تندی سره واچاوی او په يوه لاپو که زغ يې و ويل:
ـ دغه کو رنی تل زما . . . ته گوتې راوړي. څو څلمې احوال ورليږلی دی
چې زما له کلي او زما له قومه لاس واخلي او بې څايه زموږ په کو رنی چارو
کې گوتې مه وهي. خو دوی دومره سپين ستر گي دي چې والله که زما دغه
خبرې داسې بولې لکه دخره تيز ، دې ته مې ار باسـي چې شل محکمې
ورباندې وو ينم او که له خدايه و نه يير يږ م په بنديخانو کې به يې هډو کې وراسته
کړم. نه يم خبر چې دوی په کوم سرژ وندي دي چې د غه د ول خبر ې
کوي.
خان چې دغه خبرې کولې ورو ورو پسې تو ديده او په پای کې دومره

پسې سوراوشین شو چې په یوه پلایې خورا لویه‌چیغه وکړه‌چې ملاصاحب یې خورا وارخطا کړ اوویریده چې اوس به‌په‌ده باندې ورو غورځي .
ملاصاحب له خپلې دغې پیروزینې اوصمیمیت څخه چې وده ته یې دعوی خبرې ورسولې پښیمانه وه وروسته‌له‌هغسې کلکې چیغې نه لږڅه په ارامه شو اوملاصاحب ته یې وویل چې:
- په دغو خبرو چرت‌مه خرابوه دامتل‌دې اوریدلی دی‌چې وایي:
(دوزې چې ځان له‌غارې وي نو دشپانه ډوډۍ وخوري) زه‌به په‌دې برخه کې (لالو) راوغوارم او پوښتنه به ورځنې وکړم . بیاکه مې لازمه وبلله نو پخپله دوی به راوغوارم او کیفیت به‌ځان‌ته‌څرګندکړم. تاسې دومره‌وکړی‌چې ژر ددوی دمعاملې په‌فیصله کولوکې عملي ګام واخلی. عملي ګام دادی چې ته پخپله ډوډۍ وکړه موږ یعنی (سپین) اومادروغواړه. هلته به خبرې په اصل مطلب راواړوو. هیله ده چې تریوه حده پورې کومې فیصلې ته ورسیږو. که‌دې صلاح وي داکارنن ماښام ته وکړه یوچرګوړی حلال کړه یوچړی ورواستوه او (سپین) خبرکړه هرڅومره چې داخبره اوږدیږي دخلکو خبرې به کې ډیریږي . باید داسې یې فیصله کړو لکه هغه متل‌چې وایي: (انامره شوه تبه یې وشلیدله) که‌دغسې ونه شي نوبلاوې به له هره غاره سرونه راوباسي .
ملاصاحب دده‌خبره غبرګوله‌چې دخان ناظرکوندرې (دسرخان)

په لاس راننوت اوددوی مرکه یې وشلوله. ملاد ګوندري په لیدلو خورا خوشحاله شو ، ددې دپاره چې خپله خوشحالي دخندا یاد (آفرین) ویلو په ډول ورځنې ښکاره نهشي نویې خپل شونډان په غاښو کې خورا کلك ونیول اودهغه خوږله عملي خوشحالی ځخه راوګرځاوه او هم ددې دپاره چې ناظر په خپلو خبرو پوه نه کړي نویوه بله خبره یې مینځ ته راواچوله اووې ویل :

ګرندي اکاخپله لورپه ۱٦ زره افغانی ورکړه. داښه ولوردی خوما چې یې اښهارته کتل پخپله دی په دې لاقانع نه و اوچاته یې ویلی ووچې ده غوښتل خپله لورپه شل زره افغانی بوغت سوابې خواره ته ورکړي او په هغو خپلې ګروکړې ځمکې خلاصې کړي. نن سهار یې دسمال ورکړ خو د نجلۍ مور داسې پرله ایشیده لکه باندې کتو او اوښکې یې دسیلا و غرندې بهیدلې. په ژړاکې مې دومره ورځنې واوریدل چې لوریې پربن ورکړې وه.

ددې وروسته کوم وخت چې ملاصاحب ولاړ ، خان په (لالو) پسې ناظر واستاوه.

(لالو) په ښه وچ کلك معلومیږي . دده دمخ او تهتر دلوړې برخې ځرمن لمر داسې وریتلې ده چې ته به وایې چا اوربربل کړی دی. دی دشاوخوا په ټولو بزګرانو کې په خورا غښتلو الي او ښه کارکولو مشهور دی. کوم وخت

چې دچادلواشروې نو يوا زې لالو دومره لوكوي لكه پنځه عادي كسان چې
يې كوي. خو دوډۍ هم دغومره ډيره خوري. مگر سره ددغه دومره كار
كولو اوغښتلوا لې، تل وايي چې زه په خپل عمر په وچه ډوډۍ په نس موړ
شوی نه يم نگولی خو هلته واچوه.

كوم وخت چې په وره راننوت نوور وسته له سلام اوښې درشې نه
يوكونج ته پر دوو تلوكښيناست اودواړه سترگې يې دخان په تندي كې ښخې
نيولې وي اودې ته منتظره وچې اوس به څه ورته وايي.
خان چې دخپل لاس تسبيح وشرنگولې اوغاړې يې ناره كړې وې ويل:
-لالوا كا! ته به هم وار خطا شوی يې چې زه دې څه كوم. مطلب دادی
چې تاته د(سپين) دميرې دپلار گنی له كاله څخه چازما په خصوص كې
څه درته ويلي وه زه دلته غواړم چې په هغو خبرو ښه و پوهيږم اوكه دې
په يادوي نو ددوی ټولې خبرې بند په بند راته وكړه. كوم ټكی درڅخه خطا نه شي.

په دغه وخت كې (لالو) ترخپلو دواړو څنگنو خپل دواړه لاسونه
راتاوكړي وه او خپله ژامه يې دڅنگانه په سترگه ايښې وه، اوكروپ غوندې
معلوميده. ده خپله ژامه اوسر لوړ كړ اوپه يو داده زغ يې وويل:

-داسې خبرې يې كولې چې نږدې ماورسره وهلې وه. هرڅه چې مې ورته
وويل چې خپله خو له دخان كړي خو غوږ ته يې نه تله. نوماهم ورته زغملای
نه شوای اوخوسوكه مې تودكړ. په خبرو پسې به يې خا نصاحب ته گرځې

ځکه داسې خبرې یې نه دې کړې چې په بیا ویلو وارزي زما په دې خوا ورته شته شوه چې ده ښکنځل کول که نه، نو هغه نورې خبرې خو هماغه خبرې وې چې تقریباً هر څوك یې کوي.

خان لږ څه پر له وا و ښت او په وچ غوندې ږغ یې ورته وویل:

- بې له ښکنځلو څخه یې نور څه ویل؟ یعنې خبرې یې کوم غوږ در لود اوکه هر څه چې په خوله وړ تلل هغه یې راغور ځول؟

(لالو) خپل ځنګنو نه سره وغوړول او چارزانو کښیناست او وې ویل:

- که یې ښکنځل یوې خوا ته کښیږدو نو یې ویل چې (خان او ملالکه لیوان داسې دي چې په رمه کې لویدلي وي. دغسې زموږ په کوندو یتیمانو کې لویدلي دي او غواړي چې ددوی دنیاتر ګوند ولاندې کړي).

کوندې یتیمان لا څه کوې چې موږ او پره ټول ددوی له لاسه دربدره یو. ددوی ګزران زموږ په وینو او غوښو دی. اوس چې موږ او پره خلك یې پروچ هډو کې ودرولو او څه نه را باندې جوړیږي، نو یې پر چاغو کورنیو چې هغه هم دخلکو په غوښو ماره شوي دي را واچوله. اوس غواړي چې دوی هم پروچ هډو کې ودروي. دوی باید پوه شي چې موږ به ددوی په مخ کې کلك ودریږو او اجازه به ورنه کړو چې زموږ دخور لنبې او دهغې دکوچنیانو غوښې وخوري.

دخان طبیعت په هر هغه خبره چې (لالو) به کوله او ښت. په پای کې

یې وویل:

ـزه لهدغه سپین سترګي. . . سره کارلرم، ته دغه خبرې چاتهمه کوه چې بیا نوراوپره راخبریږي اوتل به په خوله پورې را مبنتي وي اوهم به دخلکو په نظر سپکورشو.

دمانبام پر دودی باندې چې دملاصاحب کره یې کړې وه(سپین) خان ته وویل:

ـپخوامې هم تاسوته ویلي وه چې زماځینې پورورې حقراکولوتهغاړه نه ږدي، ځانونه په یوه خوا اوبله خوا کوي، مثلاً د(نور) او (سکاڼ) په خصوص کې مې یوه پلا تاسې ته ترغوږ وتیره کړې وه. هغوی تراوسه پورې زما غوښتنوتهغوږ نهدی نیولی او ځان یوې اوبلې خواته کوي. ستاسې هم لکه چې هیر شوي وي چې احوال ورکړی چې زماسره سم په لاره ولاړ شي. خوداهم درته وایمچې نور دیر کسا ن چې خوراسور سترګي بلل کیدل او حق یې ترځان نه راتیراوه ستاسې له مرستې اوس لارې ته را شیوهشوي دي، څوکسو خولاپخپله احوال را استولیوچې باید ناظرورواستوم چې داجارې غنم راوړي. کهدې یوه بله پلا(نور)او(سکاڼ) ته پیشرو ورکړاوتندی دېورتهتریوکړ، زرهمې راته وایي چې سمدلاسه به خپل غنم ترځان راتیرکړي او بیا به ګوندي پرلاره کاږه واږه نه راسره ځي.

ملاصاحب پررا درسته کړه:

-خدای مودې بې لهخپلهخانه نه کوی. دیخو دغوخلکو تهداسې دی لکه چې پرکتهوبرغولی پروت وې یعنی هر څوك یې پرخپله لارهباندې سم کړي دي اوسانهشی کنبلای. پهدههم دیبابانلیوان گر ځیدلي دي اوهم دکورو کلي غل وغدوی اوناروا او تیري کوونکي. په تیره بیا دخانصاحب زړه خوسناسې سره چوي. ستا دنیا داسې گڼې لکه خپله، تل په دې فکر کې دی چې هغه څه دول له ناروا او خدا ی ناترسو څخه وسا ني چې دبل حق داسې بولي لکهپچه. گمان کوم چې ددهبههیر شوي وي چې هغو دوخدای وهلوته ووایې چې خپله راشه ترڅاندرتیره کړي.

داوروستی جمله یې چې تمامو له نوې سترگې او همخپل سر چې دسپینې پگړۍ لوبه کوته پرپرته وه دخانخواته واړاوه اودا هیله یې درلوده چې خان هم ددهخبره غبرگه کړي اوپهدې توگه خپلهخوا خوږې (سپین) ته نوره هم ثابته کړي.خان غرومب وهل اووېویل :

(سپینه)! تهخولااوسهم هلك سړی یې، داخوددنیا کارونه دي ماتې گودې په کې دیرې پینبیږي لږ څه دې زړه پراخ کړه هرڅه به اسانه شي، ته ومنه چې زهنسل ستاسې دښیگڼې اوگټې دپاره فکر کوم. کهمې هیر شوي وي چې (سکان) او (نور) ته ووایم نودې علت هم دادی چې زه ستاسې دنورومانوگودو په سمولو لگیاوم، مثلاً تاتل را ته ویلي د ي

او اوس هم وایي چې په کورکې په عذاب یې او هم د زړه له کومې دخپلې گټې هرې خواته لاسو نه او ږدولای نه شي ځکه هر څه چې گټې د دغه نورو یتیمانو هم در گه بلل کیږي. له دې جهته غواړې چې ژر ځان یوې خواته کړې او په پوره زړه او ویسا خاطر دخپلې دنیا په دیر ولو بوخت شي. نوتــه وپوهیږه او پخپله ملاصاحب ته چې زموږ دلمانځه امام هم بلل کیږي معلومه ده چې ماپه دغه لاره کې له هیڅ ډول کوښښ څخه ځان نه دی سپمولی. تاته . . .

ملاصاحب یې خبره غوڅه کړه اوورته یې وویل :

-ستاخبره دې په گل بدله شي خان صاحب ! اصلي خبرخو داده چې موږتهول په تا داده یو ته مشربې او دتهول کلي واك لرې. ته به ځکه زموږ دښیگڼې اوگټې دپاره فکر وهې ځکه چې دغه نور خو تهول امیان او اوپره خلك دي. کوم شی هم نه لري چې له هغه سره مینه ولري یعنی تش لاسو نه گرځي که ستاسې بزرگې نه وای او ستاسې سیوری نه وای نو به هیڅ نه وای. نو وپوهیږه چې تهول به خواستغي وای. دلته مې مطلب دادی چې (سپین) باید وپوهیږي چې خانصاحب یو پر شریعت برابر سړی دی ، پنځه وخته لمانځه ته راځي او وظیفه هم کوي. تل د ده ښیگڼه غواړي، پشلایې خوځلی ماته ویلي دي چې څه ډول چل وشي چې (سپین) ته خپل د زړه مطلب ترلاسه شي .

ملاصاحب بیالږ څه پريوه خوا او بله خواشو اوپه داسې حال کې چې نسواريې پراورغوي تمك واچول او خپلې بوې لورته يې وويل چې دډوډۍ احوال راوړي چې که تیاره وي نوښه به وي وويل :

-زمانه اوس اخيره او خرابه ده،خدای مودې ايمان ته خير کړي هيڅوك دچاحق ته غاړه نه ږدي او ټول يودبله سره خوري. ماپخپله څو وخته پخوا د(شيګل ) زوی ته يوديرش منه غنم په سلم ورکړي وه هغه ورځ مې داخبره نرۍ ترغوږ ورتيره کړه چې خپل حق تر ځان راتير کړي خوسترګې يې هيښې ونيولې ، ناريې اوبغاري يې وهلې چې دده خپل تبر خواستغی کيږي. په دې مې هم وبيراوه چې خانصاحب ته به ووايم. خوبيا هم له خپله خره راکوز نه‌شو. کوم وخت چې مې لږ څه په‌کلکه ورته وويل نوخورا پر له وايشيده او راته يې وويل چې (موږ علماوو دغه خانان چې يود دين ستن اوبل ددنيا ستن بلل کيږو دخلکو وينې او غوښې خورو اود اسې ليوان يو چې دانسان په بڼه کې راوتلي يو اود(ژورې) غوندې دخلکو په ښارګت موخوله اېښې ده اووينې يې زبيښو.) که څه‌هم ددغه هلك ددغه ډول سپين سترګی هيدادد(پټو) اکازوی پر هماغه ځای ورکړاوراغوزا ريې کړ او څوښې ګوندې يې په نس کې ورکړې خو سره له هغه هم بايد موږ اوتاسې دخلکو په سپين‌سترګی پوه شو او يو څه سو هانو رسره‌وکړو ، که‌يې ترخوږ ګرته ونيسو او هيغ نيغ په لاره کې ورته ودريږو والبته ددوی چيغې

به نورې هم تر اسمانه پورې ورسیږي ، او دانو ربزگران او اوپره خلك به را خبر کړي .

ملاصاحب لاخپله خبره سر ته رسولې نه وه چې لوربې گډوه او چلمچې رانغه ایستل او بوې خواته یې کښیښودل. خانصاحب دخپلو د ولږو لاسو گوتې تر له جار کړې او سیخې یې وغز ولې او په داسې حال کې چې ارمیږي یې کښل وویل :

-توبه‌خدایه، توبه ! ملاصاحب زه هم په دې شپو و رځو کې د غه ډول خبرې ډېرې اورم په تیره بیاهغه کسان چې په دې وختو کې یې لږ څه تور اوسپین زده کړي دي ، دوی‌موږ ددې‌ملك رښتینې دښمنان گڼي او په دې‌نظر یه دي‌چې دا تهولې لوږ ې، بربندتیا وې، ناروغی‌موږ وتاسو راوستې دي. که‌موږ له‌منځه‌وتلو نو گواکې دا تهول‌شیان‌به‌ورك شي اوددوی دتهولنې‌رښتینې نیکمرغې به‌شروع شي. تیره ورځ زموږ زاړه بزگر ( ادرو ) زماله مشرزوی سره‌خوړلې‌وه علت یې داوچې ده غوښتل سږ کال دیوې رشې‌پروړه نیمایې ده ته ورکړو ، ځکه‌چې ده زموږ دکوز پالیزیـسوې یې وربا راوهلې‌وه. خوزما زوی‌هلك سړی دی ورسره کلك شوی‌و ، نودغه (ادرو) چې موږ وایو له ډیرې ناپوهی دودی غوږته وړي، داسې خبرې کړې وې چې دسړي ویښتان ورته جگ ودریږي.زما زوی ته‌یې‌ویلې‌وه چې: دا زمو ږ دبزگرانو زیار اوزحمت‌دی‌چې‌تاسې لاځکه‌چې تهول‌جهان

یې ودان کړی دی. که زموږ لاس ورښې ونه خوځیږي تول به خواستنې یاست تاسي زموږ دز یار ثمره تېښتوی. خدای مو ورك كړه، كله به هغه ورځ راشي چې تاسې دسرطان مرض زموږ له وجوده ورك شی او موږ په خپلواكې توګه دخپل ځان دپاره كښت وکرو وکړو. (زمازوی هم دی بنه تېکولی و. خوخبرې یې خوراستغې اوسری له چټې باسي او هغه ستاخبره كه ورسره وځیرل شي نونورې بدې بلاوې راوېښوي. )

ملاصاحب پر دودی باندې درې پلا بسم الله وویل اوبیا یې په لږ څه لوړ زغ د (من اوله ومن اخره) جمله وویله.

د دودی له خوړلو وروسته ملاصاحب په اصل تکې باندې راولګید اووې ویل:

- پرون مې ستاآكا (میرامد) ولید هغه ته مې وویل چې دیتیمانو دنیالکه ورزې (كلیکې) سره غورځي څوك نشته چې سره تموله یې كړي اوبوڅه زیرمه یې وكړي. باید یو دیر یادرده سری چې هم دعقل خاوند او هم دسوتې زوور ولري اوتر محكمو بنه څخاستلی شي دوصي په توګه ودرول شي او په دغه دول دهلكانو، نجونو اوكرندودنیا خوندي كړی شي. هغه راته وویل چې دی پخپله دهیڅ شي نه دی. ترماجته پورې په خورا زحمت راځي نوددوی دنیا به څه پلو وا چولای شي. خوما ورغبرګه کړه چې شریعت ستادوصي کیدو جواز ترهرچا دیر درکوي نو که یې ته نه کوې او (سپین) هم خپل ویش غواړي او دادنورو زیرمه په ځان نه منې نو به مصلحت سره

بل ځوك ژړو دروی چې دغه اوسنی لاندې وباندې ماتې و گو دې په بیره سمون ومومي. هغه وروسته له یو ځه فکر کولو داخبره یاده کړه چې دی له دیر عمر ځخه په دې نیت کې دی چې خانصاحب ته ورشي او دا پیتی دهغه په غاړه واچوي.

خانصاحب بیا سره وغوړیدی او تندی یې خورا ورین شولو مړی تر هغه چې دی ځه ووایي (سپین) وویل :

-په دغه خبر واتو وکې دیر وخت تیر شوا او داموضوع زما میر وهم ځیرلې ده هره یوه غواړي چې خپله پلار گنی وصي کړي او په دې توگه ددوی په خولو کې یو ځه وروا چوي.

ملاصاحب، ما پخوا هم ورته ویلې وه چې ماته کښته باغ اودکځ ځمکې راکړي او خپل ویش په لاس راکړي، وروسته له هغه هر ځه چې کوي ودې کړي او ما پریږدي چې خپله غریبي وکړم اوسبا راسره دچاجنجال نه وي. خوځر نگه چې پخوا مو هم ویلي وه دایوه میره به له ماسره وي داځکه چې دیره سرگرداني نه لري.

خان غوښتل چې ځه ووایي خو ملاصاحب یې خبره نابو بره او بې ارادې پرې کړه او دخپل دغه کار عذر یې ورځخه وغوښت چې خان د (پروانه لري) په جمله جواب ورکړ. نو بیا ملاصاحب په یو بریالي غوندې ږغ په داسې حال کې چې سترگې یې دخان په تندي کې ښخې کړې وې وویل :

-زما په خیال خومعامله بیخي فیصله غوندې ده سبا به یادلته زه تاسي ته دودی وکړم (میرامد) او دوه درې نور دکلي سپین ږیري بزگران به هم راوبولم او داکار به په شریعت برابر فیصله کړ واو په دې توگه به تردې خبرې سوك وباسو.

خان له لږ خندنه وروسته وویل:

-زه خو پخپله هیڅ پکې نه وایم که (سپین) کو مه خبره کول په کې غواړي اوس دې لا و وایي چې که غواړې نور څوك هم په دې معامله او فیصله کې کښیني نو دغه او یا دعوی نوم دې واخلي.

(سپین) سره وخوزیده او دخان خبرې یې څکه ښې نه واوریدلې چې دده فکر بلې خواته تللی و یعنې د کڅ په مځکوکې یې خیالي باغونه کرل.

نوېې له خان څخه په دیر ادب پوښتنه وکړه چې هغه خپله خبره بیا ورته وکړي هغه هم په لږ څه نور تفصیل ورته وویل.

-(سپین): به! به! هیڅوك نه رابولو. زماز ړه وچې صاحبزاده صاحب هم په دغه جرگه کې کښیني چې کار به پوخ غوندې شي. خو هغه راته وویل چې تاسې ته یې کامله لار ښودنه کړې ده او دده راتگ ته کوم خاص ضرورت نشته. همدغه ښه دی چې سباته دغه کار همدلته ددغه عالم په کورکې فیصله شي چې گوندې دغه فیصله نیکمرغشي او دټولو په گټه وي.

ملا صاحب: زما فکر خولا داوچې که دشریعت له اړخ نه ورته ضرورت نه لیدل کیدای ما به مشوره ورکړې وای چې دغه دوه سپین ږیري

بزگران لا هم مهرابولي. دا ځکه چې زمانه له فسادنه ډکه ده جوړ اوړ وغ کا رونه سره ورا نـوي، خو ځکه چې شا هدا نو ته ضرورت دی نو د غـه کار بد نه دی.

خان خپله یوه پښه پر بله واړوله اووې ویل:

ـ د شریعت کارونه خو دومره اسانه نه دي، تر هغه چې ښه سم شاهدان نه وي او نور ترتیبات یې برابر نه وي کله د غسې کارونه فیصله کیدای شي. خو دا باید وویل شي چې د غه دواړه سپین ږیري او هم (میرامد) عاجز خلك دي زموږ او ستاسې له خبرې څخه نه تیریږي. راغلو دې ته چې وروسته بیا شرعي وصایت خطونه واخلو آسا نه خبره ده. زه به قاضي ته یـوه نښه وروليږم هغه به دواړه خطونه راواستوي او بیا دې د ول به یو غوږ په بل غوږ هم خبر نشي.

ددې بدای تر له شته ، ځمکې دي او که باغونه ، نغدې دي او که د کور لوښي او لرګي په یو څوور څوکې سره وویشل شول. لومړی فیصله شوې وه چې ددوو کوندو او دهغو دیتیمانو وصایت به خا ن کوي او یو ه کونده سره له یوز وی او یوې لور به د(سپین) سره ژوند کوي او د هغو دشتو زیرمه به هم د(سپین) په غاړه وي خو کوم وخت چې دعمل د ګر راغی دیوې کونډې او یتیمانو زیرمه ملا صاحب ته ورپه غاړه شوه ، په ویش کې (سپین) ته تړل هغه باغونه او ځمکې په برخه شوې چې ده غوښتلې او په دغه سبب ده پښې

له خوشحالۍ نه ځمکې ته نه ورځي .

يوه ورځ دچمبر په هغه برخه کې چې (سپين) پسکې اوسي خوراز وزه اوشور ماشور دی. دباندې دانگړ دوره په خوله کې دوه اوښان چوک دي. خان او ملا په بيره هغې خواته درومي. دوی چې په وره ورننوتل نو دا غږ يې ترغوږ شو :

- نه يې کوم، ميړه نه کوم! زور او جبر ولې را باندې کوې؟ څه ته مې له دغه خپله وطنه ورکوې او له خپلو ماشومانو مې بيلوې!

زه غوارم چې پر خپل دغه يوزوی باندې سرسپين کړم.

دميلمنو په کوټه کې څلور کسه نور ناست دي. دوو تنو يې لږ څه ښوی کالي اغوستي دي او سپينې لنگوټې يې په سر دی. دوو نورو زلميانو رنگه پتکي دمول په ډول ترلي دي او کالي يې خيرن غوندې دي چې يوه توره او بل سره سلرۍ اغوستې ده او دکارتوسو قطار و زمې يې ترملا دي او هم يې پر غبرگو اوږو باندې له کارتوسونه دکقطارونه را اچولي دي دوی دواړو له حاضرينو سره په لاس روغبړ وکړ او دخونې په سر کې لـه دوو سپين پگړو سره کښيـنـاستل او ملا صاحب په خپل ځادر کې نغښتی ناست دی. له وضعيت څخه ډا ډول معلوميږي چې په اصل کې تول سره خبر د ي خو خان دخبرو دشرو کيـدو دپاره په دوستانه ډول پوښتنه تر ينه وکړه :

- خدای مور او له ستړي مشۍ څه وخت را ورسيد لاست؟ خير خو وه

څرنګه راغلي یاست؟ موږ څه مرسته درسره کولای شو که یه؟ یوه په عمر پوخ سړي چې خورا غټه لنګوټه یې وله ول پرسر اچولې وه وویل:

- په دې کې څه شك نشته چې موږ وتاسې ټول یو پښتانه یو خو موږ ارت غوندې یو یعنی زموږ ځای په (بوري) کې دی موږ ته خوښېږي پخواستا اود سپین دخولې نه چا احوال را ور چې یوه کونده ده او غواړی چې هغه زموږ په خوا کې خرڅه کړی. څرنګه چې موږ ته ویل شوي دي کونده د(سپین)میره کیږي. نو موږ دا یو له هرڅه سره چمتو راغلي یو هیله لرو چې ډیر ونه ځنډول شو او زموږ کار ژر خلاص شي مینه به وي ځکه چې وخت دغریبی او خواری دی هر یو خورا ډیر کار ونه لري چې بایدویې کړي.

هغه بل ملګري یې پررا درسته کړه:

- موږ غواړو چې په دې تکي پوه شو چې دغه کونده په غاښی څوده خوپلا لنګه ده ؟ او هم به بده نه وي چې دهغه پیتمي اندازه راته وو ایاست چې تاسې بې غواړه پر موږ یې له دې د رکه کنبیږ دی. موږ هم غریب خلك یو که موله وسه پوره نه وه چې دغه پیتمی واخلو نو څرګنده دې بې له دې چې ځان او یا تاسې سرګردانه کړو له دې خبرې نه به مخ واړوو او خپله لاره به وهو.

خان:

- خورا تلوار مو دی خیر دی! داهم ستاسې خپل کور او ځای دی.

لیري والی خوموږ پښتانه سره بیلولای نه شي. پښتون که دنړۍ په هر گوټ کې وي بیاهم دپښتنولی په کلك مزي تړلي دي. تاسو ته به څرگنده وي چې د(سپین)بل داسې څوك خپل نشته چې هغه ته داکونده ورکړي نوځکه موږ په مني چې پوونده دورې در تلل احوال دروليږه چې که د چاکونده په کاروي رادې شي، ښه شو اوس به پخپله (سپین) درسره غږیږي.

(سپین) ملاصاحب ته مخ ورواړوه:

-ته اوخانصاحب زماله‌خوا دریمان یاست. هرڅه‌چې تاسې سره‌غوټه کړه هغه زما خوښه‌ده. په دغه‌وخت کې یوله بوري والوڅخه‌ږغ کړ:

-دالااوس درته‌وایوچې زموږ یوازې کونده په کارده. له‌چیچیانوسره یې زموږ کار نشته‌یعنی وروسته‌بیا داخبرې نه‌منو چې داکوچني‌پرتي دي او باید تر هغه وخته پورې له مور سره وي څوچې دغویوله ښوزي. موږنه پردی یتیمان ساتلای شو اونه یې پرڅان چغولای شو.

د(سپین) مخ لږ څه سورغوندې‌شو اووې ویل:

یه کاکاجانه! خپل یتیمان دبل چا پر اوږونه باروو. له‌دې ارخه بیغخي بیغمه‌اوسه. خودومره راته‌ووایه چې کونده چاته کوې؟ میره یې کوم یودی؟

یوه ورته وویل چې:

- میره به یې پیدا شي ترهرڅه اومړی باید دهغې ولور فیصله شي.

خان :

- تاسې ته خو څرګنده ده چې پیغلې په ۲۰ ـ ۲۵ زره افغانۍ دي نو پر کونده که (سپین) له تاسې څخه لس زره واخلي نو تاسې باید خوشحاله اوسئ.

بوری وال :

- په ۲۰ ـ ۲۵ زره خو هغه پیغلې ورکوي چې د پلرو جوغې یې تراسمان ختلې وي. دانورې پیغلې خو په لس پنځلس زره هر چیرته پیدا کیږي.

بل ملګري یې خبره غوڅه کړه اووې ویل :

- په ولور ډیر نه درسره اوړو خو. . . .

خان :

- یو خبر به لاوس فیصله کوو هغه دا چې کونده د (سپین) په کور کې هیڅ حق نه لري او نه به یې تاسې غواړئ. د یې خپل حق خپلو دوو چنګو تیانو ته وربښلی دی.

ملا :

- پر شریعت یې برابره کړئ باید یو دوه تنه شاهدان تیر شي خبره باید پخه شي.

سپین :

- شاهدان خو اسانه دي یو پخپله خانصاحب او بل به زموږ ناظر راوغواړو.

ملا:

ـ سمه ده مقصد داچې شریعت خوارنه شي.

بوریوال:

ـ ستاسې لاځه خبر وته پام وي د ښځې حقونه هیڅ وخت موږ نه غوښتي دي اونه یې غواړو. په موږ کې د غـه ډول رواجونه له سره نشته له دې پلوه بیغمې دا ده اوسې یوه پلاچې زموږ وستاسې خبره جوته شوه نو وېوهیږې چې بیابه کلونه ورو ستهسره وینو، یاشایدچې بیا په قیامت سره گورو.

خان:

ـزه غواړم چې یوه منصفي وکړم خو په دې شرط چې تاسې ټول یې ومنې ډیر زغونه را پورته شول چې ویل یې:

موږ یې منو وایاست.

خان:

ـ لاس پورته کړې او دعا پرې وکړې. زموږ بوریو ال وروبه دې اته زره افغانۍ ترڅان ور تیرې کړي.

ټولو وویل:

ـ امین، خدای دې نیکمرغه کړي.

مـلا:

میره بې معلوم کړی چې نکاح شرعی شي .

یوسپین زبري چې سپینه لنگوټه یې تړلې وه خپل تمتر ته گونه ونیوله اووې ویل چې :

(میره یې دغه زه یم) .

تر اوسه پورې په خبر وکې دا سې بریښیدله چې دی دبل دپاره رویباري کوي. خودده ( دغه زه یم) پوچا عجبه اونا اندوله‌نه ولگیده. صرف سپین دخان اوبیا د ملاصاحب مخ ته وکتل چې گوا کې پرد وی دغه تکې څه اثر وکړ. ددوی دخبرو په ترڅ کې کله کله بادله نوروخونوڅخه د ښځو دژړا اوزوزې ازا نگه راورې، چې ددوی غوږونوته خورا ضعیفه ورسیدې. کوم وخت چې(سپین) پوه شوچې خان اوملا تندی تریونه کړ نو سره وغوړیده اووې ویل چې :

-ښه دی خوښه مې ده دمامې نه‌پرجوړ وو پیسې له ملا راخلاصې کړه او خپله ښځه موولی .

خان :

ملا صاحب ! لاس پورته کړه او یوه ښه دعاوکړه چې دغه وصلت نیکمرغه وي........

دخان خبره‌دزوم له خوا دا دول غوڅه شوه :

-موږ اوریدلي دي چې ددې ښځې پلارگنې خورا غښتلې او زوروړ

خلك د ي كه څه هم نيستمن دي خو وا يې چې تكره دي . نو تاسې له هغوی سره هم كومه مشوره كړې ده اوكه يې لازمه نه گڼی؟

خان:

- د پلار گنی يې په دې خبر و څه ؟ خپله كوندهمو ده هر څه چې په كوو په كولای يې شو، پلار گنی خوېې يو پلاولور و اخيست نو بيا به په چپه لاركې راته ولاړ وي ، خوكه چيرته ودرېږي هم ورسره ولاړيم داغمونه او چمونه په موږ را پريږدی‌ه ستا ددعاله بركته دغسې شيان مې نسوار نه دي. چې ژوندي يې ښخ كړم والله كه څوك مخ راواړوي اوكه يې په كلوكلو بندي كړم نوهم مې دلاسه كيږي، خوزما په فكر د وی به هيڅ ونه وايي داده اوسی ضامن موزه يم.

(سپین) له مجلس څخه ولاړ شو خوزوم ورته وویل چې كښينه داخپل پور دې در خوندي كړه بيانو هر چيرته چې ځې لاړ شه.

زوم سمدلاسه جيب ته لاس كړ او يوسپين زړوكی يې له جيب څخه چې سپين والی يې له ډير وخير ودلاسه ورك شوی وه، راوكيښی. په دې كې دېښځوسو افغانيو څو نوټونه وه چې هغه يې په زړوكوكې نغښتي (سپين) ته ونيول.

(سپين) وروسته له شمير لوڅخه بيا ولاړ شو او دښځو دخونو خواته رهي شو.

دسپين مور مخ ته ورغله او په خورابيره او وار خطايي يې ترينه پوښتنه وكړه بڼ يې (چې هم دغه اوس يې خرڅه كړه) هم ترشاورته ولاړه ده او لوی لوی سو تونه

کوي. ستر گې یې له ډیرې ژړا داسې ښکاریږي ته به واچې سره مرچ یې ښکې اچولي دي. ددې لور اوکوچنی زوی هم دومره کریږي وهې چې ته به وا په اسمانوکې به یې اروي. ددوی کریږې هغه وخت لا پسې لویږي چې ددوی دمور سوتونه نور هم پسې لوړ شي .

(سپین) مورته وویل :

ـ فیصله وشوه په خیر . . . .

ده چې دا تکی پای ته رساوه نو میرې یې تر گریوان ونیوا او لومړی تر هغه چې څه ووایي ژ ربې زړه ډوب شو اوسمد لاسه په ځمکه پر مخې ولویده دواړه کوچنیان یې هم پر وغورېدل او داسې شور ماشور یې جوړ کړ چې دفولادو زړه یې لا ویلاوه، (سپین) بې له دې چې وارخطا شي او یاحیران شي خپله خبره یې پسې اوږده کړه :

ـ له دې بلا مې هم خلاصه کړې مور ! که خدای کول ددوی برخه هم زموږ په برخه ده سباوختي به یې په اوښ در څخه سپره کړي. بیا په زربې (پسخانه) ورننوت اویو صندوق ته پر دوو تلو کښیناست او دپړتوگاښ له سره نه یې کلي وروغز وله او قلف یې خلاص کړ. وروسته له هغه چې پنځه زره افغانۍ یې په صندوق کې کیښودلې ، درې زره افغانۍ یې به هغه ځای خان اوملا ته ورکړې ، نوبیرته ژرراووت مورته یې وویل :

ـ پر یږده ! دا دښځو مکرونه دي زیاتي اوبه مه پر پاشه پخپله چې

ستري شي سمه بهشي تانه دي ارويدلي چې وايي له (هرې ښځې سره څلويښت او ښان په مكربار وي.)

ميره مو وروكړ، دالانه ده خوشحاله. ته ورشه دخوينبانو دپاره يو څه برابر كړه د دوی سر ښته وكړه او هم خوداني دسمالونه او دوې لنگی او څو سپيني لنگوتی دخانصاحب، ملاصاحب او ددې نورو دپاره مونده كړه چې ژربې دنده كوتاه شي او مخكې ته ولويږو اودآرامی ساوكاږو.

گهيځ په سپيدو داغ بې خپله ميره په زورله خپلو دووكسوچنيانو څخه بيله كره او (بورې والو) ته يې پهاوښ ورسپره كره.

دهلك اونجلی دواړوځو ورځې خورا زوروري تېې وشوې چې ددوی دولونه ژړا اړولي وه خو وروسته له ۱۰-۱۲ ورځو بيرته خپل طبيعی حال ته راوگرځيدل.

د(سپين) زره اوس ترپخوا ښه پوره شوی دی او ځان خپل مقصد ته يعنی چې ددغه يوه ميريز و روميراث هم وريانې شي نږدې بولي، دی ترپخوا ډيرفعاليت كوي او هرې خواته خولي لگوي. دی صاحبزاده صاحب ته ترپخوا ډيروروځي او خپل اخلاص يې نور هم ډيرورته ښودلی دی. (مبارك) په دې خورا خوشحاله شوچې له (سپين) څخه يې داسې واوريدل:

-ستاددعا له بركته ويش هم زما په زره وشو او نوركارونه هم زما دمقصد سره سم روا ن دي موږ خوستاسې ښو خلكو د پښو خاورې يو كه ستاسې

مرسته اوکومك نه وي نوموږ خود بیابانتورې خاورې یو او دا او پره خلك به مو داسې غرج وهي لکه دلم گوله .

(مبارك) له دې امله چې خان او ملا ورسره څرنگه دي پوښتنه ترینه وکړه اوورته وې ویل :

زموږ د فقیرانو لنگر خوتل تاسې غوندې سخیان اوشتمن خلك تودساتی. په دانورو پورې خوبوه خوله مړی نشته او خپل ځانونه په خوندي نه دي ،که مې رښتیا پوښتې نو ډیر امکان لري چې (جنت) ته به هم تاسې سخیان پېیرواوپتهوستر گوروان یاست. دا ځکه چې تاسې دخیرا وخیرات څښتنان یاست.

(سپین) مسکی شو او په خورا خوازه ژغ اوروښوستر گو چې دخورا ډیر اخلاص څرکي ترینه غورځیدل ورته وویل :

ـ صاحبه! که موږ ستاسې غوندې ښو خلکو او پیرانو په لنگر کې خپل سرونه کښیږد و نوهم لږ ده، دا ځکه چې زموږ ټوله شتمني او نیکمرغي هوسا ژوند لکه چې پخوامې هم وویل ستاسو ددعا او مرستې نتیجه ده. خدای دې دخانصاحب او ملاصا حب سیوری هم زمو ږ له سره نه کموي که دغه علما او باتدبیره خلك نه وای نوهم به موږوند تریخ وای دوی دواړه له ماسره نه ناست دې اونه ولاړ. زموږ دکاله دنیکمرغی دپاره هر ډول مرسته کوي. بله خبره خوداده چې تاسو هم پهخبر یاست چې دوی دواړه وصیان شوي هم دي. ښه دی دملاصاحب خواوس گذاره شکر دی

ښه شوې ده په دې وختوکې یې یو دوه شوا روزه محکمه هم رانیولې ده.

صاحبزاده صاحب:

-رښتیا د محکمې خبره دې وکړه. یوه ورځ خانصاحب راته ویلي وه چې تاسې په نوي کاریز کې څه محکمه لرې. نوما ویل چې د ازموږ هلکان هم هوسیږي او غواړي چې هلته یو څه نیوکه وکړي که تاسې ته کوم تکلیف نه وي نو...

-هو، هو، صاحبه! زموږ خو هلته ښه ډیر شواروزونه دي. خانصاحب ما ته ویلي هم وه ښه شو چې تا سورا په یاد کړل. که څه هم هغه محکمه زموږ د ټولو ګډه بلله کیږي خو بیاهم وصیانو ته به یې ووایم چې له مینځ نه یو څه تاسو ته درجلا کړي. صاحبه!

محکمه اوشواروزونه دې ستاسې بلا وا خلي. ستاسې نا زخو موږ دسرپه سترګو منو هروخت چې وا یې نوقوالې به یې درته را واستوو. خانصاحب ته به ووایم چې ددغه کارسر رشته دې پخپله وکړی.

خومودە وروسته په کلي کې دا چوك چوکه شوه چې له خوور ځورا په دې خوا (ګرډی) یعنی د(سپین) میریزی ورورورك دی او هیڅ پته یې نه شته. (سپین) خورا کښته وپورته وځغاست چې هغه مونده کړي. د یر خلك یې پسې واچول چې پته یې وباسي. خو دده دغو ټولو ځغاستو اولاس وپښو وهلوکومه په زړه پورې نتیجه ورنه کړه او (ګرډی) ژوندی زانبی ورك شو.

دکلي نور وهلکانو چې د ی یې دوروستی پلادپاره لید لی و وویل چې هغه موږ ته وویل چې اوس به د(سپین) لالاسره دکوتر و دمرغانو دښکار دپاره ځم چې دزړوکاریزو په سپر غوکې خورا ډیرې دي.(گرديي)ددې کار او ښکار کولو دپاره خورا ډیر هوس کاوه.

په لنډه موده کې د(گرديي) دورکیدوخبره سره شوه او هیڅایې بیانوم وانه خیست چې څه شو. د(گرديي) نیاگانوډیره سعیه وکړه چې مونده یې کړي خوهیڅ یې په لاس ورنه غلل. دوی(سپین) په دې تومتي کړ چې هلك یې په لوی لاس چیرته په بلاخوړلی دی او(سپین) یې په دې تهدید کړ چې ژر به ورباندې عرض وکړي خوخا نصاحب هغوی را وغوښتل او ورته یې وویل چې دده دکلي کورکاله په چاروکې لاس ونه وهي که نه وي بیا به پښیمانه شي که یې عرض وکړ نو به خپل هیداد وویني خوددوی له خوا پر له پسې احوالونه ورته را تلل چې ژر به رپوټ وکړي او حقایق به ډگرتـه راوباسي.

د( گرديي) دنیا گانوپه د ورې اورادورې مندو وهلوداخبره بیاشنه شوه اودشاوخوا کلیو خلکو په هغه کې د ول ډول خبرې کولې.

(سپین)اوخان له دغو خبرو څخه په تنگ شول اودهغه دتریوتړلو دپاره یې سره مشوره و کړه بیا خان ملاصاحب وروغوښت او هغه ته یې وویل :

-ته یوه ورځ دغه خدای خوارکړی کورته راوبوله اوښه یې خرپامـه

کړه چې دما راوغالبوزو په غارولاس او گوتې نه منديکه نه‌وي بيا به پښېمانه شي او ددې پسه ځای چې لاس ته څه ورشي خپل غوږونه به بايلي. موږ بايد غارې پرخلاصې کړو.

(سپین) دخان په دې وينا چې دده طرفدارۍ په کې ځرگنده‌وه خورا خوشحاله شو او ملاصاحب ته یې ډير اصرار وکړ چې ژر ددې بلاو دفع وکړي. ملاصاحب په‌لړزو شپو کې د(گردي)ماماگان راوغوښتل او ورته يې وويل :

-دخوارۍ او نيستۍ تکليفونه مولږ وه چې اوس خلك هم په آرامه نه پريږدي؟ خدای‌مونور هم پسې خوار کړه! تاسې اوسيالی اوتربور گلوی! داڅه حال مواچولی دی؟ خپلې خولې او خپل لاسونه مو درتهول کړی له دې ناوړو کارو څخه چې په خلکو پسې موڅراغ انيستی دی لاس واخلی.که له خپله څره نه‌کوزيږی نووپوهيږی، چې دخانصاحب طبعه به ترله واوړي او خوشی به دېږ وبل کړي. ما خپلې غارې درباندې خلاصې کړي که بياهم زماخبره نه منۍ نو مظلمه دې په‌خپله غاړه.

صاحبزاده صاحب چې ستاپه څار لنډيو خبر شوی دی خوابې‌شنه شوې ده‌هغه هم ماته وويل چې تاته ووايم له دغسې ناپرېتوڅخه لاس واخله او خلك په‌بدی کې مه سره اچوه .

د(گردي) ماما (سپين‌گل ) خورا پرله واووښت اوورته يې‌وويل:

ـ یوه پلاخو پښخپله د(سپین) پلار له موږ سره خورا لویه پره وکړه، زموږ دغه خورکه یې په نه څه پورکې داسې راځخه وشړله لکه څوك چې څاروی له چا څخه بیایې، اوس چې بیا کونده شوه نودمچلوغزې ډبره موکړه او هیڅ پته یې نه معلومیږې چې چیرته وغورځیدله. له وړو څخه موبیله کړه. دریم ځل موبیا داسې په سپکه ورته وکتل چې دهغې یوازینی کوچنی زوی موږوندی زانبی ورك کړ. زه ښه پوهیږم او خلق هم ښه پوهیږي چې ښځه موولې دمچلوغزې ډبره کړه او هلك موولې تري تم کړ. دغه دواړه ناوړه کارونه ددې دپاره وشول چې (سپین) دیر میراث تحول کړي او زما دخور برخه هم پخپله غرچ وهي. دامې په تینګه پتیلې ده چې زه دخپلې خوراوخوریې کسات وانه خلم نوپه آرامه به کښینم، هغه کسان به چې په دې ناوړه کار کې یې برخه اخیستې ده په اوومحکمو وګرځوم. که چیرته هغه کومه نتیجه ورنه کړه نو پخپله له دغه وطن څخه بل وطن ته ورکیږم او بیاچې مې په هرچالاس برشو هغه به وروږ نم.

ملاصاحب:

ـ اوس چې ماغاړه درباندې خلاصه کړه نووبال دې په خپله غاړه. هرڅه چې کوې کوه یې. خودومره درته وایم چې له خانصاحب سره نه په شریعت کې څه کولای شې اونه په تحویلك کې.

غواړم چې په ډانګ پیلې درته ووایم چې خان صاحب په (سپین) باندې

کللك ولاړ دی، پر هغه باندې مچ نه پرېږدې چې کښېنې .

خان چې د (سپین ګل ) له نیت ځخه خبر شو نو سمد لاسه یې یو داسې چل جوړ کړ چې پر (سپین ګل )باندې یې ددې تورولګاوه چې دی علماو ته ښه نیت نه لري او هم په قوم کې شر اندازي کوي.په لږه موده کې یې دی بندیخانې ته بوت. وروسته له دغه کارنه(سپین) په آرامه نفس وکیښ او هیڅوك یې دخپلې ګټې په لا ره کې حایل اومانع نه ګاڼه اوپه خورا پراخ لاس اوپوره زړه یې ژوند شروع کړ. خا نصاحب اوملا هم خورا ډیر بدایان شول او ښې ښې محکې چې ډیرو یې په صغیرانو پورې اړه درلوده دخپلو زامنو په نامه قواله کړې. کوم وخت چې به (سپین) ولیدل چې د وی دده د میریزوورو ښو په شتمنی کې بډ ایا ن شول نو یو بل ته به یې ددوی دبې انصافی ځخه خوله وهله. دده په د غو شکایتو خان ډیر غوږنه ایست. خوپه پای کې دسپین شکا یتونه نورهم پسې ډیر شول اوخان یې په تنګ غوندې کړ، نو یوه ورځ یې دی ورو غوښت او ورته یې وویل :

-سپینه! ستا خبرې ډیرې شوې دې تل هرکس اوناکس ته وایې چې ماوملاصاحب ستا په حق کې ظلم کړی دی خوته باید وپو هیږې چې ستا شتمني تر پښخوا خورا ډیره شوې ده ستا اکثرو ګرویو اواجارو قوالې اواجاره خطونه ،نه درلودل ، ډیرو پوروروددرته ښه ونیوه او پر اصل

سر درته‌پښیمانه شول خودازه اوملاصاحب و چې دوی تهول مود رته تابع کړل اوستا حق موترینه حصول کړد ازموږ په متهٔ ا وبرکت د ی چې هرکال ستاشته تر تیرکال ډیریږي. که موږ نه یواولاس در څخه وا خلو نووپوهیږه چې دااوپره بزگران‌به دې‌غوښې اومې وخوري. سر بیره په‌دې په ویش کې مولحاظ خورا ډیروکړ اوهم د(سپین‌گل ) خوراو خوریې دې دوارهٔ‌په بلا وخوړل‌اوپرمیرا ث یې تاغیږراوگرځوله، اوس بیا هم موږبې‌انصافه بولې اوهرچاته دې‌خوله وازه کړې وې اوزموږ بدورته وایې. د(گړد ي) په خورد ې‌هم خورا غټ ولوړواخیست. کهٔچیرې ستادمړه پلار لحاظ ونه کړم نووپوهیږه چې د(گنگا) خاورې به‌دې‌کړم. پرلار سم څه چې‌خدای برکت درکړي.

یوه ورځ په داسې حال کې چې دخان‌هیڅ فکر اوتوقع نه‌وه ملاصاحب دهغه په انگړ ورننوت، خان دبانـد ې په انگړکې ولاړو او سمدلاسه یې ملاصاحب خپلې‌خونې‌ته بوت. وروسته له‌عادي روغبړ نه ملاصاحب ورته وویل چې:

-زه پوهیږم چې‌په دغو وختوکې ستااود(سپین)سپی‌منه‌نه سره‌غـاړې دلیل یې‌هم ماته ځرگندی .

(سپین) یوازې پر تاسې غورځنگ نه کوي ماهم درسره مل بولي خدای دې‌ده‌ته انصاف‌ورکړي. خوچې‌بیازه فکر وکړم له ځان سره وایم

چې اوس لاهم زلمی دی اودونیا سړې تودې باندې تیرې شــوې نه دې گوندې سم شي. خدای به هدایت ورته وکړي. ددې دپاره چې ستا اود(سپین) په منځ کې روابط سم شي مایوفکر کړی دی که ستا راسره خوښه وي نوزه به دهغه داجرا دپاره کوښښ وکړم. هغه دادی چې: د(سپین) یوه کمندره غوندې خورده هغه به ستازوی(ژړ)ته وغواړو او هم به ستا لور(وړنگو) پخپله سپین ته ورکړو چې په دې توگه ددواړو کورنیو په منځ کې.دوستي او ملگري نوره هم ډیره شي اودغه اوسنې ټول جنجالونه اوسیالۍ به ورکې شي اوتر پخوا به لا ډیر ستا اوددوی په مابین کې دتنگ او راتنگ مزي ټینگ شي.زه خوبې له دغــوخبرو ستاسو د دواړو دعاگـــوی یم او ددواړو خیر غواړم. ستاسې بې اتفاقي ماخوارووي. نوزه ځکه سعیه کوم چې ستاسې ترمنځ دخیر «سرې اوبه توی شي» اوموږ ټول په قرار شو. خانصاحب دغه ډول دوستي نوره هم پخپله گټه وگڼله نوځکــه یــې ملاته وویل:

زه خوددغسې دوستۍ لوری کوم.خولوموړی ددې کارترکیدلو بایدله صاحبزاده صاحب سره هم مشوره وشي. دهغه مبارک زړه خوراراته پوست دی یعنی دزوې کاریز په ځکو بسې چې موږ اوتاسې او (سپین) ورکړې زړه خورا خوږ شوی دی. خدای دې موږ اوتاسې دده له شره وژغوري بیخي خوشحاله دی.

ملاصاحب:

- کوردې وددان چې زما خبره دې نرمه ومنله. زه به (سپین) هم دغه کارته چمتو کړم او ډیره هیله ده چې هغه هم دغه خبره ومنې. په دې دوستۍ کې زموږ اوستاسې خورا ډیرې گټې دي که څه هم موږ وتاسې دیوې دلې خلك بلل کیږو او گټه موسره شریکه ده، او په دغو موقتي خوابدیو موږ نشو سره جلا کیدلای خو بیاهم دغه محضي دطبیعت خړ والی به هم له منځه ووځي او په دې توگه به او پره خلك او بزگران زموږ او ستاسې له اختلاف او بې اتفاقۍ نه گټه وانه خستلای شي.

# د ځینو کلمو او ترکیبونو خواته مو پام اړوو:

| لغت | معنی | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| انبهار | (ځیره، بڼه، شکل) | ۱۰۳ | ۸ |
| اوېره | (نیستمن، لاجایداده) | ٦٨ | ٦ |
| باوله | (بوله، ساده بوده) | ۹۵ | ۱۸ |
| باولی | (اشنا کول، روږدول، هغه میدان چی ښکاري مرغانو یا ښکاری سپوته‌پکی د ښکار نیولو چل ښول کیږي) | ٦٨-٨١-١٠٥ ... | ٦-٢-١١ ... |
| بچه گرو | (ځرمنی، هغه موسم چی زړه غله خلاصه او نوې نه وی رارسیدلی.) | ۲۵ | ۱٦ |
| بدودي | (تاوان، نقص، بدي) | ٨٦ | ۱۲ |
| برېزي | (کلنگک کول، د نروز یا پسه د مستی په وخت کی آواز) | ۵٨ | ۱۳ |
| بوزیدل | (آواز کښیناستل، مری کښیناستل، بغیدل) | ۴۳ | ۳ |

| لغت | معنی | مخ | کرښه |
| --- | --- | --- | --- |
| پر یبل | (روهل، تکول، توبیخ کول، رټل) | ۷۹ | ۱۳ |
| پرین | (پیروان، هغه نری جالی چې په هغه کی بچی دمو ر په گیډه کې نغښتی وي او د بچی له پیداکیدو سره دمور له گیډې نه بهرته راوزي) | ۱۶ | ۱۶ |
| پښلا | (پښی شا، په غیاب کې) | ۱۰۸ | ۱۶ |
| پنډکی | (پټی، دسماله، جبیره) | ۶۲ | ۱۰ |
| پوره (زړه) | (آرام، مطمئن، خاطر جمع سود، تسلی، جمعیت، تسکین) | ۱۴-۳۴-۴۳ ... | ۶-۲-۱۵ ... |
| په سرو تل | (په جنګ اخته کیدل، په کش وگیر اخته کیدل) | ۶۹ | ۱ |
| پلیته | (باتی، پلته) | ۷۹ | ۵ |
| پیتلی (چاینکه) | (حلبی چاینکه) | ۲۲ | ۳ |
| تروښل | (تښتول، ترورل، توزل) | ۸ | ۱۱ |
| ترې تړل | (چاره کول، تدبیر کول، چاره) | ۵۲-۵۳-۶۹ ... | ۲-۴-۶ ... |
| چمبر | (قلعه) | ۱-۲-۵ ... | ۲-۱۶-۵ .. |

| لغت | معنی | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| چیته | (فیصله، روغه) | ۴۵_۲۷ | ۱۲_۵ |
| ځنگوانبس | (متکاء، تکیه، بالښت.) | ۲۳ | ۱۵ |
| دړی | (خندا، نا مناسبه توقی، مسخره کول.) | ۱۱ | ۶ |
| زړه‌پرپوښتی کول | (ارامول، ډاډه کول) | ۶۹ | ۸ |
| زیرمه | (غمخواري، پاملرنه) | ۷۵ | ۹ |
| سوایی(خور) | سود (خور) | ۷۵ | ۹ |
| سوتونه | (فریادونه) | ۲۰_۱۲۱_۱۲۲ ... | ۴_۱۸_۴ |
| سور | (دچاپو دچنبلو غږ، دچایو دچنبلو د غږوپ آواز) | ۴۰ | ۱۱ |
| سوک وهل | (پرینگ وهل، فق‌فق‌کردن) | ۶۷ | ۱۱ |
| سوکه | (ورو، قرار، آرام ) | ۵۸_۵۲ | ۱_۱۶ |
| سوهان | (مراعات) | ۱۰۹ | ۱۷ |
| سیک | (قوت، توان ) | ۶۲_۶۴ | ۹_۷ |
| شخول | (شورماشور، هیاهو، زوږ) | ۲_۱ | ۱_۱ |
| شناوی | (توره شنه ږیره، می وریجی ږیره) | ۱ | ۷ |
| شوپه‌شو | (خوره وره، تیت وپرک، شیند پرشیند) | ۳۶ | ۱۳ |

| لغت | معنی | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| ښيلي | (بد عمله، عاق شوي) | ۵۰ | ۱۱ |
| غاړه باسل | (قرض اداکول، پوروړکول) | ۱۰-۷۰ | ۱۰،۱۷ |
| غريب ياغريو | (دنا کامی ژړا، افسوس اوژړا په‌پته پته دزړه ډکيدل) | ۲-۶۸ | ۱۸-۱۵ |
| کالخواي | (واکمن، خيرخوا، ولی او سرپرست.) | ۳۹-۱۰۰ | ۴-۴ |
| کبډي | (ديوي لوبې نوم دي) | ۴۶ | ۱۸ |
| کړوپش | (کټه پيش، ترينګی) | ۹۶ | ۴ |
| کوټی | (سر، ککره) | ۹۶ | ۴ |
| کونډري | (دسترخوان) | ۶۴-۶۵-۱۰۳... | ۵-۱۱-۱... |
| ګدلــی | (پينه شوي جامه، زوړ لباس، زړه اوځيري شوي خرقه) | ۲۴ | ۱۱ |
| ګډوه | (ميسی لوښی، کوزه، لوټکه) | ۶۲ | ۱۷ |
| ګزياري | (ګونډي، دغنموميده‌شوي وزي) | ۸۸ | ۱۸ |
| ګوډانه | (جيب، بغل جيب، ګوډي، انبانچه، ځولی) | ۳۰ | ۱۷ |
| لاس سره | (حق الزحمه، شکرانه، دمرستی بدل) | ۳۲ | ۴ |
| له‌بيابانه‌ساتل | (له‌بهره ساتل، له‌بهرنی دښمنه ساتــل) | ۶۶ | ۱ |

| لغت | معنی | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| ماره | (مساله، موضوع، غنیمت، ښکار، لوټ، تاراج) | ۵۸ | ۱۷ |
| ماغوت | (ورین تهوکر، بخمل ته ورته یو ډول تیکه) | ۳۳ | ۱۰ |
| مظلمه | (گناه، داد خواهی.) | ۱۲۷-۷۰ | ۱۴-۸ |
| ملونه | (واگی) | ۲۶-۴ | ۱۳-۱۶ |
| موټ ښه کول | (ډیره استفاده، گټه کول) | ۸۳ | ۱۰ |
| موټ کول | (خپل مطلب تر لاسه کول، لاس ښکل کول.) | ۴۵ | ۱۳ |
| مول | (نمبوزك، تربوزك، دپگړي په شلمه خوله پټول) | ۱۱۵ | ۱۱ |
| نهام | (پټ، له نظره غایب) | ۷ | ۶ |
| وکر | (ښه، څیره، قیافه، رنگ، وضع) | ۵۸ | ۱۴ |
| ویره | (هواره، خوره، ارته، پراخه) | ۵۹ | ۱۶ |

B8

# سمون لیک

| گڼه | ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | وایې | وایي | ۳ | ٦ |
| ۲ | وه | و | ٥ | ۷ |
| ۳ | دي | دی | ۹ | ۱۲ |
| ٤ | خراتو نه | خیراتو نه | ۱۲ | ۳ |
| ٥ | بې بختې | بې بختي | ۱٥ | ۸ |
| ٦ | دي | دې | ۱٦ | ۱٥ |
| ۷ | غوړځی | غوړځې | ۱۷ | ۱۰ |
| ۸ | هوسایی | هوسایې | ۱۸ | ۸ |
| ۹ | دی | دي | ۲۰ | ۱۰ |
| ۱۰ | څنګوانبی برابر کړې. | څنګوانبي برابر کړي. | ۲۳ | ٦ |
| ۱۱ | لومړی دې | لومړی تر ې | ۲۳ | ۸ |
| ۱۲ | څنګوانښ | څنګوانبي | ۲۳ | ۱٥ |
| ۱۳ | وړتېول | ورتېول | ۲٥ | ۱۲ |
| ۱٤ | ها !هاما ! | هاها ! | ۳۲ | ۱٥ |
| ۱٥ | وایې : | وایي : | ۳٤ | ۱۲ |

| گڼه | ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|---|
| ١٦ | او یې و یل : | او و یې و یل : | ٣٥ | وروستۍ کرښه |
| ١٧ | مسئله | مسله | ٣٧ | ٣ |
| ١٨ | لیدلی ي | لیدلی وي | ٣٧ | وروستۍ کرښه |
| ١٩ | نه هغه | ته هغه | ٣٩ | ١٢ |
| ٢٠ | حافظه نوکی | حافظه مي نوکی | ٣٩ | ١٧ |
| ٢١ | وه | و | ٤٠ | ١٠ |
| ٢٢ | کلي | کلي | ٤٠ | ١٥ |
| ٢٣ | شو | شو و | ٤٨ | ٩ |
| ٢٤ | و نه وینې | و نه وینې | ٥٠ | ٢ |
| ٢٥ | درسره | ورسره | ٥١ | ٩ |
| ٢٦ | بیښ | پیش | ٥٢ | ٨ |
| ٢٧ | بزگروه | بزگرو | ٥٨ | ١٢ |
| ٢٨ | ستاسې خوښه وي. | ستاسې خوښه وي... | ٦١ | ١٥ |
| ٢٩ | مسئله | مسله | ٦٢ | ٣ |
| ٣٠ | خواشنۍ | خواشینۍ | ٦٨ | وروستۍ کرښه |
| ٣١ | و وایې | و وایي | ٦٩ | ٩ |
| ٣٢ | تنبوني | تومبوني | ٧٠ | ١٤ |
| ٣٣ | تنبلو | تومبلو | ٧٠ | ١٤ |

| گڼه | ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|---|
| ۳٤ | وحیژي | وخیژي | ۷۱ | ٥ |
| ۳٥ | منځګړتوب | منځګړتوب | ۷۱ | ۱٥ |
| ۳٦ | غابن | غابنی | ۷۲ | ۳ |
| ۳۷ | لوبزي | لوبیږي | ۷٥ | ۱۰ |
| ۳۸ | ګرځو | ګرځوم | ۸۲ | ٥ |
| ۳۹ | کوردې ودان : | ـکوردې ودان، | ۸٦ | ۲ |
| ٤۰ | دغه منه‌دی | ـدغه‌منه‌دی | ۸۷ | ۱ |
| ٤۱ | موزخوله چاځخه | ـموږ خوله‌چاځخه | ۹۱ | ۲ |
| ٤۲ | زه‌پخپله | زه به پخپله | ۹٤ | وروستۍ کرښه |
| ٤۳ | هیروه | هیرو | ۹٥ | ۷ |
| ٤٤ | ملکونه‌خوځوي | ملکونه خرځوي | ۹۷ | ۱٥ |
| ٤٥ | صاحب | ملاصاحب | ۹۹ | ۸ |
| ٤٦ | پښیمانه وه | پښیمانه‌و | ۱۰۲ | ٤ |
| ٤۷ | ښې ځرشې | راشې درشې | ۱۰٤ | ٥ |
| ٤۸ | غوږ درلود | غوږ درلودل | ۱۰٥ | ٥ |
| ٤۹ | ګڼې | ګڼي | ۱۰۷ | ٦ |
| ٥۰ | ارمیزي یې کښل | ارمیزي یې کښلې | ۱۱۰ | ٦ |
| ٥۱ | یوې یې | یوې | ۱۱۰ | ۱٤ |

| گڼه | ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|---|
| ٥٢ | ددوی دنیا | ددوی پر دنیا | ١١١ | ١٦ |
| ٥٣ | شرو | شروع | ١١٥ | ١٧ |
| ٥٤ | نړی | نړۍ | ١١٧ | ١ |
| ٥٥ | خولې لگوي | خوي لگوي | ١٢٣ | ١٤ |
| ٥٦ | څرکي | بڅرکي | ١٢٤ | ١٠ |
| ٥٧ | پیښیمانه | پښیمانه | ١٢٧ | ٢ |
| ٥٨ | واخلی. | واخلئ. | ١٢٧ | ١٢ |
| ٥٩ | بیابې | بیاییې | ١٢٨ | ٣ |
| ٦٠ | معلو میزې | معلو میزي | ١٢٨ | ٤ |

**یادونه:** په دې درانه اثر کې فعلي ثقیله (ئ) په اکثرو ځایو کې داسمي ثقیلې (ۍ) په شکل راغلې ده. هیله ده چې د گرانو لوستونکو به دغې تیروتنې ته پام وي.

PROPERTY OF ACKU
3/698

# spin

*by*

## nur muhammad tarakay

*The Academy of Sciences of Afghanistan*

*1978*

ACKU
PK
6816
495 ت
1357

دبنوونی اوروزنی مطبع